د ترکلاني قبيلي تاريخ



تحقيق وترتيب :- مطيع الله خان

د کتاب پيژندنه

د کتاب نوم :ـ د ترکلاني قبيلي تاريخ

وړمبے چاپ: ستمبر 2024ء

مرسته کونکے:ـــ فريدالله خان فريد

تحقيق وترتيب ، کمپوزنګ :مطيع الله خان

مطيع الله خان ايم اے(ايم ايډ) سجبڼ مټه سوات

بسم الله الّرحمن الرحيم

يادښت

په څلورم ټولګي کښې مو لوستلي وو چې تاريخ د تېرو وختونو کړه وړه بيانوي يعنې هغه څه چې مونږ پرې پوهيدو ته ضرورت لرو او هم دا شان د اورېدو ترې يو ورځخه خبردے وي زمونږ په تير تاريخ پوهېدل د راتلونکي نسل لپاره د سرو زرو غوندې ارزښت لري ځکه تاريخ يواځې د قهرمان انو سر ښندنې نه بيانوي بلکي ددې ترڅنګ د تاريخ په لوستولو لوستونکي خپل ورک ځانونه پېدا کوي دغه تاريخ دے چې زمونږ شجره له آدمه تر دې دمه رارسوي-

تاريخ ليکونکو مو په دغه برخه کښې بې ساريه خدمت کړي خپل خوبونه يي په ځان حرام کړي او حتی' په مياشتو مياشتو اوږدې لارې يی وهلې وي تر

څو هغه څه ته ځان ورسوي چې د آينده نسلونو ارمان او غوښتنه وي -

هم دارنګه زمونږ د مشرانو سربښندنې او قربانۍ يې مونږ او نړيوالو ته د لمرغوندې روښانه کړي دي او همدا شان د هغو خلکو لاس ته راوړنې او قربانۍ يې د خپلو ليکنو برخه ګرځولې چې د هيواد او ولس لپاره يې کړي-

په پښتنه سيمه کې د ډيرو لرغونو زمانو تر نن پورې ډير غيرتي او بانګه قومونه او همداشان پاک او سپيڅلي قهرمانان تير شوي دي چې د هغوی د ژوند د بهيرکارنامو او لاس ته راوړنو او په هغې پوهيدنه مونږ او زمونږ راتلونکو نسلونو ته ډير اړين تماميږي-

په دغه اړه له پخوا ترننه زموږ قلموالود ځينو قومونو او قهرمانانو سربښندنی او همداشان لاس ته راوړنې يادې کړي او ستايلي خو هغه څه چې په دغه اثر چې ستاسو په لاس کښي دے زه به يې يو څو مهيم سر ليکونه تاسو ته ووايم-

په ياد اثر کې د ابراهيم خيلو تاريخ ، اسماعيل زو تاريخ، بهادرشاه خيلو، سالارزي قوم تاريخ ، د شمه

خيلو تاريخ، مست خيل تاريخ،مته خيل تاريخ، د ترک بابا تاريخ ، او همداشان د mamوند بابا تاريخ روښانه شويي دي که څه هم ما له مطيع الله خان سره تر نزدې هم نه دی کتلي خو کوم خدمت چې د دغه کتاب په ليکلو سره ترسره کړې له زړه ترې خوشحال يم که ژوند وو يوه ورځ به ورسره ترنږدې هم وګورم ځکه دعا مې هم داده چې داسې با احساسه او خدمتګار خلق دي لا ډير شي چي د وطن او قام دپاره ژوندي تاريخونه وليکي او قام ته وړندي کړي - قلم يي روان او په ژوند يی برکت شه ـ

ليکوال ;الحاج محمد عارف ماموند لوې باجوړ کاکازی ترکانی

<u>سريزه</u>

تاريخ په اصل کښي د تيرې زمانې د خلقو د حالاتو او واقعاتو مجموعه ده چي د دي نه پرده اوچته وي او د موجوده وخت خلقو ته يي وړاندي کوي يعني کوم څه چي د موجوده خلقو د نظر نه پټ وي تاريخ ليکونکے دا کوښښ کوي چي داسي قسمه خبرې په اصل شکل کښې خلقو ته وړاندے کوي د کوم حالاتو

چي اولس ته ضرورت وي چي يو ګران کاردے خو چي پۀ دې نوي دور کښي ځوک هم داسي قسمه خبري کوي يا ليکي نو خلق ورته ليونے وائي خو تاريخ ليکونکے د قام په درد خپل آواز د قلم په ذريعه خلقو ته وړاندے کوي-

تاريخ ليکل يو ګران کار دے- ځکه چي په اوسني وخت کښي خلق مخ په ترقۍ روان دے - چي يو قسم د روپو د مشين غوندې ژوند دے او تېر وخت ته هېو ځوک توجو نه ورکوي - په دنيا کښي داسي ترقي يافته قومونه شته چي واپس خپل تاريخ ته تلې دي او اوس هم د پيژنګلا او يا د قوم د وحدت دپاره د خپلو نومونو سره د قبيلي نوم شاملوي - دغه رنګ ډير مشران د حال نه خفه او په تير وخت پسي لکه د مچ منګولې مروړي - چي دا واقعات او حالات يو ليکوال خپله مشغله جوړه وي او موجوده خلقو ته يي وړاندي کوي - زما دا کوم ليکل چي دي دا ما په ډير کوښښ ليکلي دي او دا مي يوه اراده کړي وه چي په خپله قبيله باندي څه نه څه ليکل وکړم - ولي چي يو تاريخ ليکونکي لا تروسه په دي قبيله پوره ليکل نه دي کړي ما چي په ترکلانو کوم ليکل وکړل شايد چي زما قبيله ترينه مطمينه وي يا نه وي خو ما څه حده پوري خپل کوښښ کړے دے او د ترکلانو تاريخ

مي راجمعه کړے دے۔ چي په دي باندي به د ترکلانو د يوبل سره پوره شناخت اوشي ـ ځکه چي خوږ نبی صلي الله عليه وسلم ارشاد مبارک دے چي مفهمي ترجمه يي داسي ده او د علامه بن خارجه نه روايت دے۔ چي نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي د خپل نسب علم حاصل کړئ ـ چي د هغي په ذريعه به تاسو د خپلو رشته دارو سره صله رحمي وکړئ(طبراني،جمع الزوئد)مطلب دا چي ذات يا نسب صرف د صله رحمي او د پيژنګلو دپاره دے نه چي په خپل ځان فوقيت پکاردے۔ د دے په باره کښي دالله پاک ارشار مبارک دےچي"اے خلقو!مونږتاسو د يو سړي او د يوي ښځي نه پيدا کړي ـ او تاسو يو په قومونو او قبيلو کښي وګرځولي دي دپاره چي تاسويو بل اوپيژني او د الله په نزد عزت والا هغه څوک دے کوم چي زيات پرهيزګاره دے"

خو بعضي خلق د علم د کمي په وجه ديوې قبيلې په ځائےځان د بلې قبيلې سره شامل کړي چي خپل تحقيق ونه کړي او په ناپوهۍ کښي ترينه دا غټ ګناه اوشي چي په دي باندې کفر ته رسي خوږ نبی صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي د حضرت سعد بن ابی وقاص نه روايت دے چي "چا خپل نسب بدل

کړوحالانکه چي هغه ته علم وو چي دا زما ذات نه دے نو په ده باندې جنت حرام دے(بخاری وملسم)مطلب دا دے چي د داسي قسمه کارونو نه ځان ساتل پکار دي ولي چي دنیاوي ګټه په کښي نشته او د اخرت لوي تاوان دے۔

دترکلانو تاریخ یوه پټه خزانه ده ـ خو افسوس په دي خبره پکاردے چې کوم مشران چې د ترکلانو وو هغه اوس د دې فاني دنیا نه رخصت شوي دي ـ او کوم د ذوق خلق چي پاتې دي هغوي د ترکلان بابا تاریخ له څه توجو نه ده ورکړي ـ

زه مطیع الله خان چي په قوم ترکلانے او په ترکلاني کښي سالارزے او په سالارزو کښي شمه خیل یم چي د بابړي باجوړاو اوس په مټه سوات سجبڼ کښي خپلي ورځي شپي صبا کوم ـ زما شجره ملک شمو خان ته څه داسي رسي لکه مطیع الله خان بن محمد فهیم خان بن محمد دوست خان بن صحبت خان بن سادات خان بن لمیل خان بن عبدالله خان بن قارخان بن آمیر خان باجوړ بن آمیر الله بن آمیر عبدالله خان بن ملک سرخابي بن ملک شمو خان بن احمد الدین بن رکن الدین بن الیاس سالارزې بن موسی بن ترک بن خابني یا شیخا بن قند بن خرشبون بن سړبن بن قیس

عبد الرشيد چي زما سره دا فکر پيدا شو چي ماته د تاريخ يو څو ټکي ياد دي ولي نه چي زه د خپلي قبيلي دا تاريخ وليکم چي دراتلونکي نسل له پکار راشي ـ نو د دي مقصد دپاره ما د کنړ،باجوړ،دير او د سوات د ترکلانو مشرانو سره مشوري وکړي او د دوي نه مي د ترکلان بابا تاريخ اخذ کړوچي دي مشرانو زما په هر وخت کښي حوصله اوچته کړے ده ـ چي زه دا کار سر ته ورسوم ـ چي په دي تاريخ ما په مارچ 2023 ء کښې کار شروع کړواو د ترکلانو تاريخ مي جمع کړو۔ کوم چي ستاسو د نظر وړاندے دے۔

د تاريخ مطلب يووالے او د قام سره مينه ده ـ دغه رنګ د ترکلان بابا نه لاندې ډيرې قبيلي ژوند کوي ـ او مونږه په خپله قبيله باندے فخر کوو ولي چي د قيامت پوري به مونږه په دي ياديږو اوس دا زمونږ شناخت دے ـ

د ترکلاني قبيلي تاريخ

ترکلاني،يوسف زي، رودباري اوګګياني وغيره چي عموما"په خاښي، خشي يا د خاښي خيلو په نامه ياديږي چي د تاريخ پوهان د دوي اولنےځاے د ايران علاقه چي د خاش، خيش يا د خښي په نامه

يادیږې کړي دي دوي داسي خيال هم کوي چي دا قبيله چي د خاښي خيلو په نامه ياده شوي ده ـ چي دغه ځائےبه د دوي اولنے مسکن يي ـ تاريخ دانان دا هم وائي چي په ايران کښي عصمت آباد نومي ځاے دے ـ هلته يوه چينه وه چي د ايسپيزيا په نامه ياده شوي ده چي د دي سره د يوسف زو نامه ورسره سمون خوري دغه رنګ د ايران اوهلمند په مينځ کښي يوه علاقه د رودباري په نامه یادیږي داسي د تاريخ پوهان پښتنو ته زاړه ايرانيان هم وائي دغه شان څوک ورته ارين، بني اسرائيل، ترکي ،زرتشت وغيره وائي چي لاتروسه څوک هم په خپل تحقيق کښي نه دي کامياب شوي چي ټولو پښتنو ته قابل قبول وي ـ بهرحال دا پټې د ايران، ترکمانستان، کرمان، کوقاف،غور،کڅی،تخت سليمان او هندوکش په نومونو ياده شوي ده ـ چي تاريخي شواهد يي شته ډاکټر جميل يوسفزې د دي په باره کښي داسي ليکي " پشتون سفيد فام لوگ ہيں ـ جن کے خدوخال يوريشاې ہيں ـ ان کا تعلق مشرقی ايرانی لوگوں سے ہے" بل ځاے هير ډويس د دوي په باره کښي ليکي چي"يہ لوگ ترکستان اور مغربی سايبريا سے آئے تھے" بل ځاے شاهد حسن د پيښور د ګوګل په پاڼا خپل بيان د ترکلانو متعلق داسي وړاندي کوي "ان منڈ/گھور کے

آباد ہونے والے قبیلوں میں عمان مانڈ ، "زاب منڈا، ترکلانری شامل ہیں جبکہ دیگر کی واضح طور پر شناخت نہیں کی جا سکتی ہے۔ 650 عیسوی کے لگ بھگ ساسانی اشرافیہ کے گروہوں کے ساسانی مہاجرین نے بھی عرب حملہ آوروں کے ہاتھوں شکست کے بعد مند میں پناہ لی۔13 ویں صدی کے اوائل میں منگول حملہ آوروں نے غوریوں/مندوں اور ساسانی نسلوں کے بڑے حصوں کو بہت سے قتل عام کے بعد مشرق کی طرف بھاگنے پر مجبور کیا اور انہوں نے قندھار کے مشرق میں ابدالی، غلزئی اور ترین کے پشتون قبائل کے درمیان دریائے ارغسان میں پناہ لی جہاں وہ اوور ٹائم کرتے تھے۔ پشتو بولنے والے بن گئے۔

پھر بھی ایک اور ہجرت، جو15 ویں صدی کے آخر میں شروع ہوئی، ان قبائل کو مشرقی افغانستان اور کے پی کے میں لے آئی جہاں مند ہوریان حصے کی نمائندگی مہمند، ماموند، ترکلانری، محمد زئی کرتے ہیں - درحقیقت میونڈی زماند) پہلے زیب ماندہ سے(، مندر یوسف زئی۔ حورین گروپ کے بڑے قبائل (1100/1200BCE) کے قریب

مند/غور میں آباد ہوئے)۔چنانچہ ترکلانری ایک بڑا پشتون قبیلہ ہے جو آج باجوڑ میں آباد ہے اور مشرقی افغانستان کے صوبہ کنڑ میں بھی موجود ہے"۔

دے حوالو نه مراد زمونږ دا دے چي د ا ترکلاني قبيله به هم د ايران د خاش نه اول ترکستان ته راغلي يي او دوي به بيا روستو د کرّم ايجنسئ علاقے ته راغلو۔

تواريخ حافظ رحمت خاني کښي په ايران کښي د پښتنو د شتون په حقله خپله وينا داسي کوي" ایرانی تاریخ کا ایک عظمت باب ساسانی عهد سے شروع ہوتا ہے جو چار سو چھبیس سال تک قایم رہا ۔ اس کی شہرت کےڈنکےاطراف عالم میں بجتے رہے۔ ساسانی عہد کا موسس اردشیرہے۔ جس کاشمارایران کے عظیم بادشاہو میں ہوتا ہے اتش پرستوں کے موھدہرڈویس اشکانیوں سے سخت ناراض تھے۔ ان کی دلجوئ کے لیےاردشیرنےمذہب اتش پرقایم رہنے کی اجازت دےدی ۔ اوراشکانی شہزادوں اور افغان امراء کو موت کے گھات اتاردیا ۔ بعض جو بچ گیے بین النہر'ہنداورافغانستان کی طرف چلے گیے" ۔

اوس دا علاقے ئي ولي نظرانداز کړي چي په دي غور او خواوشا علاقو باندے افغانان اوسيدل چي په زوړ دين باندے قائيم وو ۔

بل ځاے سراولف کيرو په خپل تصنيف" پټهان" کښي ليکي چي ترجمه يي سيد محبوب کړي ده ۔ "کہ جن عرب فوجوں نے642 ء میں نہاوند کے مقام پر ایران کے ساسانی خاندان کا تختہ الٹ دیا تھا ۔ اس کےساتھ مسلمان مبلغ بھی ہوں گے۔ یہ عرب فوج ساتوساتویں صدی کے اخر تک عرب جنرل قطیبہ کے قیادت میں فتوحات کرتی ہویۓ اور دین پھیلاتے ہوئی ماوراء النہر تک چلی گیۓ تھے۔ درحقیقت افغان علاقہ نظرانداز کردیاگیا۔

د معلوماتو ترمخه بعضي قبيلي ترکستان ته تلي وي چي بيا دا د بدرالدين قبيله د منګوليانو د لاسه چي هغوي د ترکلانو سره په نورو پښتنو د ظلم په وجه د دي ځاے نه شړونتيا کړي وه ۔ چي يوسف زي ،ګګياني د افغانستان په لوري او ترکلاني اول د ترکستان په لورې او بيا کرّم ايجنسئ ته لاړو۔ چي دلته ورله بنګش قوم پناه ورکړه او د ترکستان وطن په وجه په ترکماني، ترکي،تارکي،تورکان، ترکلاني

ترکانړې په نامو باندي ياد شول ـ چي تاريخي شواهد يي شته ـ د دوي متعلق سراولف کيرو وايئ"

" ترکمان ایک عرصہ تک بالائی کرم پر قابض رہے چنانچہ اس علاقہ میں اور اس کے اس پاس ابھی تک بعض مقامات ترکی ناموں سے پکارتے جاتے ہیں ۔ ننگرھار میں پیش بلک "پانچ چشمی" اس کی واضح مثال ہے۔ چې دلته پنځه چېنې وې چې ماموند، وړ ماموند ،سالارزي، عېسوزې او اسماعيل زې په دې چينو آباد وو ـ دے وائې چې ترکلاني يوه پښتانه قبيله وه چي په کرّم ايجنسي کښي ديره وۀ چي بيا د دې ځاے نه د ننګراهار په لوري تلي ده او هلته ورکه ده"مراد علي خان شمه خيل د سوات شوخدړي نوره هم زياته وي چي دوي له په کرّم کښي شيعه قوم پناه ورکړي وه خو روستو دوي د شيعه اوسني په مسّلو کښي اخته شونو خبره ډير حده پوري ورانه شوه او يو قامي جنګ ترينه جوړشواونزدي وه چي په يوبل حمله وکړي" ـ

د ترکلاني قبيلي مشرانو ماموندو وړماموندو ، سالارزو، عيسوزو، اسماعلزو خپله يوه مشوره اوکړه چي په دې شيعه قوم باندي حمله کوؤ او دوي د دې ځاے نه بې دخل کوؤ۔ او په دي طاقت کښي ووهم

ځکه چي د ترکلانو خواته وزير،مسعود هم ووچي هغوي هم سنيان وو۔ چي د وزيرستان په علاقه کښي اوسيدو ۔ اودي ترکلانو ورسره ځوځو واري مرستي کړي وي ۔ بيا د دوي عقيده هم يوه وه چي دي ته به يي د پکتيا(پخت)علاقه ويله چي اوس هم ترکلاني په وزيرستان کښي شته نو د جرګي ډيرو مشرانو دا خبره خوښه نه کړه ۔ اوجرګي ته يي اوئيل چي کوم سړے تاله پناه درکړي اوته بيا د هغه خلاف فوځ کشي کوې ۔ نو دا خو پښتنوالے نه نشو بيا د جرګي مشرانو دا فيصله اوکړه ۔ چي مونږ به د دي ځاے نه به بره لاړشو او د سروکافرونه نه به دا علاقه په زور ونيسو۔ چي په دي باندي دُعا امين د خير اوشوه اودغه رنګ ټوله قبيله د دي ځاے نه لاړه پکتياته او د کافرو سره يي جهادونه شروع کړل چي ډير ترکلاني په کښي شهيدان شول خو په لږ وخت کښي ډيره علاقه يي د دي کافرونه وزګاره کړه اوهغوي يي ترهندوراج او بامېانه پوري وتمبول او دغه شان ترکلاني تر ننګرهاره پوري ورسيدل چي په دغه وخت کښي به يي دي علاقي ته د خراسان علاقه وئيله چي هلته يوځل بيا د خپل نسبيانو خاښي خيلو سره ميلاو شول ۔ چي اوس دوي د پاکستان،افغانستان ،هندوستان په بيلا بيلو سيمو که اوسيږي ۔ د خاښي

خيلو په حقله د تاريخ پوهان وائي چي د کرمان جنوب مشرق کښي يوغر وه چي په شپږمه صدئ کښي(بلوص) بلوچ اوسيدل او په بله حيصه يي خاښي خيل يعني ترکلاني،يوسفزي او ګګياني اوسيدل اوورسره دا هم وائي چي دا ډير دنګ دنګ غرونه دي چي په هر غرباندي جُداجُدا قبيله اوسيده ـ او دهري قبيلي به خپل سردار/ مشر وو- چي د هغه په نوم به دا ټوله علاقه ياديدله ـ بيا داسي هم وائي چي په دې علاقه کښي يوه بله وادي وه چي د منوقان اوداسي بله علاقه به د زامان په نامه يادېده ـ اوس دا خيال کولے شي چي دا افغانان به په مزه مزه دي علاقو ته راکوز شوي وي سراولف کيرو چي د ترکلانو په ننګرهار کښي د ورکيدو خبره کوي نو داخيال کيدي شي چي دوي به دغه د خاښي خيلو پسي بيا تلي يي او د خپل د نسب د خلقو سره به ميلاو شوي يي ځکه چي په دي علاقه تر د باميانه پوري کافر اوسيدو چي باميان بيا روستو د ټولو هنوانو غنټ مرکز پاتے شوے دے ـ

پښتانه چي په کومه علاقه کښي اوسيدل چي ټولو پښتني قبيلي د قيس عبد الرشيد په سربراهي کښي د غور په غرونو کښي اوسيدل ـ چي قيس الرشيد د ټولو مورث اعلي ګڼلے شي نه چي د ټولو پښتنو پلار

دے قیس اعزازي مشر دے چي قبر مبارک یي د تخت سلیمان په غرونوکښي دے بیا پښتانه چي په کومه علاقه کښي اوسیدل هغي ته به یي د کوه قفص، کوه قاف ،تخت سلیمان یا د کڅۍ غرونه وئیل او بیا د دي خبري نه هم اندازه لګي چې د سلطان بهلول وفات په ٥٩٤ خواوشا کښي په جلال آباد کښي شوے دے او د پټي خزاني مطابق شیخ حمید چي خپل ورارۀ یي د کڅۍ غرونوته په ٦٥٦ء کښي لیږلے وو۔ چي شیخ حمید د ملتان باچا وو۔ او ډیر خلق یي مسلمانان کړي وو ۔ اوس په ډیرو روایاتو کښي راځي چي پښتانه د اول نه په خپل زوړ دین وو۔ چي هغے ته نظریه بني اسرائیلي وئیلي شي خو اوس مختلیف محقیقین خپلي جُدا جُدا نظري وړاندي کوي چي لا څوک هم حقیقت ته نه دي رسیدلي ۔ او که رسیدلې هم دې خو د یوبل سره د اختلاف په وجه د بل صحیح خبرے ته تېار نه دې ۔

پروفیسر انور زمان په خپل کتاب" پشتونو کی تاریخ "کښي لیکي چي"محمود غزنوی کے دور میں ہی افغانو کا نام من حیثیت القوم پہلی دفعہ منظر عام پر ایا جوغزنی اور کوه سلیمان کے درمیان کی پہاڑو میں اباد تھے"

د دې ټول بحث نه دا معلومه شوه چي ترکلاني په اصل کښي د خاښي خيلو يوه لويه څانګه او بيا د سړبن ذيلي ښاخ دے ـ چي دوي په افغانستان کي په کنړ، او په پاکستان کښي په لويه سطحه په باجوړ، دير کښي او په وړه سطحه په سوات ،مردان ،پنجاب، کراچی،هندوستان او داسي د وطن په بيلا بيلو ځايونو کښي شتون لري ـ د افغانستان په تير تاريخ که مونږه ژور نظر واچو نو د خاښي خيلو خپل وطن قندهار سره نږدي د ارغستان د غونډي سيمه ده چي د ترکلانو په متلونو کښي اوس هم دا مشهور متل دے چي"دا څه ارغستان خو نه دے چي ته به خپله من ماني کوئی" ـ بهر حال دا علاقه د غوړي مرغۍ په نامه ياده شوي ده ـ چي محمد عارف کاکازي مرووره وائي چي د غوړي مرغي مطلب د" شين باغ دے"او زما نيکه محمد دوست خان به وئيل چي مونږه د غوړي مرغي سور کمر نه راغلي يو دا خاښي خيل چي د کوم ځاے نه راغلي وو هغه ډيره شنه او زرخيزه علاقه وه ـ چي د سرو زرو مرغي يا غوړه مرغۍ به يي ورته وئيله ـ

خاښي خيلو هميشه د جهاد بالله دپاره هجرتونه کړي دي نو داسي معلوميږي چي دوي د افغانستان او بيا د پاکستان په مختليفو سميوکښي شتون کړي دے ـ

د ترکلانو اوبيا د خاښي خيلو متعلق اخون درويزه بابا په خپل کتاب" تذکره الابرار اشرار"کښي ليکي چي" د شيخايا خاښي دوه ښځي وي چي د يوي نوم مرجانه او د بلي نوم بسو وۀ ـ د مرجاني زامن يوسف اومندڼ دي او د بسو ځوي ترک يا ترکلانے دے چي اولاد يي په باجوړ اوپه نورو ځايونو کښي اوسيږي "اخوند درويزه د اوسني تاريخ دانانو نه وړاندي تيرشوے دے چي په لکهونو خلق د هغه د تاريخ منونکي دي او زمونږبعضي رونړه ورته وائي چي هغه نه خطا شوے ده ـ چي په اصل کښي ترکاڼي لفظ دے۔ نو په هغه زمانه دومره لوې محقيق په دي کښي څنګه غلط کيدے شي خوپه اصل کښي د محقيق او د عام سړي په سوچ کښي ډير فرق يي محقيق د يوقوم قبيلي اصل تاريخ اوخپل تاريخي نوم ليکي خوبهرحال د هرسړي خپل ذاتي سوچ اوذاتي خيال يي ډيرو تاريخ دانانو د ترکلانو متعلق څه نه څه ليکي دي خو تروسه پوري پري چا هم باقاعده ليکل نه دي کړي ـ

اوس دا بحث ضروري دے چي ترک بابا څوک وو۔ او د ترک بابا شجره د کوم ځاے نه شروع شوي ده او اوس يي اولادونه په کوم کوم ځايونو کښي استوګن دي او د يو ترک بابا نه څومره قبيلي جوړي شوي دي او کومو داسي ځوانانو په کښي د پښتو په

دور کښي د قبيلي او د وطن دپاره مړاني کړي دي د هغوي متعلق به د تاريخ په نظر سرسري بحث کوو چي وړاندي خلقو ته د خپلي قبيلي د مړانو پته ولګي ـ نو د ترک بابا خپل نوم بدرالدين تورک وه چي د ترک بابا دا قبيله د خاش ايران نه د ترکستان او د ترکستان نه د کرّم ايجنسي په لور راغلي وه ـ د بدرالدين ترک دغه اولاد د ترکستان په وجه د تورک، ترکي اوبيا د ترک،ترکلاني يا ترکاڼي قبيلي په نامه ياده شوي ده لکه څنګه چي تاجک چي تاجکستاني، جهانګيرخيل، بابيان، تاران، نادرخيل، وغيره د سوات په وجه د سواتيانو په نامه ياد شوي دي او دا هم کيدے شي چي د ترک بابا رنګ تور وو نو د تورکي په نامه ياد شوے يي چي بيا روستو د تورک ،ترکرکے او ترکلاني نه ترکلاڼړي جوړ شوے وي ـ خو په اصل کښي د لفظترکلانے دے نه چي ترکاڼړے دے خو د وئيلو سره د ترکلاني نه ترکلاڼي جوړشوے دے ـ او دا خو د پښتنو يو لوي رواج دے چي هر ځاے يي " نه 'په" ڼه " بدل کړے دے ـ چي وکيل خيرحکيم حکيم زي د سوات ورته د ژبو يو عام قانون وائي ـ

مولانا خانزيب چي د تاريخ باجوړ مصنف دے هغه په خپل کتاب" باجوړدتاريخ په رڼا" کښي ليکي چي د بدرالدين ترک پيدائيش په کال646 هجرى کښي شوي

دے بل ځائےمولانا خان زيب په خپل کتاب "باجوړ د تاريخ په رڼا کښي " کښې ليکي چي ترکانړي د عيسی' عليه السلام نه هم وړاندے قبيله ده ـ دغه رنګ لطيف ياد وائي چي د ترکلانو اصلي وطن د کندهار ارغستان سره نزدي د غونډان غره په خواوشاء علاقے کښي اوسيدل" ـ

چې تاريخ دانانو د قيس عبدالرشيد بابا د وخت نه حساب کړے دے خو ماته داسي نه ښکاري ولي چي خاښي خېل ډيره زړه قبيله ده او د قيس وخت د څوارلسو کالو پوري جوړيږي او بيا په دومره لږ وخت کښي د خاښي خيلونه دومره خلق پيدا کيدل دا دعقل نه بالاتره خبره ده ولي که مونږه اوګورو نو په هغه وخت کښي به د خلقو دومره اولادونه نه کيدل بل جنګونه به وو۔ وباګانے به وي اکثر به ډير خلق په جنګونو کښي مړه شول ـ او داسې وباګانےبه وي چي په تير وخت کښي زما په کلي کښي په يو ورځ دوه سوه تاجک وفات شوي وو چې د شنډو بڼ په مقبره کښي ښخ شوي وو ـ

اکثر محقيقينو ترکلاڼي په ترکلانو ياد کړي دي چي يوتاريخي نوم او تاريخي قبيله ده چي بابر غوندي يو باچا په خپل کتاب تزک بابري کښي ليکي چي"په

باجوړ کښي زمونږه لاره بل چا نه وه نيولي صرف ترکلاني قبيله وه چي زمونږه لاره يي نيولي وه او د غرونو په سرونويي مورچي جوړي کړي وي او زما فوج ته يي د جنګ اشاري کولي "چي دا يوه يويه بهادري وه چي د مغل فوځ لاره نيول اوبيا هغوي ته د جنګ دعوت ورکول چي په دغه وخت ترکلانو د مورا په غره باندي مورچي جوړي کړي وي چي دا غر په ماموندو کښي دے ۔

د تاريخ د معلوماتو ترمخه د ترک بابا شجره مختليفو محقيقينو داسي ليکلي ده چي ترک بن خاشي(خاښي يا شيخا)بن قند/کند بن خرشبون (خيرالدين)سړبن يا سرابن بن قيس عبدالرشيد چي د خاښي خيلو د قبيلي او بيا چي د سړابن يا سربني قبيله ورته هم وئيلےشي چي يوسف بابا د ترک بابا واره وۀ ۔ او داسي ټول تاريخ دانان په دي خبره متفيق دي چي د خښي دوه ښځي وي چي بسو اومرجانه وه د مرجاني نه دوه ځامن ووچي مکاه او مند يا مدے بيا د مکاه دوه زامن وو چي ګګيانے او رودبارے وو او د مند نه عمر اويوسف چي عمر او يوسف دواړه د ترک بابا وريرونه دي ۔ د ګمنام رياست مصنيف سليمان شاهد په خپل کتاب کښي ليکلي دي چي" وادی ميدان کےتورالعلی ملک کے مطابق ترکلانی کامطلب بڑا

چچا(مشر تره)ہےجن کی اولاد بڑھتے بڑھتے خشی کے چار قبائل میں سے ایک قبیلہ بنی۔

د يوي اندازے مطابق ترکلاني شل لاکه نفر لري چي دوې باجوړ، دير، سوات، چمن ،کوئټه، چارسده، وزيرستان،مردان،صوابي،هندوستان،ټونک،کنړ،مرکز ،جلال آباد،پنجاب،بونير وغيره ځايونو کښي شتون لري ـ چي د ترکلانو په باره کښي هدايت الله سوهدروي په خپل کتاب" هدايت افغاني"کښي ليکي چي"کنڑ جانے کوبھی یہاں سے راستہ قریب سہل تر ہے مٹائی اور درہ سوران اوائل میں ترکلانی قوم کے پاس تھے انھوں نے ان دروں بر صافی اور شنواریوں کو زمیندار مقرر کیا ہوا تھا بعد میں مہمندوں نے ہردو دروں پر قبضہ جمالیا۔

خو دا يوحقيقت دےچي ترکلاني په کوم ځاے اوسيدل دي هغه ټول اکثر داسي سيمي ښکاري چي شني او زرخيزي وې اوبل د هغه وخت يوقانون اوبيا يوقسم مجبوري وه چي هرچا به غوا، ميخه، چيلۍ دپيو، تجارت،اود وړی نه د جامو دپاره به ځاروي ساتلو مطلب دا يو قسم کاروبار وو ـ چي د تاريخ مطابق هم داسي ښکاري چي پښتنو هميش د خانه بدوشي ژوند تير کړے دے او بيا د وخت ضرورت وو ـ

د پښتنو د دي سيمو مطابق محمد حيات خان په خپل کتاب“ تاريخ حيات افغاني”کښي داسي ليکي چي”په کومه سيمه کښي ترکلانو ژوند کولو دا يوه غرني اوشنه سيمه وه ـ ده دے ځائے اب وهوا ډيره ښه او زرخيزه زمکه يي هم وه"

وئيلے شي چي د ترکلانو په لغمان کښي د1508 ء پوري خپل ځانګړے رياست ووه ـ خو د مغل باچا الغ بيګ دلاسه د دوي دا حکومت لاړ په سېند لاهو شو او ترکلاني لاړو بې خواره واره پاتي شول ـ د دوي د ختميدو غټه او خاص وجه د ترکلانو د يوسف زو سره مرسته وه ـ چي د دې متعلق بيان به په خپل ځاے راشي نو مرزا لغ بيګ به هر وخت په دي سوچ کښي وه ـ چي څنګه به ځه د يوسفزو نه بعد ترکلاني د دي خاوري نه بې دخل کوم ـ د خدائے کارته ګوره چي په يوه موقع د ترکلانو او د مغلو څه کسان د يوبل سره وران شول ـ چي معا مله جنګ ته ورسيده مغل باچا چي خبرشو نو سمدستي ئي په ترکلانو فوځ کشي وکړه او دوي ئي هېڅ ته جوړ نه کړو ترکلانو پښه ټنګه نه کړه او په تيښته شو د ترکلانو کورونه يي وران کړل نو مجبورا " ترکلانو د لوې باجوړ لاره ونيوله او کنړ اوڅه د ناواپاس په دره باجوړته راغلل ـ مرزالغ بيګ ترکلانو ته يوقيسم

بهانه جوړول وو ـ چي هغه په خپل مقصد کښي کامياب شو او ترکلاني بي دره شو د دوي د هجرت متعلق ما دخپل نيکه محمد دوست خان نه اوريدلي وو ـ چي زمونږ.نيکونه د افغانستان د غوړي مرغي نه د سره کمر لوري ته راغلي وو۔ چي په دغه وخت کښي د ترکلانو مشري ملک مټه خان شمه خيل کوله ملک مټه خان د ګجوخان نه دپناه غوښتنه اوکړه چي د اجازت په ميلاويدو دوي د باجوړ په علاقه قابض شو۔ چي د دي متعلق بابر په خپل کتاب تزک بابري کښي ليکي چي"ترکلانڑی باجوڑ میں کافی فارغ البال تھےاور جندول کے علاوہ باقی باجوڑ پر انہی کا راج تھا بابر نے غلے کے شکل میں ان پر خراج مقرر کیاتھا"۔

بل ځائے فريدالله خان فريد په خپل کتاب"شموخيل څوک دي"کښي ليکي چي"ترکلاني تر1508 ء پوري په لغمان کښي وواوتاريخي معلومات يي شته کله چي په1519 ء کښي ظهيرالدين بابر مغل بادشاه باجوړ ونيولونوترکلاني دلته په باجوړ کښي ديره وو۔

د تاريخ په کتابونوکښي دترکلانو په باره کښي څه نه څه معلومات شته هر تاريخ دان د خپل وس مطابق کوښښ کړے دے چي ليکل يي پري کړي دي خو د

دوه دريو ځلورو پاڼو نه سوا پري څه ليکل نه دي کړےشوي ـ يا خود معلوماتو کمے وو ـ اويا تنګ نظري وه خو اکثر د ترکلانو تاريخ غير خلقو ليکے دے او که خپل ترکلاني تاريخ ليکلي هم دے نو د خپلي قبيلي پوري محدود يي ساتلے دے حالانکه په ترکلانو کښي ډير قا بيلان قابيلان خلق تير شوي دي زما په خيال دا د ټولو پښتنوکمزوري ده چي هغوي خپل تاريخ په خپله نه دے ليکلي اکثر غيرو خلقو ليکلے تاريخ دے دا خو ښه وه چي نعمت الله خان هروي اوکال 1612ء راغلے او د حافظ رخمت خان په وينا ئي دا تاريخ د افغانستان د مشرانو نه راجمعه کړو ـ او خپل د پښتنو يو تاريخ يي وليکو ګني اوس به هم زمونږ سره دا څه نه وو ياخو پښتنو ټول عمر په خانه بدوشۍ کښي اويا خو يي په جهادونوکښي تير کړي دے ـ

په اوسني وخت کښي وخت کښي د ترکلانو اصلي زمکه لوې باجوړ دے ـ چي په کښي باجوړ،کنړاودير څه حيصي جندول ،ميدان او براول شامل دي خو د بده مرغه هغه انګريز چي په 1600ء کښي د تجارت په غرض راغلے وو اوپه کال1857 ءکښې هندوانواو مسلمانانو د دي فرنګيانو مخاليفت وکړو چونکه هندوان او فرنګيان دواړه د مسلمانانو دښمنان

وو نو فرنګي ټول الزام په مسلمانانو واچولو بیا کله چي فرنګے ملاکنډ ته راورسیدو نودوي هغه بدله د پښتنو نه اغستل غوښتل اوځان ته یي د مسقبیل دپاره لاره وزګاره وله چي په کال1901 ء کښي دوي کامیاب شول او د پاکستان اوافغانستان په مینځ کښي د ډیورنډ کرښه راکښوده چي په دي باندي ترکلاني په دوه ځاے تقسیم شو ل ـ او فرنګي د پښتنو په دوه ځاے کیدوکښي کامیاب شول ـ چي ترکلاني به د یوبل کره د ناواپاس اوچاچاګي په لاره تګ راتګ کولو چي اوس د یوکلو میټر په ځاے د تورخم لاره استعماله وي ـ

د تاریخ په کتابونو کښي راځي چي د ترک بابا دوه زامن وو چي د یو نوم موسی اود بل نوم شعیب وو د شعیب اولاد په شب زيِ یا شعیب زيِ یادیږي ـ چي عموماً د افغانستان په سره قلعه،سه صده،لغمان اوننګرهار کښي ژوندکوي ـ اودلته دډیورند کرښي نه راپوري په باجوړ اودیر کښي ژوند تیره وي خواوس دلته د دوي د موسی د اولاد نه جداکول ګران دي بعضي خلق دا هم وائی چي په دیر میدان کښي دوه کلي چي ګمبتي اوبره غونډو کنډو دے چي په دي کلو کښي د شب زي په نامه قبیلي شته اوداسي ګمان هم کیدے شي چي دوي به د موسی د اولاد سره د

باجوړ سيمي ته راغلي وې ـ خو بعضي خلق دا وائي چي دا هغه د شعيب اولاد نه دے بلکه دوي په اصل کښي داسماعيلزي څانګي دي ـ بل زما دا خيال دے چي د شعيب چې کوم اولاد دے هغوي د افغانستان د نورو قبيلو سره ګډوډ شوي دي ـ چي ما ډير تپوسونه وکړو خو د هغه ځائے مشرانو ته په خپله پته نشته ـ او يا دا هم کيدے شي چي د ترک بابا يو ځوې موسى وو ـ او شعيب هسي فرضي نوم وې ـ ځکه چي ټولو ترکلانو ته ئي هډو پته نشته ـ

د تاريخ پوهان دا مني چي ګګياني، ترکلاني، اورود باري ورسره هم په روری کښي شامل دي ـ هم دارنګ خان روشن خان په خپل کتاب"يوسفزی قوم کی سرگزشت،، کښي ليکي" یہ ایک پختون قبیلہ ہے جس کی رہائش نیشکے اور دریائے ہلمند کےجنوبی کنارے"رودبار"نامی قصبےمیں تھی۔ یہ لوگ نسلا "خشی قبائل سے تعلق رکھتے ہیں "۔

په کوم وخت کښي چي الغ بيګ اووه سوه خاښي خيل چي په کښي يوسف زې او ترکلاني شامل ووپه بے دردي سره قتل کړل نو رودباري په دغه موقعه په رودبار نومي سېمه کښي استوګن وو ـ بيا روستو چي ترکلانو لغمان ونيولو نو په دغه وخت کښي د خپل

ځاے نه راغلي وو او د کابل په خواوشا علاقه کښي استوګن شوي وو ۔ خوچي کله په کال1519 ء خواوشا يوسف زي په سوات قابض کيدو نو رودباري د خپل عزيزانو دپاره د کاټلنګ جنګ له تلي وو ۔ چي په کال1540 ءخواوشا د شيخ ملي په ويش کښي ورته حيصه ميلاوشوي وه چي اوس د مليزو سره په ويش ورګډ دي ۔ ترکلانو په دي جنګ کښي ځکه شرکت نه وو کړے ۔ چي په دغه وخت کښي دوي ته د کابل د طرف نه د مغلو دشمني وه حالانکه دوي ته د کاټلنګ د جنګ دعوت ورکړے شوے وو د جرګي مشرانو خپل حفاظت اولنے ترجيح وګڼو ۔ په دي وجه دوي ته به باجوړ کښي حيصه نه وه ميلاو شوي اوبل د لغمان رياست د دوي دپاره کافي وو ۔

اوس راځو د ترک بابا شجرے له ترک بابا له الله پاک ډير اولاد ورکړے ووچي اوس د هر نيکه نه جداجدا قبيله جوړه شوي ده د ترک بابا شجره په اول ځل تواريخ حافظ رخمت خاني کښي ليکي شوي ده چي خپل پوره کوښښ يي کړے دے بيا د دير،سوات او باجوړ په يو رپوټ کښي هم وړاندي شوي ده چي کافي حده پوري پري وس شوي دے چي دا رپوړټ په کال1906ء کښې وړاندے شوے وو ۔ د دي ټولو شجرو متعلق زما داخيال دے چي قيس بابا نه ترننه

پوري ډير کمے دے په دي شجرو کښي ډير سړي نشته بس هغه سړي ليکي شوي دي ـ چي هغه ډير جنجو يا د يوې قبيلي ډيرعمري مشران پاتے شوې دي ځکه چي سائينس دانان او تاريخ دانان د يو سړي پيړۍ د ديرشت کالو پوري محيط کړي ده نوکه په دي حساب سره مونږ.اوګورو نو بيا خو دا ډيروکمو خلقو شجره پاتي کيږي يا د قيس په وخت کښي چي کومي قبيلي وي نو هغه خلق چرته لاړو خو اصل کښي د خسنې په لحاظ سره رايوځاے شوي دي بهرحال چا چي هم څه ليکل کړي دي د وخت مطابق ښه وو ـ وړاندي سوچ کول غواړي ـ چي زمونږ نورے شجرے وليکلے شي او محفوظ کړےشي چي د وړاندي خلقو په کار راشي ـ

د ترکلاني قبيلې په باره کښي د پنجګوړي نوم کتاب کښي مصنيف خپله رائے داسي ورکوي ـ چي د ترکلاني نسبت ترکزي ته ډيرنږدے دے ولي چي د افغانانو ټولي قبيلي د زي يا د خيل په نوم يادي شوي دي ـ او داسي" ضرار"چي په قبيله ماموند او د تخت بهائی اوسيونکے دے ـ دے وائي چي دا په اصل کښي "ترکمند يا ترک زې دے چي په خپل دليل مضبوط ولاړ دے ـ بل ځائے مراد علي خان شمه خيل د سوات وائي چي مونږه په اصل کښي" ترک"يو چي د

سلجوق د لوې قبيلي سره تعلق لرو دغه رنګ د محمد علي خان شمه خيل سوات وائي چي شمه خيل د قائي قبيلي ارطغرل د قبيلي سره تعلق لري خو زما دا خپل ذاتي سوچ دے چي ترکلاني خاښي خيل اوبيا د قيام اول نه پښتانه دي او ترکلاني د بدرالدين ترک اولاد دے چي د بدرالدين دا قبيله د ايران نه ترکستان او د ترکستان نه کرّم ايجنسۍ ته او د کرّم ايجنسۍ نه بيا ننګرهار ته تلي دۀ ـ اوهلته بيا د خپلو خاښي خيلو سره يوځاے شوے ده ـ

د ترک بابا دوه ځامن وو ـ چي د شعيب بحث اوشو اوس د موسی' بابا شجره څه داسي ده لکه د موسی بابا اته زامن وو ـ چي د اولنے ښځي نه يي دوه ځامن وو. لکه ممحمود چي په ماموند مشهور دے محمد عارف کاکا زي وائي چي ماموند د پيغمبر د خدائے صفتي نوم دے چي اولاد يي په ماموند يادیږي او بل الياس چي په سالار باندي مشهور وو ـ چي اولاد يي په سلارزې يادیږي ـ

د دويمي ښځي نه يي هم دوه زامن وو چي عيسی' نامه يي وه چي اولاد يي په ايسوزي يادیږي اود بل رورنوم يي اسماعيل وو ـ چي اولاد يي په اسماعيلزي يادیږي چي نوره يادونه به يي په خپل

ځاے راشي بيا روستو موسي بابا بله ښځه وکړه چي ده هغےنه ورله الله پاک څلور زامن ورکړي وو ـ چي موّر،مدّے،حسن اوهارون وو ـ د موّراومدّے اولاد په وړماموند ورګډ دي ـ بعضي خلق اوحافظ رحمت خاني په خپل کتاب کښي ليکي چي د مدې درے زامن وو چي خواجے،معروف اوالياس وو۔ چي د وړماموند نه جدا کول ګران دي د هارون يا نون اولاده ټول په ټوله پنجاب ته تلے ده ـ چي ډيري علاقے ترينه ډکے دي او د حسن متعلق څه معلومات نشته نو دا خيال هم کيدے شي چي د حسن اولاد نه يي شوے ـ نوځکه يي يوترکلانې يا يو تاريخ ليکونکي يي ذکر نه دے کړے ـ د ماموند بابا اولاد په کنړ مروره، پنجّاب اودلته په باجوړ ماموندو کښې استوګن دي سالارزي په سلارزو،چارمنګ کښي اوسيږي او په څه تعداد باندي په افغانستان کښي ميشته دي دغه شان ايسوزي په جندول او براول کښي ديره دي او د اسماعيل بابا اولاد په دير ميدان اوبراول کښي اباد دي چي د دوي سره خپلي د ويشت د وخت زمکي دي او په دوي کښي ښه غټ غټ ملکان او خانان شته ـ

اسپنديار خان مست خيل د ترکلانو د سيمو اود اوسيدو ځايونه داسي بيانوي" چي د افغانستان د نورستان په

شمول چي پخوا به کافرستان ياديدو په دي سيمو کښي ترکلاني اوس هم شته څوک چي دغازي عمراخان بابا سره تلي وو اوس هم هلته پاتي دي ـ علاوه د دي نه چي باجوړ،دير خصوصاً د مياں کلي پوري رونړو!تاجکستان، ثمرقند، بخارا، تاشقند، ازبکستان اومينځني اسيانور دهيوادو پوري په مختليف لاروتګ راتګ کولو- چي اوس هم ترکلانيانو د افغانستان په شمال ولايتونو او د مينځني ايشياء په نورو هيوادونو کښې استوګن دي"

د ترکلانوسره په دي سيموکښي نوري ډيري قبيلي اوسيږي لکه مياں ګان، مليان، غلجي، صافي، شنواري،مغل،نګريز،ګوجر برداري ،تاجک ،اتمان خيل، رودباري وغيره دي ـ چي د اتمان خيلو په اړه اخونددرويزه بابا خپل بيان داسي کوي "چي کله د کابل نه اتمان خيل لښکر راتلو نو چي دوي درّه ګومل ته داخل شو نو خشي قبائيلو د دوي استقبال کړے وو"اوس اتمان خيل دترکلانو سره په ارنګ برنګ کښي ميشته دي ـ د اتماخيلو په حقله داسي هم وئيلے شي چي کله دوي په غوړي مرغۍ نه د خاښي خيلو سره راغلل نودوي بيا د ترينو په ګاونډ کښي اوسيدو ـ او بيا د ترکلانو سره دوي په څه خبره وران شو چي دهغے نه روستو دوي د غوريا خيلو وطن ته راغلل ـ بيا روستو

کله چي ترکلانو په لغمان کښي خپل ریاست جوړ کړو اونزدي وه چي خپله سکّه یي جاري کړي وې خوچونکه دوي په افغانستان کښي اوس یواځي وو چي په هغه وخت کښي دډیورند کرښه نه و ه وستلي شوي اود دوي رونړا یوسف زي بیا د سوات دعلاقي په قبضه کولو کښي مشغول وو چي په دغه وخت کښي د سواتیانو باچا سلطان اویس وۀ ـ نو په دي وجه مغلو ترکلاني خبري ته نه پریخودو اوحمله یي پري وکړه چي په نتجه کښي ورسره اتمان خیل هم بي دخل شوچي دوي بیا په دغه وخت کښي د ترکلانوپه ګاوند کښې آباد وو او دترکلانو مرسته به یي کوله چي دا ډیر تورزن او باتور خلق وو ـ چي بیا د ترکلانو سره باجوړ اوداسي نوروسمیو ته راغلل چي اوس اتمان خیل د پختونخوا په نوروسیمو کښي هم آباد دي چي دا یوه پښته قبیله ده .

د پورته بحث نه زمونږ دا مراد وو چي ترکلاني څوک او د کوم ځائے راپورته شوي دي ـ نو دوي اول د بابل نه جارجیا،اناطولیه،ایران،ترکستان،کرّم ایجنسي ،ننګرهار،غور،کابل،لغمان او په اخره کښي د لوې باجوړ سیمي ته راغلي دي ـ ځما خپل خیال دا دے چي ترکلاني یا ترکانړې ډیره زړه قبیله ده ـ چي د دې نه ډیر ذیلي قبیلي جُدا شوي دي ـ

د ترکلانو تاريخ اوشجره ما ډير په محنت اوپه خلوص سره راغونډه کړې ده اوپوره پوره کوشش مي کړي دے چي شخصي شجره وليکم خو دا ډيره ګرانه وه ولي چي زه د خپلي قبيلي نه لرے يم خوبيا مې هم څه حده پورې د خپلې قبيلي شجره ليکل ده شايد چي څه کمي په کښي يي خو د وس مطابق مي ليکل ده زه اميد لرم چي د دي نه روستو به داسي ځوانان راپيدا شي چي هغوي به د ترکلانو شخصي شجره اونورتاريخ به هم وليکي بيا ځه د هغه کشرانو مشرانو ترکلانو رونړو ډير شکر ګزاريم چي هغوي ځماسره د ترکلانو په شجره او په تاريخ کښي ډيره مرسته وکړه ځه په ډيرمعذرت سره داخبره کوم چي په دي کتاب باندي دچا هم زړه ته خفګان رسيدلي يي نو دا به په قصد نه ئي شوي خو د معلوماتو د کمي په وجه به د هغه د قبيلي د ذات مطابق ليکل نه وي شوي دلته صرف مونږد ترکلاني قبيلي د غټو قبيلو يادونه کړي ده او د هغه مشرانو يادونه يو کړي ده چي هغوي په تاريخ کښي مړاني کړي دي اګر که مونږه ورسره بغض هم ساتو خو هغه خلق د نورو خلقو په زړونوکښي ژوندي پراته دي بل ما باربار وينا کړي ده چي ماته د خانانو،ملکانو د تاريخ نه علاوه د عام وګړود تاريخ هم بيان کړي چي ځه يي

وليکم خو ماته چا هم داسي څه قسمه تاريخ رانه کړوبهرحال ځه دخپلي قبيلي ترکلانو ډير شکر ګزار يم چي ماته يي دشپے او د ورځي تاريخ راکړے دے هغه که دپاکستان دي اوکه دافغانستان الله پاک دي ترکلاني ښاد اواباد لري ـ

نوټ:

دلته دا خبره کول ضروري ده چې د ترکلانو سره چې کوم خلق د خسنړې په لحاظ سره پو ځاے شوي دې هغه زمونږ رونړه دې ـ چې د تاريخ پوهان دوي ته وصلې ترکلانې وائې او بل ته اصلې ترکلانې وئيلے شې چې د ترک بابا خپل اولاد دے خو اوس د دوي د يوبل نه جدا کول ګران دې د دې غټ مثال د سوات شمه خپل خانان دې چې په يوسف زو کښې په سيبُجنې او په سيبُجنې کښې په سيبت خپل کښې شمار دې چې اصل کښې ترکلانې دې ـ

د ماموند بابا د اولاد تاريخ

محمود بابا چي په ماموند باندي مشهور وو چي د خپل وخت يولوې بزرګ تيرشوي دے ـ ماموند بابا د موسی بابا مشر ځوې او د ترک بابا نوسي وو چي الله ورله دوه ځامن ورکړي وو چي اوس تري د هر يونيکه نه لويه لويه قبيله جوړ ه شوي ده ـ اوداسي هم وئيلے شي چی په ترکلانو کښي د ټولو نه لويه قبيله ده ـ چي ماموندوته په عرف عام کښي کاکازې هم وئيلے شي د څه خلقو خيال دا دے چي د ماموند بابا قبر مبارک په ماموندو ډاک کښي دے خو الحاج محمد عارف کاکازې د مروره چي د ترکلانو يولوې تاريخ دان دے د هغه مطابق"چي کله مونږ باجوړ ته هجرت وکړو چي د افغانستان حالات ناسازه وو نو ځه پخپله دي قبرله لاړم اوما وليدوخو ماته داسي نه ښکاريده چي د ماموند بابا قبر دے او د مشرانو نه مي هم پښتني وکړي خوچا هم په يقين سره دا خبره ونه کړه چي دا د ماموند بابا قبر دے "ځما هم خپل ذاتي خيال دا دے چي دا به په ماموند کښي د يو مشر ماموند قبرئي ـ چي دهغه نامه به هم ماموند وه ـ خوهغه اولني ماموند نشي کيدے اود هغي غټه وجه دا هم ده چي د ترکلانو نه وړاندے په دي علاقه پښتانه وو خو يا زاړه سواتيان ،تاجک اويا خو په کال

1130ء خواوشا ګبري وو ـ چي مير حيدر ګبريي مشر وۀ ـ بل په کال ء1045خواشاء کښي محمود غزنوي د غزني نه شروع کړي وۀ ـ چي د ترکلانو مشران ورسره په جهاد کښي ملګري شوي وو۔ اودهندوستان په اولسمه حمله اود سومنات په ورانه ولو کښي ورسره کاکازيِ شامل وو۔ اوس دا سوال پيدا کيږي چي ترکلانيِ خود په1508ءخواوشا کښي دلته راغلي دي ـ اوکله چي ترکلاني په کرّم کښي ديره وو۔ نو کاکازيِ هم په کرّم کښي موجود وو ـ چي بيا دا قبيله د وزيرستان په لوري تلي وه اوهلته ترينه څه خلق پاتے شوي دي چي اوس څه خلق په بلوچستان کښي هم شتون لري چي بيا په ننګرهار اولغمان کښي هم موجود وو مطلب دا چي دا ډيري زړي قبيلي دي ـ

خومحمد يارخان مست خيل وائي چي ما د سيدعارف ملک د ماموندو د خلوي نه اوريدلي وو۔ چي کله د موسى بابا په خپلو څلورو ځامنو د زمکے ويش کولو چي ماموند، سالار،عيسى' او اسماعيل وو۔ نودوي له يي خپلي حصے ورکړي نو په دي کښي د موسى' بابا د بلے ښځي نه ځوے اوشو چي نوم يي مدّے وو نوموسى بابا داخپل ځامن راوغښتو اوورته يي اوئيل چي ماخو په تاسو دزمکے تقسيم کړے دے خو اوس

دي ماشوم له حيصه پکار ده نوپه دي باندے سالار ،عيسی' اواسماعيل خاموشه شو ـ نوماموند بابا اوئيل چي پلاره دے به ځما سره په حيصه کښي شريک شي ـ بيا چي کله کال پس د موسی بابا بل ځوے اوشو چي نوم يي موّر يا مقّروه ـ نو د بيا دا خپل ځامن کينول چي بچو دي بل ماشوم له هم حيصه ورکول پکار دي نوعيسی' په خپل پلار پوري ملنډه وکړه چي بابا ته به هرکال بچي راوړي نو مونږبه ورله حيصي ورکو نوموسی' بابا په دي ډير خفه شواودي عيسّی' ته خيرې وکړي نوپه دي باندے اسماعيل اوئيل چي ځه بابا که هر څه دي خودے به ځما سره په حيصه کښي شريک شي"نو اوس که په ميدان کښې جندول وغيره کښي د موّراود مدي څومره اولاد دے نو په وړکي ماموند باندي يادېږي اودا هم کيدے شي چي ټول يي خو دا هم د هغه د دواړو رونړو اولاد ښکاري خواوس د دوي جدا کول د وړماموند نه ډير ګران دي بل وړاندي ذکر شوے وو- چي د نوّن يا هارون اولاده ټول په ټوله پنجاب ته تلي دي ـ اود حسن اولاد خويا نه وه يا يي پوهانو ذکرنه دے کړے نو کيدے شي چي اولاد يي نه يي ـ

د معلوماتو ترمخه د ماموند بابا دوه ځامن وو- چي د يونوم کاکا،ککي يا کاکي وو- چي اولاد يي په کاکازي

يادير.ي اوداسي هم وئيلے شي چي دے مشر وه نو وړوکي ماموند به ورته کاکا وئيلو چي وړوکي ماموند ئي وراره وو ـ نوځکه په کاکا باندي مشهور وو ـ بهرحال دا يوه خبره ده چي يا کاکازي تره اويا ورو خو اصل کښې داحقيقت دے چي تره او وراره دي اوبل سيد عارف خان ملک به هم داسي وئيلو ـ

او د بل نوم وړوکے ماموند يا وړماموند وه ـ چي اولاد يي په وړماموند يا وړوکي ماموند يادير.ي ـ

د لوې ماموند پنځه غټے ځانګې دي لکه مسعود خيل،سليمان خيل،يوسف خيل،عمر خيل اوخلوزي خوملک شاهين د باجوړ نوره هم زياته وي ـ چي بدل زے هم په لوې ماموند کښې شامل دے اوبعضي خلق دا هم وائي چي بدل زے د ماموند ځانګه ده خو حيصه ورته په سلارزي کښې ميلاوشويده ـ اوځه خلق داسي هم وائي چي په ماموندو کښې د چورک بابا په ويش کښې يوه حيصه زياته شوي وه اوپه سالارزو کښي يوه حيصه کمه شوي وه نوپه دي وجه بدل زي ته په سالارزو کښي حيصه ميلاو شوے ده اوداسي هم کيدے شي چي په هغه وخت کښي په سالارزو کښي د ماموندو سيرۍ پاتي شوي يي او دا بيا بدل زي ته حواله شوي ئي ـ ځکه چي سيرۍ به نه

بدلیده ـ بیا ملک شاهین چیف اف ماموند د خلوي وینا چي مسعودخیل،سلیمان خیل،یوسف خیل،عمر خیل، خلوزي،بدل زي چي دوي په لوې ماموند ګډون کوې ـ دغه شان اله خیل ،بادین خیل، دولکاري یا دولښاري، دولت خیل،مسعود خیل او عمرخیل په شریکه مامد خیل دي ـ سلیمان خیل اومسعود خیل ځانله غټ قامونه دي خو مسعود خیل ورسره په څلورو پچو کښي ګډ اوسیږي ـ دولښاري، بادي خیل،اله خیل اودولت خیل کشر کازي دي ـ اله خیل د مسعود خیلو سره په یوه پچي له وجي ځان په مسعود خیل ورګډاوي ـ په خپل مینځ کښي ځان ته اله خیل اوباهر ځان ته مسعود خیل وائي ـ د مسعودخیل ذیلي ښاخونه دادي لکه بهائي خیل،سامدین خیل،آدم خیل، منارخیل، حسن خیل،قتلان خیل،قلندر خیل،ادي خیل، نیکي خیل،،دیارال خیل،خوجي خیل،شمسي خیل، بیا سامدین خیل،منارخیل،قتلان،آدم خیل،دا د اجدار بابا اولاد دے دوي ته په مسعود خیل کښي اجدارخیل وائي ـ چي لوې قام دےـ قلندر بابا د اجدار بابا تره وه ـ دا نومسعود خیل د حسن خیل نیم بیړه ده ـ چي ځان له کورني په کښي دي" خوخان زرین همدرد وائي چي اله خیل چي کشر کاکازې ورته هم وائي په دوي کښي یعني اله خیلو بیا ځانله درے غټي څانګي دي ـ

چي هغه خواجه علي خيل،رستم خيل،اوپشي خيل بيا په خواجه علي خيلو کښي ايکم خيل،ګاګڼ خيل،اله نورخيل،راجه خيل،زيارت خيل،ناني خيل،شين ګنډي دي ـ په رستم خيل کښي هم خنډي خيل،سبوخيل، ذيلي ښاخونه دي ـ دولت خيل ،دولښاري اونشتے زي هم په کشر کاکازي ياديږي ـ په پيشي خيل کښي رشيد خيل،اقدارخيل،قلندرخيل اوشاسيګي ذيلي ښاخونه دي ـ په يوسف خيلو کښي تيمر خيل،غازي خيل،شاه بيګ،محمد اکرم خيل،بډي خيل،کورني خيل اودغه شان شړي خيل په ملي خيل هم ياديږي دغه شان عين الدين خيل،بابا خيل،بران خيل او بازخيل هم يوسف خيل دي ـ

د نخترو په خلوزو کښي مته خيل،عظمت خيل،ليوګي خيل،اودي خيل،قندار خيل،بوټ خيل،غواؤ خيل، اوورسره سيد مير خيل هم شامل دي ـ بيا په خلوزو کښي غابښي خيل کښي دوه خيلونه آباد دي چي اردي خيل اومير احمد خيل اودغه شان په اردي خيلو کښي ځيګر خيل،غلام خيل،شوملو خيل،دروازه خيل،جرنده خيل او دلبر خيل دي ـ په ميراحمد خيل کښي بوجل خيل،هاشم خيل،باکاخيل،اوشمشي خيل ښاخونه دي په سليمان خيل کښي شودن خيل،تهانه خيل،کټي خيل، دعوت خيل،اډوخيل او برام خيل ذيلي ښاخونه دي ـ

په بادين خيل کښي موسی خيل،،دمه خيل ،قري خيل، چيچه خيل،دمه خيل اوډبلي خيل دي ـ

دا شجره دي بره ذکر شوي مشرانو نه اخذ کړے شوے ده ـ چي دوي ډير کوشش کړے دے او کاکا زي شجره يي ماته باربار وئيلي ده که په دي کښي څه غلطي يي نو پکارده چي په راروان ليکلو کښي نشاندهي اوکړے شي ـ

کله چي يوسف زي په دي سيمه قابض شو نو دوي هم لکه د نورو ځائونو په شان دلته د زمکي يو عارضي ويش جوړ کړو- چي د هغه وخت مطابق ډير موزون وو- نن صبا هغي ته دوتر وئيلي شي په اصل کښي د هغه وخت قانون اومجبوري وه چي د خلقو ټول دارمدار صرف اوصرف په فصل وۀ ـ چي ځناورو به ګيا او انسانو به داني خوړلي اوبيا چي ګيا په کومه علاقه ډيره وه نوڅاوري به هم ډير وو ـ چې د معاش زريعه وه ـ خو که په اوسني دور کښي دے ته سوچ اوکړے شي نو په مکمله توګه به دا خبره غلطه شي چي څنګه به څوک خپل کلے، علاقه پريږدي او بل ځاے ته به ځي بل چا به خپل کور نه شو جوړه ولے ـ ځکه چي صبا به ترينه روان وۀ- اويو مشر دا هم وئيل ـ چي په سوات کښي داسي حل

وو- چي هواره زمکه به د لرے لرے پوري ښکاريده چې ونی نه وي او بيا چي د باچا صيب حکومت راغے نو اکثر يي د چينو،جماتونه او دلارے د مسافرو د سورې دپاره د چنار ونی نحلي کړي وې چې اوس هم شته - چي دي ويش ته به يي ګرزنده ويشونه وئيل چي په زرخيزه او د ابو نه په لاندي زمکه به يوخيل پنځه يا لس کاله تيره ول اوپه باراني علاقه به لس يا شل کاله تيرول چي د دي ويش نه به ميا،ملا آزاد وو- چي اوس هم د يوقام ،خيل مړي د بل کلي په مقبرو کښي پراته دي اوخوک چي په ويش کښي د نورو کلو نه راغلي دي هغوي ته دا پته نيشته چي دا دومره غټ قبرونه د چا دي خو چي کله 1924ءکښي يا بعضې خلق وائې چي په 1928 نه تر 1932 پورې وو- په سوات کښي د باچا صيب په وخت کښي توراني ويش اوشو نو خلق په خپل خپل ځاے شو بيا داسي وئيلے شي چي د باجوړ آخري ويش څه په کال 1937 ء کښي شوے دے چي د نو ر حبيب په ځاے کښي شوے دے خو بعضي خلق وائي او ملک شاه ولي خان داهم وائي چي د ماموندو آخري ويش دبيړا ملّا په قلعه کښي شوي دے -

باجوړ د اول نه د منار خيلو په لاسه کښي وو - چي دا د ماموندو د مشري اوملکي کورنۍ وه - لکه څنګه

چي په سالارزو کښي شمه خیل وو ـ د ملک مټه خان روستو دوي کمزوري شو او ابراهیم خیلو طاقت بیاموندو دغه رنګ په ماموندو کښي منار خیل کمزوري شو او دغه وختونو کښي حسّام الدین یو هلک رازلمے شوے وۀ ـ چي ډیر پرهیزګاره او نر غیرتي ځوان وه ـ چي وئیلے شي حسّام الدین د هډي ملا د نیکونو مرید وه ـ چي دا ولي اوبزرګ هم په ملنګ بابا مشهوروه ـ ځه دا نشم وئیلے چي دا ملنګ بابا به هم هغه ولي وي کوم چي برم بابا او هلال بابا ته دعا کړي وه ـ خو په دغه وخت کښي حسّام الدین د دي ملنګ بابا ډیر خدمتونه کړي وو۔ چي د ملنګ بابا دعا وۀ ـ چي حسَام الدین د برکت خاوند شو۔ په دغه وخت کښي په منار خیلو کښي د جرګي د مشرۍ خبري شروع شوي وې ـ چي څوک مشر د ماموندو نه وو۔ نو ټول خلق په ملنګ بابا پسي راغلو چي مونږ له مشر پکار دے نو یوه لویه جرګه جوړه شوه چي خلقو د ملنګ په مرید باندے ګوته اوچته کړه ـ ولې چي دے ډېر تکړه ځوان وو ـ اګر که مرید حسّام الدین انکار کولے ـ خو بیا د بابا حکم وۀ ـ دغه رنګ خلقو حسام الدین د ماموندو ملک جوړ کړو چي په دي جرګه کښي د سالازي مشران هم موجود وو۔ چي اوس ئي اولاد په سامدین خیل یادیږي اواوس هم په

دوي کښي ملکي راروانه ده چي د معلوماتو ترمخه په نزدي وختونو کښي عبدالحکيم ملک په کښي ډير مشهور ملک تير شوے دے - چي دے د فرنګي په خلاف د هډي بابا اومحمد بابا سره په ملګرتيا د مالاکنډ جنګ له تلے وۀ - چي ډيره بهادري يي کړي وۀ - په موجوده وخت کښي د دا نوسې ملک سلطان زيب ملکي کوي اود ماموندو د جرګې مشري ورته په غاړه ده -

دغه رنګ په مروره افغانستان کښي په ماموندو کښي دمشرۍ کورنۍ ادي خيل دي چي ادي خيل بيا په وړو وړو څانګو کښي تقسيم دي چي بيا په ادي خيلو کښي پټان خيل خاص کر د ملکۍ کورني ده چي په دوي کښي بيا د محمد بابا کورني چي اوس هم د ماموندو مشري ورته په غاړه ده چي په دي خاندان کښي ډير غازيان تير شوي دي چي د دين اسلام يي ډير خدمتونه کړي دي اود انګريزانو اوهندوانو په خلاف يي ډير جهادونه کړي دي اود هندوانو نه ئې ډيري علاقے وزګارے کړي دي دا د هغه وخت نه هم وړاندي خبره چي د پاکستان اوافغانستان په مينځ کښي دډيورنډ کرښه نه وه راښکلي شوي -

ماموند قبليه او بيا خاص کر لوي ماموند چي په کاکازي يا ککي زي هم ياديږي چي په افريدو کښي هم يوه قبيله ککي زي شته چي مشهورپه کښي مجاهد شيرعلي خان تيرشوي دے دغه رنګ خان روشن خان په خپل کتاب کښي د ککي زي کلا ں په باره کښي خپل بيا داسي کوي" دره کلاں میں قبیلہ ماموند کی ذیلی شاخ ککی زی کے لوگ آباد ہے ۔ اوراسی مقام کے نسبت سے یہ لوگ کلا لہ کے نام سے مو سوم ہوئے تھے ۔ نیزلغمان میں کلالہ ایک قصبہ تھا جوککی زئ کا مسکن تھا"

خو بابر باچا په خپل کتاب تزک بابري کښي ليکي چي په کال ۱۵۱۰ ء نه ۱٦٧۰ خواوشا پوري په باجوړاو خواوشاء علاقو باندے د بابر حملي راوانے وې ـ په دغه وخت کښي دير ميدان،براول د لوې باجوړ حيصه وه چي جندول په کښي نه وو شامل بيا د ابراهيم خيلو په وخت کښي په کښي جندول هم شامل شو چي کله ظهيرالدين بابر خواجه کلاه چي د باجوړ ګونر وۀ دے يي معزوله کړو او د دا په ځائے يي د خپل تره ځوي عبدالله خان د باجوړ حکمران جوړ کړو نو د دي نه معلومه شوه چي دا کلا دعلاقے يا د کلا خواجه کلاه د حکومت کولو په وجه به دا نوم ورکړي شوے يي يا داسي هم کېدےشي چي

دماموندو دا قبيله به د کلا نزدي خلق وو نوځکه به په کلا مشهور شوي يي لکه څنګه چي په سالازو کښي ګبري يا تاران د علاقے په نوم ياد شوي دي ـ چي دا خلق ترکلاني دي چي په ترکلاني کښي بيا سالارزي دي ـ ماموند ډيره لويه قبيله ده ډيري وړي وړي قبيلي په کښي دي چي مخکښي ئي يادونه شوي ده ـ

د پنجاب کاکازې /ککې زي ماموند

لکه څنګه چي وړاندے ذکرشوے دے چي ماموند يوه لويه قبيله ده ـ چي د دي ښاخونه په مختليف سيمو کښي په مختليف نومونو باندے پيژندلے کيږي چي د دي قبيلي يوه لويه څانګه په پنجاب کښي په جداجدا ځايونو کښي اوسيږي اوداسي وئيلے شې - چي په کال1881 ء کښي چي فرنګيانو او د پښتنو جنګونه شروع شول اوپه دغه وختونو کښي عمرا خان جندولي بابا د فرنګي په خلاف د جهاد اعلان وکړو نود دي په نتجه کښي د پنجاب دا کاکازې رونړه هم د ترکلانو سره په دي جهاد کښي مرسته کړے وه ولي چي دوي هم د دغي خاورے خلق وو اوپه قبيله ترکلاني وو خو کوم وخت چي انګريز سرکار ته د دي خبرے علم اوشو نودوي دلته د پنجاب کاکازې تنګول شروع کړو اوداسي هم اوشوه چي دوي ته يي

دلته د اوسيدو اجازت هم نه ورکولو اودغه شان په دي کال1881ء کښي متحده پنجاب چي د انګريز حکومت وه ـ د ککي زې يا کاکازې قبيله يي باغي وګر ځوله حال دا وو۔ چي دوي هم پښتانه اوبيا ترکلاني وو چي د فرنګي حکومت ته يي سر نه ټيټه وه ـ نو په دغه وجه به يي اکثر دوې تنګول او مشران به يي جيلونو ته غورځول چي حکومت هند تسليم کړي ـ خو دوي د انګريز حکومت منلوته تيار نه وو چي د دي په نتجه کښي په کال ۱۸۸۱ء متحده پنجاب حکومت هند د ککي زې قبليه دلته په پنجاب کښي باغي وګرځوله چي بيا به دوي خپلي هلي ځلي په آزاده نه شوي کولے حالانکه دي قبيلي دلته هم ډير تکړه تکړه ځوانان پيدا کړي دي چي په هغے کښي ليفټننټ جنرل زبير محمد دپاکستان سپريم کورټ وکيله عاصمه جهانګير پاکستان سپر سټار کريکټر شعيب ملک ګورنر جنرل محمد علي اوپه اوسني وخت کښي مشهور عالم دين مولانا طارق مسعود او بيا خاص کر ناصراسلام خان چيرمين سپريم کونسل ککئ زې چي په سياسي اومعاشي توګه دخپلي قبيلي اوداسي د نورو وګړو خدمت خپل اولين فرض ګڼې بل د خپلي قبيلي ترکلانو چي هغه په دير ،باجوړدي د دوي سره ښه روابط ساتي اوورسره مرسته هم کوي

چي اکثر پروګرام يي نو خپلو ترکلانو ته دعوت ورکوي اوکوشيشونه کوي چي د قام قبيلي د پرمختګ دپاره د ترقي کارونه وکړي چي په اوسني وخت کښي په ا نګليستان کښي ژوند کوي چي د يادوني وړدے د دي نه علاوه په کښي ډيپټي اتارټي جنرل ريحان ملک،ډاکټر رضوان طبعي ماهر،ډاکټر اشفاق د پاکستان يوايټمي سائينددان هم ديادونے وړ دے په تير وخت کښي جنرل زبير د باجوړ دوره کړي وه او په خپل تقرير کښي يي داخبره کړي وه چي ځه په قبيله کاکازي يم اوتاسو ځما د ويني رونړه يي چي د باجوړ اوبيا دماموندو رونړو يي ډير عزت کړے وو ـ

اوس دا خبره د يادوني وړ ده چي د ماموندو اوبيا د کاکازي دا قبيله کله او څنګه پنجاب ته راغله اودلته څنګه آباده شوه نو په دي باره کښي ډير روايتونه دي خو قوي قول دا دے چي کله محمود غزنوي صيب د جهاد سلسله شروع کړه نو اکثر يي پښتنو مرسته کړي وه چي د تاريخ په هره پانړه د دوي ذکر کيږي چي په دي وخت کښي پښتانه راښکاره کيږي اوپښتانه د محمود غزنوي په اعلان سره په ډلو ډلوپه جهاد کښي شامليدو چي دا خبره دهيچا نه پټه نه ده ـ سرنزيب مياں په خپل کتاب"تاريخ رياست سوات"کښي ليکي چي"محمود غزنوي د باجوړپه لاره

سوات ته راغلے وو"اوحاجي دوست محمد خان داسي وائي چي سکندر اعظم باجوړته د ناوګۍ په لاره راغلے وو "په دي علاقے کښي چي کوم خلق وو هغوي څه مزاحمت ونه کړو خو سکندر يي منعه نه کړو او هغه لاړ سيدها سوات باندې ته اود سوات په سيند پوري لاړ د منګلور علافي ته چي دا په هغه وخت کښي يوغټ رياست او مقامي دارلخلافه وه چي دير،سوات اوباجوړ په کښي شامل وو نو د دي نه وړاندي ترکلاني په مختليف سيمو کښي استوګن ووخوبيا کله چي محمود غزنوي په کال ۹۹۸ء خواوشا کښي دغزني باچا شونو دا پښتانه هم په جهاد بالله کښي شامل شو چي دوي د افغانستان د علاقي نه د محمود غزنوي په فوځ کښي شامل شوي وه ۔

کوم وخت چي محمود غزنوي په هندوستان اولسمه حمله اوکړه نوترکلاني په غټ تعداد کښي راغلو چي په کښي ماموند اوسالارزي ډير وو۔ د ناصراسلام ککۍ زي د خلي وينادہ"چي زمونږ خاندان يعني ککي زي ماموند د محمود غزنوي د اولسمي حملي په وخت کښي دهندوستان نه راغلي وو چي زمونږ دا مشران په دي فوځ کښي شامل وو خوبيا کله چي محمود غزنوي د سومنات د مندر دتباهي دپاره راغے نوبيا ککي زي مشران ورسره دلته پنجاب ته

راغلواودلته په پنجاب اوپه خواوشا علاقو قابيض شوخو ناصراسلام ککي زئی دا ارمان کوي چي زمونږنه خپله مورنۍ ژبه پښتو هيره ده " خوپه اوس وخت کښي دوي کوشش کوي چي د خپلي قبيلي سره تعلق وساتو اوپوره کوشيشونه کوي ـ

اوس ککې زئی په لاهور،کراچي،پيښورايبټ آباد، سرګودها، موسي خيل،پشين او دغه شان په نورو ځايونو کښي ښه په ګڼ شمير اوسيږي ـ هدايت الله سوهدروی په خپل کتاب"تاريخ ککے زې ترکلانی " کښي د پنجاب د سرحد اوهندوستان ته دککي زې ماموندو په باره کښي خپل بيان داسي ليکلےدے "پس وادی وتلائی کامغربی حصہ درہ ککئ زئ افغان ککےزئ قوم کا وطن ہے۔ یہی وہ نکاس ہے جس سے کہ اس قوم کے بیشتر ممبر مختلف زرائع ومختلف اوقات میں یہاں سے نکال کرشمالی مغربی سرحدی صوبہ پنجاب وہندوستان میں جاکر آبادہوۓ۔

حاجي محمد بابا کاکازي

حاجي محمدبابا په قبيله کاکازي ماموند اوپه ماموند کښي مسعود خيل په مسعود خيل کښي ادي خيل اوپه ادي خيل کښي پټان خيل وو چي د باجوړ په خاوره پيدا شوے وو ـ نوموړي تقريبا تقريباً اته اتيا کاله د دين اسلام د سربلندي دپاره جهادونه کړي دي چي ډيرکافر يي مردار کړي وو ـ او ډيرو د اسلام جهنډا اوچته کړي وه ـ اوبيا چي کوم وخت انګريز د پختونخوا سيمي ته راوراسيدو اودلته د فرنګي د منعه کولودپاره جهادي تنظيمونه شروع شول اوخاص چي فرنګے د باجوړ سيمي ته راورسيدو او بيا دا کوشيش يي وه ـ چي اول به باجوړ اوبيا به په آسانه افغانستان ته واوړو خو دلته په دغه ورځو ترکلانو اونورو پښتنو دوي ته د دي خبرے اجازت ورنه کړوچي دوي دي د ځان اوبيا د خپلو رونړو دپاره د باجوړ پاکه خاوره استعمال کړي چي اکثرپه دغه وخت کښي هم بعضي خلقو د فرنګي مرسته کړي وه خوبيا هم نه وو کامياب شوي بهر حال چي فرنګی د مالاکنډ سيمي ته راورسيدو نواول يي په باجوړ حمله کوله چي محمد بابا خپلي قبيلي کاکازي ته دجهاد دپاره اعلان وکړو چي ورسره نوري قبيلي هم د جهاد دپاره جمعه شوي ـ چي يو لوی لښکر جوړکړے شو ـ

د روایاتو مطابق په لس زره نفرو باندے مشتمل وو چي د ماموندو،سالارزو، اتمان خیلواوداسي چي په باجوړ کښي د پښتنو اوغیر پښتنو ډلي وي د محمد بابا په مشرۍ کښي دوي دیر تیمر ګرے ته راغلو اودلته موچه زن شو کله چي فرنګیان خبر شول چي ترکلانو زمونږ لاره ونیوله نوفرنګي خپله لاره بدله کړه او د اګري په لوري یي فوځونه راواړول خوچي ترکلاني خبرشو نو دوي هم سمدستي د فرنګي لاره هلته ونیوله اوپه فرنګي یي یوه زبردسته حمله وکړه چي دفرنګي فوځ نه یي وارپارخطا کړو چي ټول فوځ په تیښته شو بله غټه وجه دا وه چي دانګریز سره خو نوي اسلحه وه خو د دي ځاے لارے ورته نه وي معلومي بل اکثر چي کومو خلقو به ورسره مرسته کوله نوبیا هم مسلمانان اوپښتانه وو چي بیا به ئي هم د پښتون مرسته کوله چي دي ته به یي جنګي چال وئیلو نواکثر به فرنګے ناکامه کیدو ځګه چي دا داسي علاقے دي چي پښتون نه علاوه دلته لا تروسه پوري چاپه پښتون ګټه نه ده کړي او اکثر تاریخ د دي خبرو نه ډک دے ۔

وئیلےشي چي په دي جنګ کښي ډیر فرنګیان مردار شوي ووا و د ماموندو لښکرته هم ډیر زیان رسیدلي وو۔ او ډیر مجاهدین په کښي شهیدان شوي وو۔ چي د

دير ميدان په غڅه مقبره کښي ښخ دي خو د ترکلانو حوصلي اوچتي وي د چکدرے پوري پسي د ترکلانو اويوسفزو مجاهدين خواره وو بيا چي فرنګيان خبرشول ـ چي زمونږ فوځ ماتے اوخوړو نو دوي د نورو فوځيانو سره د دي مالاکنډ جنګ له راغلو خومحمد بابا سره د خپل لښکر وړاندے تربت خيلے پورے ورسيدواوهلته خيمه زن شو او هلته يي مورچي جوړي کړي اوداسي هم وئيلے شي چي دي مجاهدينو ځوانانو دغرونوپه سرونو غټ غټ ګټان چل کړي وو چي کله فرنګيان خبر شو او د حالاتو جائيزه يي واغسته چي اوس مونږته خطره ده نو خپل فوځ يي واپس کړوچې دا حملے په انګزيزانو دي پښتنوباربار کړي دي هغه که د باجوړوو که د سوات ووکه د بونيروو۔ د وخت مطابق هري پښتني قبيلي د خپل وس مطابق د انګريز په خلاف جنګونه کړي دي چي په دي جهاد کښي ځما ډېر نيکه صحبت خان وشتلے شوے وۀ ـ اوپه يوپښه کوډ شوے وو ـ

په کال1881ء کښي يوځل بياد محمد بابا په مشرئ کښي ترکلاني مجاهدين د فرنګي په ضد د ګندواب غزا له لاړو چي په دي جنګ کښي محمد بابا سره د ترکلانو نه علاوه ديني علماءهم شامل وو چي دهغوي سره خپل مريدان وو بعضي تاريخ دانوليکل دي چي

دا توري بابا،حيدري بابا اواجدار بابا په دي کښي شامل شوي وو خو ماته نه ښکاري ولي چي دوي ډير وړاندي تير شوي دي حالانکه اينګاربابا، انځر بابا او هډي ملا کيدے شي چي د دوي سره به خپل بلها طالبان وو هډي بابا چي خپل نوم يي نجم الدين وۀ ـ چي په هډي نومي کلي کښي پيدا شوے وۀ ـ چي د دوي وړاندے مشران د معرفت خاوندان وو ـ هډي بابا هغه ځائے دے کوم ځائے چي د بدهيزم اثارموندلے شوي وو ـ چي خلق به د مختليفو ځايونو نه د باميان په لوري تلوچي په باميان کښي يولوې مندر وه ـ نوخلقو به په دغه ځاے کښي دمه کوله چي بيا دا ځاے په هډي(اډه)باندے مشهور شو ورسره يو الينګار فقير هم وۀ ـ چي د الينګار درّے لغمان اوسيدونکے وه ـ د دے نه وړاندے د دوي مشرانو هم د ترکلانو سره ډيرې مرستي کړي دي چي ديادوني وړدي په چمرکند کښي د هډي بابا چله ګاه وه اوورسره يوغټ دچنار ونه وه طالبعلمانو به ترينه سبق وئيلو ـ دا جماعت په مهمند کښي اوس هم شته چي په خپل زوړحالات کښي دے د باجوړ اودمهمند په پوله آباد دے ـ

د ګنداب په دي غزا کښي محمد بابا دخپلو مجاهدينو او دالله په مدد سره فرنګي له ماته ورکړه چي په دي

غزا کښي محمد بابا د فرنګیانو نه یوه توپه راوړي وه ـ د دي متعلق محمد عارف کاکازی مرورے وائي چي دا توپه زمونږ.په کور کښي ډیر وخت پورےپرته وو خوچي کله مونږه دافغانستان د خراب حالاتو په وجه باجوړ ته هجرت وکړو نودا توپه بیا چا زمونږه د کورنه وړي وه حالانکه روستو دا بیا خرابه شوي وه چي هډو پته یي ونه لګیده چي د دي جهاد دا غټ ثبوت وه ـ

یوځل بیا په کال1897 ء کښي چي کله فرنګے د جنګ په غرض د مالاکنډ چي په هغه وخت کښي به یي دي ته ملا کنډووئیلو کله چي انګریز کنډوپار کړو نومحمد بابا سره د خپل ملګرو چي سعدالله خان عرف سرتور فقیر،فضل واحد ترنګزوحاجي صیب اوهډي ملائي صیب په شریکه د فرنګي په خلاف وجنګیدل چي د سوات نه د سرتورفقیر لښکرد باجوړنه محمد بابا اودغه حاجي صیب د انګریزانو نه وارپارخطا کړو ـ چي تاریخ یي ګواه دے خو دتاریخ پوهانو صرف دا حمله په سرتور فقیر پورے سمه کړي ده په دي جهاد کښي د دي نه علاوه داشنغر، ماموندو،سالارزواواتمان خیلو مجاهدین شامل وو۔

د دي نه علاوه محمد بابا دخپل ماموندو اوخاص د باجوړد ادي خيلو مشري ډير په عاجزي کړي ده ځکه چي دے يوخدا ترسه انسان وه ـ د معلوماتو ترمخه محمد بابا په سخاکوټ کښي په غټه مقبره کښي دفن دےالله پاک دي پري خپلرحم وکړي ـ

دمحمد بابا د وفات نه روستو د ده ځوي خانذاده ملک د ماموندو دمشري جوګه شو دا هغه وخت وه ـ چي په افغانستان کښي د امير عبدالرحمان باچائي وه اوپه دغه وخت کښي چي تقريباً ټول پښتانه دجهاد بالله سره مخامخ وو نوخانذاده ملک لکه دخپل پلارمحمد بابا غوندي تکړه ځوان اومرد مجاهد وو۔ چي د بټ خيلي، مالاکنډ، شفقدر، ګنداب، کټار ،ګمبير ،کوهستان، نورستان په غازاګانو کښي ئي برخه اغستي وه ـ د فرنګي اودهندوانو فوځونه يي په تيختته کړي وو ـ چي په کال ۱۳۵۷ءکښي دعبدالرحمان ماموند ځوے سيف الرحمان د خان ذاده ملک سره د جهادباالله دپاره آواز اوچت کړے وو ـ چي د فرنګي خلاف يي ډير جهادونه کړي دي نوموړي د پکتيا د منګل ځدران علاقه دار اوبيا روستو داولسوالي په حيثيت مقرر کړےشو په دي خاندان کښي الحاج حضرت رحمان چي يوخدا ترس انسان تيرشوے دے چي د جهادونونه علاوه دماموندو د جرګي يونوموړي ځوان وۀ ـ چي د

څه حالاتو په ضد دباجوړ سیمي ته راغلي وۀ ـ په کوم وخت کښي چي د شیګل په علاقه کښي دافغانی طالبانو اودشیګل داولسوالو ترمخه جګره رامخي ته شوي وه چي په دي جګړه کښي ډیره تباهي شوي وۀ چي د دغـے جګړي روغه د حضرت رحمان ملک په مشرئ کښي شوي وه ـ

په کال ۱۳٤۷ کښي چې کله اسلامې قانون جوړ کړے شوو نوحضرت رحمان د کنړ ولایت دعبوري نظام قانون دان جوړ کړے شوے وو۔ په دغه وخت کښي ماموند صیب کابل ته لاړو چي هلته نظربند کړے شوے وه خو د برهان الدین اوداسي د نورو مشرانو په مدد اوکوششونو سره خلاص کړےشو ـ

اسپیندیار خان مست خیل د مروري د ماموندو په باره کښي خپل بیان داسي کوې'چي د مروري ماموند ترکلاني ځمونږ عزیزان دي چي همیش یي زمونږ د مست خیلو مرسته کړي ده خصوصاً د محمدعارف خان کاکازې پلارنواونیکونوکله چي مونږ د باجوړنه په دیرنواب پسي یا دجندول په اخوندخیل خان پسي لښکرکشي کړے وه نود لوې ماموند،وړ ماموند، چارمنګ اوسالارزودي ټول ترکلانو زمونږسره په دي لښکر کښي لاړل اومسکیني ته په دره باندے

پشت ته مخامخ دغني ملک په کور باندے وراغلواومسکيني ته واغښتو بيا جنګ ونه شو او مونږ واپس شو ۔

دلته دا يادونه ضروري ده چي کله بهرام خان شمه خيل برسوات د دير د نواب نه د سيبجني اود شاميزې څه علاقي ونيولي چي په هغه وخت کښي د سوات د سيند نه راپوري دا علاقه د ديرد نواب چي په هغه وخت کښي صرف خان وو نيولي وه ۔ نوبهرام خان د دي علاقي خلق په دي خبرے متفيق کړو ۔ چي د دير دنواب نه به څه داعلاقه ونيسم خوتاسو ځما ملګرتيا وکړئ ۔ خو ډيروخلقوته دا خبره خوښه نه وه ولې چي د بهرام خان ظلم دوي ته د اول نه معلوم وو ۔ اوبيا شاميزوته خو دا خبره بلکل نه وه خوښه او د ديرنواب غزن خان يي د دي نه خبر کړو نوديرنواب په بهرام خان حمله کول غښتو چي بهرام خان خبر شو نوهغه خپلو ترکلانو ته د مدد درخواست وکړوچي د باجوړنه ورله د سالارزواوماموندو يولوې لښکر راغےچي د ديردنواب لاره يي ونيوله نواب صيب چي وکتل ۔ چې اوس حالات ناسازه دي نو واپس شو بياروستو غزن خان د خپل يوسونوکرانوسره دوباره د سيبجني علاقي ته راغے اوپه روننګار کلي کښي يو جرګه جوړه کړه اونواب د شمه خيلو د کمزوري کولو دپاره په

شمه خيلو کښي ځما ورنيکه سادات خان د پګړي خان کړو چي په دي باندي شمه خيل په دوه ځاے کښي تقسيم شو او د ديرنواب په خپل مقصد کښي کامياب شول د خبري مقصد صرف دا دے چي ترکلانو په هغه وخت کښي هم د خپل نسبيانو مرسته کړي وه چي ديادوني وړ ده ـ

الحاج محمدعارف ماموند کاکازۍ

الحاج محمدعارف کاکازۍ په کال ۱۹۵۳ء کښي دافغانستان په خاوره په مروره کښي زيږيدلے دے د پلارنوم يي سعيدالرحمان دے نوموړي د دولسم جماعت پورے خپل تعليم ترسره کړےدے چي بيا يي د معلمي پيشه اختيار کړي وه د يوکال معلمۍ نه روستود قاضي صيب په وخت کښي د نهمي فريقي قومندان جوړکړے شو د تيرشوي حالاتوترمخه حاجي صيب اود دوي خاندان په ۱۹۷۹ء کښي د خپل آبائي کلي نه د باجوړسيمي ته هجرت وکړوچي په دي وخت کښي حاجي صيب د باجوړ متعلق پوره معلومات حاصل کړو اوبيا چي کله خپل وطن ته واپس شو نوپه جهادي تنظيم کښي شامل شوچي دغه وخت د مولوي محمد نبي صيب د حرکت انقلاب تنظيم ډيرپه زور او په شور وو۔ د معلوماتو ترمخه

حاجي صيب اود دوي کورني يعني د محمد بابا نه بعد د پنځه شپږ پيړوپوري جهاد بالله خدمتونه کړي دي د دےنه علاوه دوي دخپل قوم اود اولس د خدمت دپاره هروخت حاضردي دغه رنګ حاجي صيب په خپله بيان کوي چي مونږ د دے خاورے بچي اود قام خادمان يو چرته هم مونږ خپل قام نه دے خفه کړے"د حاجي صيب کورني په وطن کښي دخيرخيګړې ډيرکارونه کړي دي چي داولس نه پټ نه دي چي په هغے کښي لارے کوځي، پلونه، کوهي اوداسي ډيرکارونه دي چي د دوي د خاندان په سردي که چري هم څه ستونزي يي نود دوي خدمات د چا نه پټ نه دي کوم وخت چي د ډيورنډ کرښه نه وه نود لوې ماموندو مشري به د دوي نيکه ملک عبدالرحمان کوله چي هغه وخت د يوسفزو ګرزنده ويشونه وو ـ چي د مروري خلق به باجوړ او د باجوړخلق به مروري ته تلل چي حاجي صيب وائي چي دا زما نيکه د ۱۹۰۱ءنه وړاندي په کنړ مروره کښي ختم کړي وو چي د دي د ختمه ولوسره خلق په خپل خپل ځاے مقيم شول اواوس په راحت ژوند تيره وې ـ

الحاج محمد عارف کاکازیٔ يومکاتب فکريو پوحه مصنف دے ماته په ماموند کښي د غوندي باذوقه سړے نه ښکارې چي په دي عمر کښي هم د قبيلي

دپاره د قلم په زور خپل خدمتونه کوي چي د دا سره د قام د بے وسیٔ فکردے چي په موجوده وخت کښي حاجي صيب د پنځه کتابونو مصنيف دے چي په هغے کښي داکتابونه شامل دي لکه" ژوندي قومونه اوويخ تاريخونه، غل او باچا، دکنړ مجاهدات اوحاجي عبدالرحمان،دماموندو دژوند ليک، مشرقي معلومات او د کنړ جوړښت او کانړي کرښه خاص د يادوني وړدي ـ د دي نه علاوه يي په دے کتابونو کارروان دے لکه دحاجي محمد عارف خاطرات، تاريخ جوړونکي پښتانه، سپيني خبرے،ډيورنډ دپښتنو قتل قابل ذکر کتابونه دي ـ

ځما دعلم مطابق حاجي صيب په قام مئين سړے دے اوخاص کرپه خپله سيمه کښي داولس دپاره خدمتونه کوي چي کله ورسره ځما رابطه شوي ده نو نوموړي هميش دقام د بهتري دپاره اود يوالي خبره کړي ده ـ اواکثردا خبره کوي که چري ماته د پاکستان تللو اجازت ميلاوشي نودواړه به په ټولوترکلانو ګرځو اوده دوي ديوالي اودرورولي کوشش به کوؤ اوداسي که چرته هم ترکلاني پروت دے هغه که باجوړ دے که پنجاب اوکه بل ځاے د دوي جوړښت به راولو الله پاک دي ښاد اواباد لري دخپل اولس اوبيا د ماموندو د تاريخ يوه لويه چينه ده ـ

وړماموند

وړماموند چي په وړوکي ماموند او په وړوزي باندي هم ياديږي ـ داهم په اصل کښي د محمود يعني ماموند بابا اولاد دے چي د باجوړ او داسي د ترکلانوپه نورو سيمو کښي د خپل عزيزانو سره اوسيږي او دلته په باجوړ کښي خپله جدا حيصه لري ـ وړماموند په خپلوکښي په دريِ غټوڅانگوکښي ويشلے شوے دے چي بړوزيِ،اورياززيِ اوبرکازيِ دے بيا په بړوزيِ کښي څلورغټ خيلونه قبيلي دي ـ بجل خيل، نتوخيل ،کيمل خيل اويعقوب خيل يا اکوب خيل دي ـ

په اوريازيِ کښي پيرخيل،اکي خيل،فتح خيل،خاتون خيل،شيراخيل ياشيرعلي خيل،سلطان خيل،اودولت خيل دي ـ

په برم کازيِ کښي چندڼ خيل،راجه خيل يارااگاخيل، شجاع خيل،اوبل چي په کښي په کچ برکازيِ ياديږي د عاشق خان باجوړ د خلي وينا ده ـ برکازيِ کښي غټ اوکچ نشته حالانکه وړوکيِ برکازيِ يا کچ برکازيِ شته چي ځانله خيل يا کوړمه ده ـ

د معلوماتو مطابق دوړماموند مشران وائي ـ بړوزي سل برخې دے اوريازې اتيا برخي دي اوبرکازې څلويښت برخې دے۔ د وړماموند اخري ويش څه په کال ۱۹۵۷ء خواوشا کښي شوي دے دغه رنګ د ماموندو يولوي شاعر اواديب لعل ذاده ساګر صيب د فيس بک په يو کالم کښي ليکلې دي چي"د دوست محمدخان بړوزې او وزير مغل خيل وائي چي دا ويش په بدان نومي کلي کښي د اکرم ملک عرف بادسمور په ځاے کښي په ۱۹۵۷ء کښي شوې دے "خوداسي هم وئيلے شي چي دا به دوړ ماموند اخري ويش وه چي د يوسفزو په ژبه کښي به يي ورته ګرزنده ويش اواخري ويش ته يي توراني ويش وايو ـ د دې نه بعد کلي علاقي نه دي بدلي شوي اوهر خيل اوقبيله په خيل ځاے شوي ده که چا څه خرڅ کړي يابدل کړي دي نوپه خپله خوښه به يي کړي يي مخکښي هم وئيلےشوي دې ـ چي دبړوزې څلورغټي څانګي دي نتوخيل،اکوب خيل،بجل خيل اوکيمل خيل دي ـ چي په نتوخيل کښي ماندسم خيل،فدائي خيل، خانوخيل، مصري خيل ،خانخيل،سرورخيل،سادوخيل اوقينچي خيل واړه ښاخونه دي ماندسم خيل ،سرورخيل اومصري خيل په شريکه ځان ته رڼاخيل وائي چي ليټي خيل دماندسم خيل ذيلي څانګه ده ـ

دغه شان په اکوب خيل کښې بهرام خيل،منصورخيل چي په موسرخيل باندے ياديږي چوري خيل ، لاجبرخيل،کوکي خيل،لنډي خيل،سيم دين خيل،تراب خيل،دوړکي خيل،جنګي خيل اودريديک کور په نوم ځانله ښاخونه دي چي بيا په تراب خيل کښې اناربچي،اردګان اردوګان او لوي کور دري نوري کورني لري په بجل خيلو کښې ګدائي خيل، نظرخيل،موخه خيل ،ګجرخيل، ښوراخيل، لال محمد خيل اوخړي خيل دي ـ دغه رنګ بجل خيل په دوه غټو کورنوکښې ويشلے شوي دي چي په کښې برکوري اولرکوري دي برکوري په څلور څانګو تقسيم دي لکه غلام خيل،صدرخيل،جودي خيل او شګوم خيل بيا غلام خيل په پنځه برخو تقسيم دي چي اتورخيل په کښې لوي ښاخ دے کوم ته چي دټولو بجل خيلو مشري ورکړي شوې ده ناجوخيل د صدرخيلو ذيلي ښاخ دے دغه شان لرکوري دري کورني دي چي په لرکلي خيل،ملاخيل اولرکوري ياديږي ـ په کيمل خيل کښې مغل خيل،سرکي خيل،دري خيل،عثمان خيل،بابا خيل،سواتي خيل ، راګوخيل اوعيسی خيل ذيلي ښاخونه دي ـ

په اوريازې کښې پير خيل،فتح خيل،خاتون خيل،اکي خيل،شرعلي خيل،دولت خيل اوسلطان خيل ښاخونه

دي ـ بیا په فتح خیل کښي عظیم خیل اوډابرخیل دي په پیرخیل کښي بلند خیل ،چنچارخیل،شپنکي خیل، انعام خیل اوبړیخ خیل ذیلي ښاخونه دي بلندرخیل په وړماموند کښي اوبیا په اوریازې کښي دمشرئ کورنئ ده بیا په اکي خیل کښي دامان خیل ،اعلاخیل، جاوزخیل،پینده خیل اوپیروخیل دي ـ په پینده خیلو کښي برګوخیل اوشړي خیل واړه خیلونه دي

په برم کازې کښي چندڼ خیل،راجه خیل/راګاخیل ،شجاع خیل اوړوکي برم کازي دي ـ

عاشق خان پداې خیل د وړماموند د وړوزې په حقله خپله وینا داسي کوي چي په ماموندو کښي یوغردے چي د خزې په غرباندے مشهور دے زمونږ طرفته ترینه ماموند دے دویم طرفته سلارزے په بل مخ ترینه ډمه ډوله ده ـ عاشق خان وائي چي دا ډیر تاریخي غر دے چي چرچل د دي غرپه باره کښي لیکل کړي دي چي په دې غرچي کوم جنګ شوي وه چي دے بیا د دې جنګ نه روستو راغلے وو او د دي جنګونو متعلق یي خپل کتاب لیکلے دے چرچل لیکي چي کله زمونږ فوځ ماموندوته راواسیدو اوپه افغانستان یي حمله کوله نودانګریز فوځ داکوشش وه چي دا د خزې داغر قبضه کړي ولي چي د دې نه د

تول باجوړ سيمه ښکاريده"عاشق ماموند صيب بيا مخکښي وائي چي داغر څه پنځه زره فته لوړدے - چي کله جنګ شروع شو نودوړماموند سره د سالارزولښکر هم شامل شوچي مشري يي د بابړي مشر مولوي صاحب کوله اوداسي هم وئيلے شي چي دترنګزو حاجي صيب هم په دي غزا کښي شرکت کړئ وو - چي دماموندو اودسالارزو غازيان داول نه دي دخزي غر ته ختلي وو اوفرنګي فوځ ته يي ګټان چل کړي وو اوڅه ګټان يي داول نه د دوي لارے ته راغوزاولي ووبيا کله چي فرنګے فوځ د غره لمني ته راوراسيدو نودوي پري هغه چل کړي ګټان راورغړه ولو- چي په دي باندي فرنګے فوځ په تيښته شو حالانکه د فرنګي فوځ سره توپي وي خو په دغه وخت کښي د دي توپو ګولي د دي غر سرته نه رسيدي نومجبورا" د ملاسيد په غرورسم شول " خلق داسي هم وائي چي په دي ځاے کښي يوتنګے وه - چي په هغه طرف واپس شول اودغه رنګ دوړماموندو لښکربريالئ شو نوهم داسي واقعات د تاريخ نه ډک دي چي په هغي کښي وړماموند خپل تاريخ جوړکړے دے -

فضل محمود مخفي

تاریخ دي هغه خلق نه هیرېِ چا چي د قام په غم ژړلي دي ـ او د قام د پر مختګ دپاره ئي هلي ځلي کړي دي ـ که ما او تا ئي یادونه ونه کړو نو یوه نه یوه ورځ به د قام غړو ته دا شاه زلمي رایاد شي چا چي د پختون قام او بیا د خپل ترکلانو دپاره هلي ځلي او قربانۍ ورکړي دي ـ په پښتون قام کښي داسي ډیر شاه ځلمي تیر شوي دي ـ چي د هغوي مړانې د یادونې وړ دي ـ په دي نزدي خلقو کښي فضل محمود مخفي صیب هم یو ځوان تیر شوے دے چي د قام سره ئي خپله مینه او محبت وو۔

مخفي صیب په کال 1884ء خواوشا د باجوړ په زګي کلي کښي پیداشوے وو ـ چي په قبیله ماموند وو۔ د دیني تعلیم په سلسله کښی مخفي صیب د دیوبند نه فارغه وه چي د مولانا محمود الحسن شیخ الهند شاګرد وۀ ـ او د دا د تحریک نه متاثره وۀ ـ

په ټوله پختون خوا کښي په دغه وختونو کښي د علم ډیر کمے وو۔ نو ځکه مخفي صیب د ابائي کلي نه د تخت بهایٔ سیمي ته تلے وو چي نن هم په باجوړ ماموندو کښي د مخفي صیب تذکرے کیږي ـ مخفي صیب د علم سره سره یو ښه شاعر،ادیب او په مختلیفو

ژبو ئي عبور لرلو۔ د مخفي صيب په باره کښي مولانا خان زيب د باجوړ خپله وينا داسي کوي ۔ په کال 1919ء کښي په کابل ښار کښي د استقلال په غونډه کښي چي کله د روس سفير مخفي صيب في البد يهه وينا واوريده ۔ نو هغه اوئيل چي کاش چي په دي خاوره يو پنځه مخفيان نور وې نو په نړۍ کښي به غلام او غلامي پاتے نشي "ولي چي مخفي صيب يوقابل انسان او د خبرے خاوند وۀ ۔ ځکه خو عبدالغفار خان به مخفي صيب خپل قامي رهنما گڼلو ۔ هم دا رنگه په سياست کښي ولي خان او غني خان بابا هم به د مخفي صيب ستائينه کوله ۔

په سياسي توگه مخفي صيب د باچا خان او حاجي ترنگزو صيب ملگرے وه ۔ او په آزاد مدرسه کښي ډير خدمتونه وو۔ په يوه موقع دير ته د يوي مدرسے د بنياد په کيخودو يو ځاے راغلے وه ۔ مخفي صيب په هغه وخت کښي په تخت بهاۍ کښي اوسيدو ۔ مخفي صيب او ترنگزو حاجي صيب داسي سړي وو۔ دوي د پښتون قام د بچو دپاره دتعليم او تربيت ارزومند وو ۔

په کال 1923ء کښي چي کله د رياست دير د علماءو شورى' وۀ ۔ چي په کښي اته علماء کرام په کښي شامل وو ۔ چي دا شورى' د اخوند بابا په جماعت کښي د

فرنګي خلاف وۀ ـ مخفي صیب د دي شوراي غړے وو ـ په دي کښي د انګریز حکومت د ناپاکو منصوبو خلاف فتواي وه اصل کښي دا شوراي د دیوبند دارالعلوم د فرنګي سرکارخلاف وۀ ـ چي په دغه وختونو کښي د حاجي صیب او د عبیدالله سندهي د انګریز خلاف تنظیمي جهاد ډیر په زور او شور وۀ ـ

مخفي صیب د پښتون قام د سر سورے وه ـ هغه به په خپل اشعارو کښي داسي وینا کوله ـ

اے جهله! ورک شه مونږ دي ورک کړو

مونږه ورکیږو آرمان آرمان دے

جهل نشته ده سړي پیري مست دے

زمونږ هرتن مست په خپل ځان دي

که د مخفي صیب احسانات مونږه د پښتون قام دپاره اوګورو نو هغه به کم وي ولي چي هغه په حقیقي معنو کښي د قام خیر خوا وۀ ـ دغه رنګ په کال 28مئ 1947ء کښي مخفي صیب د دے فاني دنیا نه روخصت شو ـ اود مانوګي بلامبټ په غټه مقبره کښي خاورو ته وسپارلے شو ـ الله پاک دي پري خپل رحم وکړي ـ

د ماموندو ويشونه

دمعلوماتو مطابق د1964 ءخواوشا نه وړاندي به ګزنده ويشونه کيدل چي يوخيل به پنځه، لس، پنځهلس، شل اوداسي هم وئيلے شي چي په بعضي علاقو کښي به خلقو پوره موده تيره وله چي مخکښي يادونه شوي ئې ده ـ دغه رنګ په ماموند کښي به هم پچه،قرعه يا خسنړے چي نن صبا ورته قرعه اندازي اوپه انګريزي کښي ورته لاټري وئيلے شي چي دا خسنړې به د کوم خيل راوختونو هغوي به د خپلي خوښي علاقه اغسته ـ د دي متعلق ارښاد اډوخيل اوارښاد شاه جهان خان اله خيل خپله وينا داسي کوي چي د لوې ماموند اخري ويش په کال ۱۹۳۷ء کښي شوے دے اود دوي مطابق چي دا ويش د نور حبيب عرف خوروصيب په ځاے کښي په زري کښي شوے وو ـ خوملک شاه ولي خان ماموند وائي چي نه داويش په دواګي کښي د بيړاملا په قلعه کښې شوے وو

لوې ماموند پنځه پچي دي په يوه پچه کښي څلوښت برخي دي ـ

مسعودخيل شل برخي لري ،شل برخي په اله خيل اودولښارې کښي دي د دې نه علاوه يوسف خيل څلوښت برخې دي ـ چي شل برخي سلمان خيل اوشل برخي بادين خيل دي دعمرخيلو څلويښت برخي دي چي اتلس برخي عمرخيل دولس برخي دولخاري اولس برخي المازي دي دغه شان دا خلوزو هم څلويښت پچي دي ـ

مسعود خيل په کټکوټ،نياګ،ګيلي اوزري کښي آباد دي خلوزې په غاښي،نختر،خړوچي کښي آباد دي ـ ډاګ هم د خلوزو دے سليمان خيل په مينه، ميټو، برکلان اوګړيګال کښي آباد دي بادين خيل په لرکلان،بکورو،ګواتی،غنم شاه اوغونډي کښي آباددي ـ

يوسف خيل په اګره، ګټ، دواوګې، ايراب، زګې، منګې، جنګړې اوتنګې کښي آباد دي ـ هندوراج پچه د عمرخيل د دړيدم دخلوزو دے،ترخواوبه د مسعود خيلو دے ،چناراوبرولو د سيورئ پچي ورسره دي ـ عجب شاګئ ،پيتاؤ اوکروړه ديوسف خيل ده ـ مروره په شريکه د مسعود خيل په کښي ډير دي لرخلوز اوبرخلوزو د ماموندو د انعام پوري خواره ديچ چي کمراوخراړي يي سيرئ دي د وړماموند په حقله لال ذاده ساګر صيب وائي چي د وړماموند درے غټې

ځانګي دي چي بړوزې ،اوريازې اوبرکازې دي د بړوزې سل برخي اوبرم کازې ځلويښت برخي او د اوريازې اتيا برخي دي ـ چي د وړوکي ماموند دا ويش څه په کال۱۹۵۷ء خواوشا کښي شوے دے- د بړوزې قبيلي کيمل خيل او بجل خيل په انګه، لوئي، خرکۍ، آوېشاه، انځروشاه ،لره المازو، بره المازو، چينګۍ، بډالۍ اوشينکوڼۍ کښي آباد دي ـ دغسي په شکرو، شاهي تنګے،بره المازو،سيوۍ،جاني شاه اوپه ډبر کښي يعقوب خيل،نتوخيل آباد دي ـ بدان د ګدي خيلو انعام دے ـ عمرے د فدائي خيلو دے کوم چي د خار نواب ته د چنګازو په بدل کښي ورکړے شوے وو- د خادائي خيلو سيرۍ دي دغه شان شاګو د بړوزې خاوره د خو د اوريازې سيّرۍ ده ـ

اوريازې اکاخيل په کځ، کريوڼ، بنډارۍ او کرياڼې کښي آباد دې ـ ګيکي،وړه خرکۍ اوتڼۍ کښي پيره خيل دي په ډابيرې،ځپرې،تير باندکۍ اومڼو ځيګل کښي فتح خان خيل دي چي بره برخه په کښي د سلطان خيلو هم شته ـ ککه اولندۍ د خاتون خيلواود شرعلي خيلو په شريکه ده ـ تڼرۍ کښي اوريا زې آباد دې خودبړوزې سيرۍ ده ـ

برمکازې په لره موخه بره موخه،چنارشاه اومينه کښي آباددي شپږ برخي برمکازې په شرغشو، ډهيرئ،بره سيوئ کښي آباد دي،ډومه ډوله اوانعام خور چينه ګئ د برکازې انعام دے ـ په ډمه ډوله کښي برمکازې شجاع خيل، تسکور، چارسوخيل، ښوروا خيل، پورې غاړي، حجم خيل، بلورې، کاسه خيل، ګبرخيل چي بابا خيل ورته هم وئيلے شي اواثيم خيل آباد دي په چينه ګئ کښي برکازئ،شامي خيل، انورخيل،جان خيل،کمرخيل ،کوټي خيل او جعفرخيل آباد دي ـ

د يوروايت مطابق بړوزې دبرکازې رور ګڼلے شي خوخپله برخه يي د سالارزوسره بيله کړې ده"دا وو دوړماموند په حقله هغه غټ خيلونه چي په تفصيل سره بيان شو چي د دي شجري په راغونډه ولو کښي اونګزيب خان او عاشق خان ډيره منډه کړي ده او خپلي قبيلي شجره يي راغونډه کړي ده چي تاريخ به هميش د دوي نوم ژوندے ساتي ـ د دي نه علاوه د وړماموند په زمکه هنګران، کولالان، کافرګي، رنګريزان ،مغل ،هندکيان، زرګران ،سرکاڼې، ملايان ،باچاګان، چغجي حيبجيري هم آباد دي په هندوراج کښي د بړوزې شوتن او ورسره د اوريازې هم دي

اوداسي د ډمبرو ناؤ د برمکازي دے د وټاپورخانان هم مغل خيل دي ـ

د ماموندو موجوده حالات

نن صبا په باجوړ کښي څه داسي وړې وړې ملکۍ شته چي دهرخيل يومشر په کلي کښي ملک ګڼلے شي خو د تيروخت کوم ته چي د پښتو د وخت ملکان وئيلے شو يا دهغوي بچي نمسي يا په نسب ورګډ خلق دي يا په بعضي ځاېونو کښي په غير پښتنو کښي هم داسي مشران جوړ شوي دي چي پلار نيکه يي ملکان نه دي تير شوي خود خپل قام مشري ورته په غاړه ده چي اکثر دغه ملکي د خپل کلي پوري محدوده يي خو اوس وخت کښي هغه د پښتو د دورچي د۱۹۰۰ء نه وړاندي وو ختم شوے دے بيا چي مغل د دې علاقونه بےدخل کړے شو نوخانۍ، ملکۍ او داسي نوابي شروع شوي چي اکثردا خانۍ يا ملکۍ د نواب زير اثر او نواب به د فرنګي زير اثر وو ـ هغه که په هندوستان کښي د هر ځاے ملک ، خان، نواب وه ـ خوبيا دا ټولے ملکۍ،خانۍ اونوابۍ 1969ء په مکمله توګه ختمے شوي دي چي دغه ملکانو،خانانو،نوابانو بچوته ملکان،خانان اونوابان وئيلے شي چي بس يو

اعزازي نوم دے چي اوس هم دا ملکان،خانان،نوابان د خپلو کلوعلاقو ستونزي د حکومتي چارواکونه بغير حل کوي اوکوشش کوي چي اولس خوشحاله يي ـ

په اوسني وخت کښي په ماموندو کښي بدلون راغلے دے خلق سياسي شوے دے اګر چي د تعليم کمے په کښي شته خوبيا هم خلق د سوشل ميډيا سره مخ شوي دي ـ اومشران هم دا کوشش کوي چي بچي له د ټوپک په ځاے قلم ورکړي ـ

دغه رنګ دلرخلوزو، برخلوزو، ترخو، لغري او د کمرملکان دي اوبيا عمرے ملک هم دے چي دوي بيل بيل خلق ګڼلے شي اوداسي هم وئيلے شي چي هر سړے د خپل کلي پوري ملک دے چي په دي ملکانو کښي ملک سلطان زيب هم د قام دپاره کوششونه کوي بل په مجموعي توګه د باجوړ د ماموندو مشري د لرخلوزو ملک آيازخان کوي چي دے د مشرئ خبره کوي اوځه حده پوري کوشش کوي چي ماموند قبيله په اتحاد شي هغه مسّلے حل کوي کومي چي د پلار نيکه دوختو راروانې دي بل د ګبري څه خلق داسي خلق هم شته چي په غټه سطحه نه خوبيا هم دا خپلے علاقے مشري کوي اود ستونزو د لرے کولو دپاره خپل کوششونه کوي بل د ملک

خيروجان خان ځوے ملک امان خان په خپله سيمه ملکي کوي دي سره د دي چي په لره غړی اوبره غړی کښي شهتار ملک او نعمت الله خان ملکې کوي د معلوماتو ترمخه د لوې ماموند طور طريقه دوړماموند نه جدا ښکاري چي په لوې ماموند کښي د ملکی هغه رواج راروان دے اوپه هرکلي او علاقه کښي يوملک شته چي د کلي او علاقي ملکي کوې او داولس په ستونزو کښي خپل کردارادا کوې په اوسني وخت کښي په ماموندو کښي ډاکټر خليل الرحمن چي په موجوده وخت کښي ناظم دے ډاکټر صيب د مشهور شاعر او اديب لال ذاده ساګر صيب د قام سړے دے۔

د ماموندو چي کوم پخوانے خلق وو۔ هغوي د تعليم نه ناخبره وو۔ غټه وجه هم داوه چي په هغه زمانه کښي دلته د تعليم رواج اوبل سکولونه وغيره هم نه وو اوبل د خان ازم دور وو۔ چي هغوي تعليم له څه قيسم توجه نه ورکوله بلکه د جنګ جګړواود ټوپک دور وو ۔ چي چا به ښه نښه بازي کوله نو هغه به تورزن وه خواوس وخت کښي په خلقو کښي يوقسم تبدلي راغلے ده چي خلق د قبائلي نظام نه ډډه کوې ۔ او د تعليم ميدان خپله وي چي ورسره سياسي او سماجي شعور هم راغلے دے چي د اوسني وخت په

لحاظ اوس خلق څه لږ ډیر تعلیم یافته شوي دي او ورسره دسوشل میډیا سره هم مخامخ شوي دي دغه رنګ په وړ ماموند کښي دذپخوا راسي د ملکۍ دور تقریباً ختم شوے دے ۔

بهرحال د برو زي قبیلې چي کوم ملک دے چي ملک خالد خان دے نوموړي په تیر الیکشن کښي برخه اغستتي وه ۔ ډیر ښه پوزیشن یي اغستے وه د خپلې حلقے نه دآزاد امیدوار په توګه یي الیکشن کړے وو۔ چي د خپلې قبیلي دپاره ښې هلې ځلې کوې اود اولس د صلحي دپاره خپل کوششونه کوي ۔ کوم چي دزمانے نه د خلقو په زړونو کښي ترخوالے وو ملک خالد کوشش کوي چي دا تریخوالے ختم شي اود خلقو په مینځ کښي روغه راشي د ملک خالد پلار فقیر صیب اونیکه امیرزمان خان هم د خپلې علاقې اوبیا دوړماموند دپاره ډیرکوششونه کړي دي چي دوي په کومه علاقه کښي اوسیږي دهغه ځاےعمرې په نامه یادیږي داسي نورهم ډیر سیاسي خلق دے چي په کښي ګل ظفر خان چي د ماموندو ایم این اے هم پاتے شوے دے د اوریازې قبیلي سره تعلق لرې اودهغوې د خوشحالۍ دپاره خپلې هلې ځلې کوي ۔

د ماموندو زمکه مروروې افغانستان طرفته نرمه ده چي اکثر پشکال موسم پري ډیر ښه راځي خوبل طرفته باجوړ طرفته د پشکال موسم اکثر زیات وې په باجوړ کښي بیا فصلونه ډیر زرغونیږې ـ اکثر د خلقو فصل په جوارو،غنمو،شړشمو او داسې په څه مقدار کښي د ضرورت دپاره خلق سبزیانے کوې د خلقو زیا تره کاروبارونه د تجارت سره مخامخ دې داسي په کښي ډیر خلق د ضرورت دپاره غوا، میخه، بیزه هم ساتې خو داسي ښکاري چي خلق عموماً د نوې دور سره مینه لرې بعضي مشران په کښي د ملکۍ او د پولیټیکل ایجنسئ دور خوښي خو اکثر نوې کل سیاسي او د نوې دور خوښې ـ په باجوړ کښي دلته عموماً باغات نشته په تیر وخت کښي دلته دمالټو یوغټ باغ وو ـ خو د باجوړ چي کوم حالات راغلې وو په هغي کښي دغه باغ تباه شوے دے اوداسې هم وئیلے شي چي د دي باغ مالټي ډیرے مشهورې وې ـ

د سالارزو تاریخ

سالاربابا چي د موسی بابا دویم ځوې وو ـ د دا خپل نوم الیاس وو ـ چي د ترکلانو د لښکرمشر وو ـ او اکثربه په جنګونو کښي دے کمانډر وو ـ چي د فوځ په سالار هم مشهور وو ـ سالاربابا له الله پاک ډیراولاد

ورکړے وو۔ په ترکلانو کښي دويمه لوې قبيله ګنړلے شي کوم وخت چې ترکلاني د لغمان نه د ملک متِه خان بن شمو په مشرئ کښي د لوې باجوړپه لورې راغلو اودلته په باجوړ کښي ورته حيصه ميلاوشوه ۔ د دې نه وړاندي د دې سالارزو زوړ نوم بابو قره يا بابو کره وو ۔ د دي متعلق مولانا خان زيب په خپل کتاب"باجوړ د تاريخ په رڼا" کښې خپل بيان داسي کوي"د سالازو زوړنوم بابو قره وو دا نوم ورته د يو بزرګ په نسبت ورکړے شوے وو ۔ چي د خواجه تاران دوه ځامن وو ۔ يوسيد کري بابا اوبل انځربابا ۔ د کري بابا په نوم په تير پخوا وخت کښي موجوده سلارزوته بابو قره وئيلي شوې وو "۔

دغه شان د معلوماتو نه دا واضحه ده چي د سالارزو د راتلونه وړاندے د خواجه تاراڼ او د مير حيدر ګبري اولادونه دلته آباد وو ۔ چي اکثر ورته تاجک يا سواتيان هم وئيلے شي ۔ چي مير حيدر ګبرې د منګلورسوات د باچا سلطان اوليس نائب وو۔ او داسي هم وئيلے شي چي د ترکلانو نه وړاندي دلته مغل حکومت د مغل نه وړاندي ګبري د ګبرو نه وړاندي محمود غزنوې حکومت وو او د دا نه وړاندے هندو هزم د هندو هزم نه وړاندي دلته بدمت وو ۔ چي ترسوات،بونير،باميان،هزاره وغيره پوري ئې خپل

حکومتونه کړي دي ـ چې دا تاران،ګبري،سواتیان د محمد غزنوي سره د جهاد په غرض دلته راغلي وو ـ چي په قام پښتانه وو- اوس یي اولادونه د وطن په مختلیف ځایونو کښي آباد دي چي په سوات نیکپي خیل کښي د تاړان په نامه یوغټ کلے دے چي څه درے څلورسوه کورنۍ لري چي کله څه هغه ځاے ته لاړم اوپښتنه مي وکړه نو دهغه ځاے خلقو ماته اوئیل چي مونږ ترکلاني نه یو اود دي خاوري اصلي خلق یو دغه رنګ د سوات کالام نه بره یو وړوکے شان کلے دے چي د ګجر ګبرال په نامه یادیږي ځما خیال دا دے چي په باجوړکښي چي کوم تاران او د ګبري خلق دے دا ترکلاني دي چي حلال خیل دي خود کلي په وجه ورته نومونه ورکړےشوي دي ـ څنګه چې ترکلاني د ترکستان په وجه ترکلاني، ترکاڼي،ترکي یا ترکمند،ترکزۍ وغیره نومونو باندے یاد شوي دي ـ

مخکښي هم د دي خبري یادونه شوے ده چي د سالار بابا خپل نوم الیاس وو ـ چونکه هغه وخت کښي به دهندوانو سره جهادونه کیدل الیاس بابا دهغه وخت یو نامتو سالار وو- چي اوس یي اولاد په سالارزو یادیږي ـ بیا د سالارزو ډیر ذیلي ښاخونه دي چي په افغانستان کنړ، باجوړ،سوات،مردان اوداسي د وطن په مختلیفو سیمو کښي شتون لري بل د بونیر چي کوم

سالارزې دي چي ځان ته يوسف زې اوبيا الياس زې وائي خو ځما دا ذاتي خيال دے چي دا او د باجوړ سالارزې يوه کوړمه ده ولي چي د نيکونو نومونه يي يودي ـ داسي ښکاري چي دا به هم د محمود غزنوې په وختونو کښي د بونيرجهاد له تلې يي او هلته به مشته شوې يي اوپه يوسفزو به ورګډ شوي يي لکه څنګه چي په سوات کښي شمه خيل يا داسي نور په يوسفزو ورګډ دې ـ خومولانا خان زيب په خپل کتاب" باجوړ دتاريخ په رڼا" کښي ليکي چې يوښاخ يي په بونيرکښي دے چي په سلارزو سره اوس هم ياد دے اوبل ځاے کښي ليکي چي" مغل دښمنه مضبوطې قبيلې په نورو سيمو کښي تس نس کول غواړي"بيا مخکښي ليکي چي" هم دغه رنګ د سلارزو قبيله چي د مغلو سره په دغه وخت کښي جنګيدلئ وه د دې نه يي خلک راپاڅول اود بونير په سيمه کښي يي مشته کړل ـ خوامين الرحمن يوسفزې او سلطان غني جرنلسټ د بونير وائي چي دا سالارزي يوسف زي دي ـ

په تير وخت کښي دي د سالارزې دې قبيلې ډيرد مړانو ځوانان پيدا کړي دې چي ټول ترکلانې ورته د قدر په نظر ګورې چه په هغوې کښي الياس بابا، رکن الدين خان، عماد الدين خان(سعدالدين خان

)سدين(احمدالدين خان)امدک، ملک شموخان، ملک سرخابې،ملک مټه خان، ابراهيم خان يا برم بابا، هلال خان امير خان شمه خيل، ټونک نواب وِغيره ، او داسي نور ډير ځوانان تيرشوې دي چي ديادونے وړ دي خو افسوس چي د دي مشرانو تاريخ چا هم نه دے بيان کړے ځکه چي پښتون ته خپل تاريخ بد اود بل هغه ورته ښه ښکارې ـ

د تحقيق مطابق د سالار بابا دوه ځامن وو۔ چي د يو نوم رکن الدين خان اود بل نوم عماد الدين خان وو۔ خو تاريخ د عماد الدين اولاد نه دے ښودلے ـ بيا د رکن الدين خان دوه ځامن وو۔ سدين (سعدالدين) اوامدک (احمدالدين) وو۔ چي د دوي نه بيا د سالارزو څانګې جدا کيږې چي په سدين کښي دوه غټي څانګې دي لکه لره سدين اوبره سدين په بره سدين کښي دوه ښاخونه دې لکه کټي خيل اوسين خيل چي بيا کټي خيل په شپږ څانګو تقسيم دے اوپه لره سدين کښي څلور څانګې دې چي قلندرخيل،علي خان خيل،کنديان اومير خان خيل دې خو بعضي خلق دا هم وائي چي مير خان خيل د بره سدين ښاخ دے خوحيصه ورته په لره سدين کښي ميلاو شوې ده چي بيا په سدين کښي کټکي خيل،غالي خيل،شاني خيل،عمرخيل،ايسپ خيل،ښادي خيل،قلندر خيل اوککي خيل هم دې ـ

دغه رنګ په(امدک)احمدالدين کښي دوه غټي څانګي دي چي يوته لره مدک اوبل ته برمدک وئيلےشي په بره مدک کښي شمه خيل، ابراهيم خيل ،هلال خيل، تورخيل دي اوپه لره مدک کښي ميرداد خيل، محمود خيل، فتح خان خيل، حيدر خيل، سرګند خيل،اکاخيل،ګبرې او تاراڼ،جمال خيل،تراب خيل، غزن خيل، ملتان خيل اوملا سيدي دې ـ

مرادعلي خان شمه خيل سوات د خُلې وينا ده چي د رکن الدين خان دوه ځامن وو اود عماد الدين خان اولاد نه وو بيا نوره زياته وې چي شمه خيل د احمدالدين په اولاد کښي دي ـ دغه رنګ د حکومت هند د طرفه جارې شوے رپورټ چي په کال 1906ء کښي شائع شوے وو-] چې د "MILITARY REPORT ON DIR SWAT & BAJAUR" نوم دے ـ چي په هغې کښي د سالارزو شجره ليکې شوې ده چي د سالاربابا يي دوه ځامن سعدالدين او احمدالدين په نامه ښودلې دې اوس دا خبره د يادوني وړ ده چي په اکثر شجرو کښي يي سالار بابا د ماموند بابا ځوې کړے دے خو دا ما د ماموند د مشرانو نه هم تپوس کړے دے ـ او د سالارزو د مشرانو نه هم دوې په شريکه دا وائي چي سالاربابا د ماموند بابا کشر ورور وو-

رکن الدين خان سالارزی

رکن الدين خان د سالاربابا مشر ځوی وو ـ چي ډيرنر اوغيرتي ځوان تير شوے دے ـ نوموړي اول دهندوانو خلاف ډير جهادونه کړي دي اوبيا چي کله منګول دې پاکے خاورې ته راغلل نو دهغوې سره يي هم جهادونه کړې دي ـ د دي نه علاوه کله چي داعلاقه په څه وخت کښي د علاؤالدين خوارزم شاه په لاس کښي وه نوخاص کر ترکلانو د دوې سره ډير جنګونه کړي دي بيا چي په دي موقع د منګوليانو فوځونه هم په افغانستان را خواره شو ـ چي د وطن خلق ترينه دلته هم خلاص نه وو اوبيا ترکلانې هغه خلق وو ـ چي د ايران، ترکستان او د غور د وختونو نه د منګولو اصلي د ښمانان وو ـ چي صرف خابښي خيل نه بلکه ټول پښتانه د دوې اصلي دښمانان شوې وو چي په دې وختونو کښي په ايران، افغانستان، چين او پاکستان کښي د دوې نه هيڅ ځاے خلاص نه وو ـ چې هلته به د منګولپانو حملي نه وې ـ

رکن الدين خان داسي ډېر سړے تېر شوے دے ـ چې لاتروسه پوري پري يو ليکوال هم په دې نوموړي باندے ليکل نه دې کړي ـ چې صرف د ترکلانو دپاره نه بلکه د پښتنو او بيا د اسلام د اوچتوالې دپاره يي خپلې هلې ځلې کړې دي ـ چې د يادونې وړ دي ـ

د رکن الدين خان سالارزې متعلق مراد علي خان شمه خيل خپله وينا داسي کوي ـ "چې په سالازوکښې چې رکن الدين خان کمې مړاني کړي دي ـ نو هغه د يادوني وړ دي ـ چې په دغه وخت يو پښتون هم نوي کړي ـ چې د خوازم شاه او بيا د منګولو فوځونه يي په شاه تمبولې دي چې د ټولې قبيلي فخر وو"ـ

دغه رنګ چې په بخارا کښې د علاوالدين خوازم شاه آخرې مسکن وو ـ خوچې کله چنګيز خان بخارا ته خپل فوځونه داخل کړل او د خوازم شاه او د منګولو فوځونه يوبل ته مخامخ شول چې په دې جنګ کښې د خوازم شاه فوځ ډېر په بهادرئ وجنګيدو خو حال دا وو ـ چې د منګولو سره د هغه وخت نوې اسلحه وه ـ او دا خبره د چا نه پټه نه ده ـ چې منګول يو منلے شوے اوجنجو فوځ وو ـ چې د دوي مقابله کول څه اسان کارنه وو ـ نو په دې بخارا کښې د علاوالدين خوارزم شاه فوځ راګير شو ـ چې نور په کښې د منګولو سره د جنګ

طاقت نه وو۔ نو دوې بخارا پريخودو اوسره د خوازم شاه دوي د روس د کيپسين جزيرے ته وتختيدو او خوازم شاه خپل فوځ ته داهم اوئيل که اوس مونږ څه کوؤ خوهم نه شو کولے ۔ ځکه چي زمونږ ټول فوځ خوټول په ټوله مات شو۔ ولې چي د دوې هغه منظم فوځ د چنګيزخان نوکرانو ټول مات کړو ۔ او دوې يي تس نس کړو۔ دا يادونه هم پکار ده ۔ چي د منګولو کماندړ به د دوې د خاندان نه وو۔ دا نور فوځ به دوي په تنخوا نيولو ۔ چي دوې له به يي جنګونه کول نو بيا دې علاو الدين خوازم شاه خپل فوځ ته اوائيل که اوس مونږ څه جنګ کوو نو هغه به د خراسان (افغانستان) په علاقه کښې کوؤ۔ علاوالدين خوازم شاه ته دا پته وه ۔ چي هلته افغانان اوسيږي ۔ چي مونږه اوهغوې يوشان مسلمانان يو اوبل خوارزم شاه ته د امير کروړجهان پهلون د وخت د پښتنو د مړانو پته وه ۔ اوبيا چي د دوې نه وړاندے پښتنو کړے وي ۔ نو خوارزم شاه د دے ځاے نه سره د خپل فوځ د خراسان علاقې ته لاړوبل طرفته چنګيز خان خو يو هوښيار کماندړ وو ۔ نو هغه سمدستي په دي هرات باندے حمله وکړه او د ايران پورے دا ټول سرحدات يي فتحه کړو اودغه شان مخ په وړاندے روان شو ولي چي چنګيز خان د خپلي نشي په ټټو سور وو ۔ چي دا د خراسان دا علاقه چنګيزخان

خپل يوجنرل ته حواله کړي وه ـ دا خبره وړاندے هم ذکرشوي ده ـ چي د چنګېزخان چي سومره هم کمانډران وو۔ هغه ټول د دا د کورنۍ سړي وو ـ ولي چي هغه په چا اعتبار نه کوؤ۔ چي د دے کمانډرنوم قطيقو وو۔ چي د ته د قندهاراود افغانستان د ټوله علاقه حواله وه ـ خو چي کوم وخت قطيقو خپل فوځ قندهار ته داخل کړو۔ چي په دغه وخت کښي خاښي خيل په قندهار کښي ديره وو۔ نوپه قندهار کښي ترکلانو د دوې مخه ونيوله ـ چي د دواړه فوځونو يوبل ته صف بندي اوشوه اوبيا يوعام جنګ شروع شوو نزدے وه چي ترکلانو شکست خوړلے وې خوپه دي کښي دهرات له خوا د يوسف زو،ګګيانو،غورياخيلو اواتمان خيلو فوځونه په عين موقعه راورسيدو چي د قطيقوفوځ په شا وتنبيدو اودغه رنګ منګول فوځ ته شکست او افغانانو جنګ وګټو اود منګولو کوم فوځ چي تختيدلے وو پښتنو هغوي په يو درّه کښي راګيرکړو اومنګولو له ي تباهي وکړه چي په دي باندے د پښتنو حوصلے اوچتې شوي اوبيا دا د پښتنو فوځ ټول غزني ته لاړو د دے نه مخکښي چي په قندهار کښي جنګ وو۔ نوجلال الدين خوارزم شاه چي دعلاوالدين ځوې وو۔ چا خبر کړواو داسي هم وئيلے شي چي د دې نه وړاندے جلال الدين خوازم شاه دپښتنو سره ډيره مرسته کړے وه ـ چي دے سنګه خبر شوچي

منګولو په افغانانو حمله کړے د نو دے هم د خپل فوځ سره د غزني علاقي ته ځان ورسوو چي په دي غزني کښي درے ورځي يوخونړے جنګ اوشو چي د دے جنګ څه نتجه راونه وته او د دې جنګ کمان زمونږ دي رکن الدين خان کوله چي دے يوجنجو سړے وو - چي نوموړي د جمعي په ورځ د ټولومسلمانانو نه د دعا کولو غوښتنه اوکړه دغه شان مسلمانانو دوې له د جمعي په نمانځه کښي دُعا اوغوښته او د جمعے د نمانځه نه روستو منګول فوځ ته شکست اوشو اوخصوصا" زمونږ د دې رکن الدين خان داسي حکمت عملي وه چي څوڅو واره يي د منګولو دا فوځونه پسپا کړي وو چي د دې جنګ په نتجه کښي منګول فوځ په شا شول اوبيا پښتنو د دوي لارے ونيولې وجه هم دا وه چي منګول خو په جنګ کښي تکړه وو- خو د افغانستان دا لارے ورته نه وي معلومي او تاريخ ګواه دے چي په دې افغانستان چا هم ګټه نه ده کړي نو پښتنو ځاے په ځاے د منګولو فوځونه مړه کړو اوداعلاقه يي ترينه خالي کړه - بيا د دې روستو په دې غزني کښي د ټولو پښتنو يوه لويه جرګه اوشوه - بيا د پښتنو ټولو مشرانو دا خبره وکړه - چي دا غزنے خوڅوڅو وارے وران شوے دے - او اوس دا هم کيدے شي چي د محمود غزنوي صيب دا قبرمبارک وران شي نو په دي ټول

پښتانه اوبيا خاښي خيل رضا شو ل او دوي د دې ځاے نه لاړو د پروان علاقے ته چي د دې جنګ مشري رکن الدين خان کوله چي د دا سره د دا کشر ورور عماد الدين خان ملګرے وو۔ او مشري ځکه په دغه وخت کښي د دوي سره وه ۔ چي دا جنګ د دوي د علاقے قندهارنه شروع شوے وو۔ نو د دي جنګ کمان بيا ترکلانو کولو۔

کله چي چنګيزخان ته د دې جنګ خبر ورسيدو چي منګول فوځ په غزني کښي شکست اوخوړو نو هغه خپل جنرل قطيقو راوغښتو او دے يي معاف کړو ۔ چي چنګېزخان چرته هم خپل شکست خورده سړے نه وو معاف کړے ولي چي چنګېزخان يو هوښيار کمانډروو چي د قطيقوپه معافي باندے ټول فوځ حيران پاتے شو ځکه چي چنګېزخان ته دا پته وه ۔ چي زمونږ د داسي قوم سره جنګ دے چي هغه دومره د مرګ(شهادت) شوقيان دي سومره چي مونږد ژوند ارزومند يو ۔

بيا چنګېزخان خپل فوځ ته مخامخ شو اوټول کمانډران يي کينول چي دا څه ګران کار نه دے ۔ د پروان د جنګ کمان به زه پخپله کوم بل طرفته هر چاته د دې خبرے پته وه ۔ چي د چنګېزخان په وړاندے به چا خبره نه شوه کولے ۔ چي يو نوکر يا جنرل د دا خبره ردّ کړې

وې ـ خو صبوکتائي(چغتائې) ورمخکښي شو۔ اود چنګېزخان په پښو کښي پريوت اود هغه توره يي په خپل ستې کيښوده چي ځما سر قلم کړه ـ خوته به دي جنګ له نه ځي چنګېزخان ورته اوئيل چي لکه ولے به ځه دي جنګ له نه ځم نوصبوګتائي ورته اوئيل که ته دې جنګ له لاړے نود منګول د فوځ باب به ختم کړے شي ولے چي ته د منګولو سربراه يي که ته په دي جنګ کښي مړکړے شوي ـ نو منګول فوځ به ټول ختم شي نوپه دي باندے چنګيزخان پوحه شو نو چي اوس به څه کوؤ اوس ته اوايا ؟ ـ آيا د فوځ کمان ته کولے شي ؟ نو صبوګتائي اوئيل چي خاقان که ته حکم وکړي نوځه به يي هم کوم اوهيڅ څوک تا ته مخ نشي درګرځولے بيا صبوګتائي چنګېزخان ته اوئيل چي په منګول فوځ کښي ستا نه علاوه څوک زورور اوطاقت ور کمانډر دے نو چنګېزخان ته پته ولګيده چي دا کارد تولې خان نه بغير بل څوک نشي کولے چي په دغه وخت کښي تولې خان د چين خاقان وو۔ چنګېزخان هغه ته خبر ورکړو ـ چي ته او ستا فوځ دي د پروان جنګ له راشي چي هغه سمدستي سره د خپل لښکر د پروان علاقے ته راغے چي د پښتنو او د منګولو فوځ يوبل ته مخامخ شول چي د هغه وخت د جنګ قانون دا وو ـ چي اول به د دواړو لښکرونه يويو تکړه ځوان د مقابلے

دپاره رامخکښي کیدو اوبیا به عام جنګ شروع کیدو چي د دې مقابلے دپاره د رکن الدین خان ورور عمادالدین میدان ته راواتو ـ او په منګول کمانډریي حمله وکړه اوسریي ورله د تن نه جدا کړو چي د دې نه روستو عام جنګ شروع شو په دي جنګ کښي رکن الدین خان بیا هغه مړانے اوجنګي چالونه جوړ کړل چي منګول فوځ په تیښته شول ـ رکن الدین خان د کاکا زې یو ځوان ته حکم وکړو ـ چي د تولې خان مخه ونیسه ملک کاکازې چي په خپله لینده دتولې خان مرئ اوشته نوغشے د تولې خان د مرئ نه پورے راپورے اواتو اوتولې خان سر دلاندے راپریوت دا خبره د یادونے وړ ده ـ چي دا لینده د ښاروې د خکرونو نه جوړه وه ـ چي دا خکرونه یي د ښاروې د وجّې یعني په وجّے باندے تړلي وو ـ چي بیا برهان کاکازې ته په وراثت کښي میلاو شوے وه ـ چي ملک هبه پري وشتتلے شوے وو۔ نود تولې خان په راپریوتو باندے منګول فوځ منتشیر شو اوځه په غرونو ورسم شو او ځوک په سیندونو ورسم شول چي د بامیانه پورے دے پښتنو ځاے په ځاے مړه کړو ـ په دغه وخت کښي رکن الدین خان ځان تولې خان ته ځان ورسه وو ـ او د تولې خان توره،ډال،زغره چي د سروزرو جوړ وو په خپله قبضه کښي واغستو ولې چي تولې خان د هنرمند قوم

خاقان اوسپه سالار وو او ورسره د چین خاقان هم وو چي بیا رکن الدین خان د تولې خان په اس سور شو چي په دي موقع علاوالدین خوارزم شاه میدان ته راوراسیدو او د رکن الدین خان لاره یي ونیوله اوداړول سمول یي د رکن الدین خان سره شروع کړو علاوالدین خوارزم شاه اوئیل چي ته اوس دا د تولې خان دا جنګي سامان ماله راکړه ځکه چي دا علاقه زما د حکومت لاندے ده نو رکن الدین خان ورته اوئیل چي جنګ ما وګټو،فوځ زما خراب شو نو لکه تاله ځه ځنګه د تولې خان نه اغستےشوے څیز درکړم علاوالدین خوازم شاه ورته اوئیل چي ته خو زما نه لاندے سړے یي اوبیا ځما ماتحت یي نو ده ورته اوئیل چي لکه څنګه لاندې سړې یم زه خو د ترک بدرالدین خان نوسے او بیا د خپلې قبیلې ترکلانو سردار یم ځه تاله دا سامان نشم درکولے اوته چي ماته دا زور ښایي نوته چنګېزخان ته ولې خپل زور نه ښایي په دې کښي د رکن الدین خان وررور عمادالدین خان چنګیزخان ته اوئیل باچا سلامت ته دا اوایه چي ترکان خاتون اوس چرته ده چي په دغه وخت کښي د چنګېزخان په قید کښي وه اود علاوالدین ښځه وه اوبیا ته د میدان جنګ نه تښتیدلے یي او ټول جنګ دي د پښتنو په سر کړے دے چي و نشوه نو رکن الدین پري د تورے وار وکړو اوسر یي

ترینه جدا کړوچي په دي باندي د پښتنواو دعلاوالدین د فوځ جنګ ونختو چي په عین موقع د علاوالدین ځوې جلاالدین خوازم شاه هم راورسیدوچي دهغه فوځ هم په پښتنو یرغل وکړو اویوخونړې جنګ جوړ شو ـ ده دوه ورځو جنګ نه روستو جلال الدین په رکن الدین خان پسي قاصد ولیږو چي هرڅه اوشو د مسلمانانو قتل عام نه شو کولے خو بس شریعت به وکړو۔ دلته دا خبره د یادونے وړ ده چې یو تاریخ دان د تولې د وژنې واقعه نه ده لیکلے ولې چې دا کار په دې خراسان کښې دې ښنتنو کړے دے چې د تاریخ سره ناانصافې ده ـ

چي کله جرګه جوړه شوه نو رکن الدین خان پاسیدواو خوازم شاه ته اوئیل چي" لکه څنګه شریعت به وکړو او مسلمانې دي ته وې چي سړے ما مړکړو فوځ زما ختم شو بچي زما یتیمان شول تاوان ځما اوشو جنګ زما لښکر وګټو اود تولې خان توره،ډال،زغره اوآس ځمانه په زو اغستے کیږي " نوجلاالدین اوئیل چي دیت خو به خامخه ورکوئ " ـ نورکن الدین خان ورته اوئیل چي لکه څنګه دیت ، دا علاقه خو ستاسو د حکومت لاندے ده مونږخو د ټیکس سره سره دا علاقه هم ساتو چي د حکومت وخت کار دے ـ او دي سره سره درله جنګونه هم کوؤ چي لا جرګه ختمه شوې نه وه ـ چي په دي کښي غور شهزادګان راغلل چي بیا جلال الدین

دیت معاف کړو اود دې جنګ نه روستو د غور شهزاد ګان واپس شول اودغه رنګ ترکلاني خپلې مشرقي علاقي ته لاړل ـ

مولوي هدایت الله په خپل کتاب"هدایت افغاني" کښي لیکي چي "چغتائي (صبوګتائي) نے ۱۲۲۷ء میں سیاسی مصلحت کی بنا پر باجوڑ سے لاکر محلہ نقیباں کی میدانی زمین پر اباد کیا۔ چغتائی تموجن المعروف چنگیزخان کا بیٹا تھا ۔اس وقت اس کی حکومت خوارزم ،خراسان وافغانستان پر مشتمل تھی۔

ده دې خبر دلیل هم دا دے چي په دغه وختو کښي کوم چي ورته چنګېزې دور هم وئیلے شي ترکلاني په قندهار ،غزني کښي پاتے شوي دي ـ اوڅه کاکازې مامونډ به هم دغه وختونو کښي او څه به د محمود غزنوي په وختونو کښي تللي یي ـ لکه څنګه چي د بونیر سالارزي دي چي اوس ځان ته الیاس زي یوسف زي واې ـ هدایت الله سوهدروي یي خبره کوي چي دا کاکازې په میداني علاقو قابض کړي وو ـ او دا کیدے هم شي څکه چي په دي لوې هندوستان چي په کښي پاکستان هم شامل وو او افغانستان باندے ځاے په ځاے پښتنو د خانه بدوشې ژوند کړے وې ـ چي تاریخي شواهد یي شته ـ

بهرحال د دې جنګ نه روستو چنګيزخان په لاره په جلال الدين خوارزم شاه حمله وکړه ـ اود دريائے سپند په غاړه يې ورله ټول فوځ هلاک کړو۔ جلال الدين خوازم شاه سره د لس ملګرو سپند ته ټوپ کړو چي مړه نه شو او پورے لاړو سپدها پيښور تهکال ته ـ د دي متعلق سرالف کيرو په خپل کتاب"پهټان "کښي داسي ليکي" یہ جلال الدین ہی تھا جس کی بدولت چنگیزی حملوں کی افت مؤثر طور پر دریائے سندھ کے پار نہیں پہنچ سکی "بيا مخکښي ليکي" اس کے بیٹے جلال الدین نے میدان شجاعت دینے کے بعد اپنی غزنی کی جاگیر میں پناہ لی لیکن خود چنگزخان نے ان کا تعاقب کیا اسے پہاڑوں میں غالباً ٹوچی کے راستے پسپا ہونا پڑا۔ اور اخر کار وہ کالاباغ کے قریب دریائے سندھ کےکنارے انکلا ----- وہ چنگیز خان کے نظروں کے سامنے دریائے سندھ پیرکر محفوظ علاقہ میں چلا گیا ۔

بعضي خلق دا هم وائي چي د ځائے د نوښار علاقه وه خو بعضي خلق وائي چي دے د اټک پوري رسيدلے وو چي دې ځائے ته ګهوړا ترپ باغ نيلاب وئيلے شي ـ چي د دې ځائے روستو تهکال ته تلے وو۔

چي د معلوماتو مطابق د واقعات څه په کال 1227ء خواوشا کښي شوي دي چي تاريخ يي ګواه دے ۔

ملک سرخابي بن ملک شموخان(شمه خيل)

په کوم وخت کښي چي غوريا خيل په طاقت کښي ووهم په دغه وختونو کښي دل زاک(دلزاک) په لويه باجوړ،ننګرهار،کلپانئ،هزاره او داسي هم وئيلے شي چي تر چهچه پوري په دي خاوره د دوي حکومت وو چي د دې علاقو واګي اواختيار د دوي په لاس کښي وو ۔ چي دا د چا نه پټه نه ده اود دوي دا حکومت په موجوده مردان کښي وو چي په هغه وخت کښي به يي ورته کلپانې وئيله اوس هم د بغدادۍ مردان سره چي کوم نهر تلے دے دي ته کلپانې وئيلے شي بيا چي يوسف زې دي کلپانۍ ته راغلو چي يوسف زو ته مردان هم وئيلے شي او يوسف زو کښي د محاوره ډيره مشهوره ده چي"د مردانو ديګ په وار پخيږې " چي د دې مردان کلپانۍ نه به د حکومت فيصلې کيدلے خو کوم وخت چي يوسفزۍ قبيله د مغل باچا الغ ليګ دلاسه افغانستان کابل نه د پختونخوا سيمي ته جلا وطن شو ۔ او داسي وئيلے شي چي ملک احمد د يوې وني لاندے ټولو يوسف زو ته خطاب کړے وو۔

چي په دې وخت کښې دوې په تعداد کښي ډیر کم وو۔ چي دا جرګه د کلپانۍ د دله زاکو نه د پناه غوښتولو دپاره وه کله چي قاصد د کلپانۍ د دله زاکو د مشرانو نه د پناه درخواست وکړو ۔ چي په دې درخواست په کلپانۍ کښي د دله زاکو د مشرانو یوه لویه غونډه اوشوه چي په کښي د دله زاکو بارعبه اوعزت داره مشران په کښې شامل وو جرګے په شریکه دا فیصله وکړه چي دا هم زمونږ پښتانه رونړه دي دوې له پناه ورکول زمونږ اولین فرض دي بیا جرګے دا فیصله وکړه چي دوې له دي د دوآبے علاقه ورکړے شي خو ملک احمد خان دوي ته اوئیل چي دا علاقه به ځما د قبیلې پوره نشي ځکه چي زمونږ څه خلق هلته په کابل خواوشا کښي پاتے شوے دے ۔ چي هغوې به په مونږ پسې راځي الهذا مشران دي په دي فیصله غور وکړې په دي درخواست مشرانو دوي له د لوې باجوړ، عنبر ،دانشکول او داسے ورسره نورے نزدے علاقے ورکړي چي په دي باندے یوسف زې خوشحاله شول ۔

د دې نه روستو ملک احمد خان یوسف زي څه قبیلې باجوړ،عنبر،دانشکول اواشنغر ته ولیږلې چي اوس تاسو په ارام سره په خپلو سیمو اوسیږۍ ۔

په کوم وخت کښي چي د دله زاکو مشرانو په کلپانئ کښي د يوسفزو په درخواست جرګه کوله د باجوړ يو زورور اوطاقت ور ملک، ملک هيبو او د هغه ورور ملک جهان شاه په دي جرګه کښي نه وو رابللې شوې چي په دغه وخت کښي د باجوړ مشري د ملک هيبو په لاس کښي وه او د دله زاکو مشرانو د ملک هيبو د اجازت نه بغيرد باجوړ علاقه يوسف زو له ورکړه چي ملک هيبو په دي ډير خفه شواو چي کله د يوسف زو قبيلې د باجوړ په لوري راغلي ـ نو د ملک هيبوپه حُکم د دله زاکو لښکر په يوسف زو برغل وکړو او دوې يي په شا وتنبول او د دله زاکو مشرانو ته ئي کلپانئ ته قاصد وليږو چي تاسو څنګه ځما د اجازت نه بغير د باجوړ زمکه يوسف زو له ورکړي ده ځه دا جرګه نه منم او د باجوړ دا علاقه هيچا ته نه پريږدم د دي جنګ متعلق محمد يار خان مست خيل وائي" چي ملک هيبو قسم کړے وو چي ترڅو مي هم په وجود کښي ساه يي د باجوړ علاقه به هيڅ يو ځوان ته ورنه کړم " ـ

د دې جواب په نتجه کښي ملک احمد خان اول د دله زاکو مشران سره رابطه وکړه خو مشرانو دا جواب وو چي مونږ تاله د علاقه درکړې ده اوس ستا څنګه خوښه ده هغه شان وکړه ملک احمد بيا د يوسف

زو،مندنړواو بيا خاص کر د خاښي خيلو او داسي د نورو پښتنو سره رابطې وکړي او د خبرے په مز غړي يي پوحه کړل چي باجوړ مونږ ته حواله شوے دے اودلته ملک هيبو خپل ضد نيولے دے د ملک احمد په دې درخواست باندے د خليلو قبيله او بيا خاص کر د شيخ ميرداد خيل متي زې د خپل درے سوه مريدانو سره د لاشوړے مقام ته راغلو او د يوسف زو په صف کښي شامل شو ـ

د تاريخ په کتابونو اوبيا خاص کر د ترکلانو د خُلي وينا ده ـ چي په دغه وخت کښي د ملک شمو د مشرې نه روستو د ملک سرخابي بن شمو چي د ترکلانو يو مشهور او نامور سردار وو۔ او داسي هم وئيلے شې چي په دغه زمانه کښي کله چي يوسف زې د کابل نه بےدخل کيدو چي د ترکلانو يوجدا رياست د لغمان په نامه ياديدو چي دې جنګ له ملک سرخابي د ملک احمد په درخواست د صلحي دپاره راغلے وو۔ چي کله جرګه جوړه شوه نوملک سرخابي بن شمو پاسيدو اوملک هيبو ته مخامخ شو چي" اے د دله زاکو سرداره !تا ته ښه پته ده چي يوسف زې د مغل باچا الغ بيګ دلاسه د خپل ابائي وطن کابل نه بے دخل کړے شوې دي او بيا ستا د کلپانړې مشرانودوي له د باجوړ اوخواوشا علاقے د

پناه دپاره ورکړې دي ته او ستا قبيله دي په خپل عزيزانو پسي د کلپانړۍ علاقے ته لاړشې بيا نورو مشرانو هم ملک هيبو ته سوال منت وکړو چي د دي جرگے په موقع د ملک سرخابي ورور ملک متِه خان د جرگے مقام يعني لاشوړے ته سره د خپل لښکر راورسيدو چي په دي که ملک هيبو پاسيدو چي د ملک هيبو د خُلي الفاظ محمد يارخان مست خيل داسي بيانه وي" د کلپانړې دله زاک څوک دې چي ځما زمکه يوسف زو ته حواله کي او قسم يي وکړو چي خداے وحده هولا شريکه دے چي دا باجوړ ما د متې په زور نيولے دے ځه دا هيچا ته نه پريږدم ۔ ملک سرخابی ورته بيا مخاطب شو چي گوره ځه د لغمان نه د جنگ په اراده نه يم راغلےبلکه د روغې دپاره راغلے يم ته خپل ضد مه نيسه اوخبرے بے وجے جنگ ته مه بوځه او بيا خو دا څنگه پښتون ولې شوه چي ته يوبےدره وروړله پناه نشي ورکولے چي په دے باندے ملک هيبو سرتيزې شروع کړه ۔ چي سمدستي يي خپل لښکر ته اعلان وکړوچي په يوسف زوباندے حمله وکړئ چي يو درنه هم بچ پاتے نشې نوملک سرخابې بن شمو، شيخ ميرداد خان او خليل په دې ډير خفه شو اوبيا هم د دله زاکو لښکرد منع کولو کوښش کولو خو ملک هيبو د طاقت په اس

سور وو۔ هغه د چا څه پرواه نه ساتله نود ډير سوچ نه روستو ملک سرخابي د ملک ګهګر، ملک مير جمال خان منديزۍ اوشيخ مير داد او د خليلو سره د مشورے نه بعد خپل لښکر ته اعلان وکړو چي په دله زاکو حمله وکړئ ۔ بيا دې نورو مشرانو هم خپلو لښکروته د جنګ اعلان وکړو هم دغسي اوشوه چي د ترکلانو فوځ ډير په بهادرۍ وجنګيدو چي د ملک هيبو لښکر په شا شو۔ ملک سرخابي د خليلو او داسې دے نورو ملکانوته اوئيل چي تاسو د دله زاکود لښکر لارے ونيسئ ۔ چي دغه لښکرو يي لارے ونيولې او ملک سرخابې پخپله ميدانِ جنګ ته کوزشو وئيلے شي چي ملک هيبو ډير تکړه اوجنجو ځوان وو اوپه دوران جنګ کښي ئي ډير کسان مړه او ژوبل کړو چي په دي دوران کښي پائينده خان کاکازۍ په ملک هيبود تورے ګزار وکړو چي په دي باندے د ملک هيبو وار پارخطا شو اوسمدستي پري برهان کاکازۍ د غشې واروکړو چي غشے د ملک هيبو د مرۍ نه پورے راپوري اوتو او د خپل اس نه سر دلاندے راپروت چي مراد علې خان شمه خيل د دې متعلق داسي وائي "چي دا لينده د خارۇ د خکرونو نه جوړه وه چي پنځه سړو به نه شوه ويشتلے او دا به يي د خارۇ په وجّه تړلې وه چي يونيم ګز غشې به يي

وشتو "کله چي برهان کاکازي د ملک هبه مرئ او یشته اوملک هیبه د خپل اس نه سر دلاندے راپروت په دغه وخت کښي میر جمال د آس نه راټوپ کړو او د ملک هیبه توره اوزغره یي رواغستو"وئیلے شي چي دا توره اوزغره ډیر قیمتي وو چي د میر جمال د اولاد سره ډیر وخت پراته وو د ملک هیبود وژني نه روستو ملک سرخابي د ملک هیبو ورور جهان شاه د آس نه راوغوزه وو اوسریي ترینه قلم کړو چي په دے باندے د دله زاکو پاتےشوے فوځ په منډه شواو د ترکلانو ځوانانو د ملک هیبو فوځ په جندول باندے وروارولو اوداعلاقه یي د دله زاکو نه خالي کړه ـ

د دله زاکو د شکست نه روستو ملک سرخابي ټولوپښتنو ته مخاطب شو" چي مونږه یوسف زو له د باجوړ اوخواوشا علاقے د دله زاکو نه خالي کړي اوس تاسو په ارام سره په باجوړ اوسیږئ که چا دے باجوړته په بد نظر وکتو نو د هغوي به هم دغه عشر یي کوم چي د دله زاکو دے اوس مونږ خپل وطن لغما ن ته واپس ځو باجوړ مونږ تاسوله وګټو ستاسو دي مبارک شي" ـ بیا یي ورسره دا معاهده ولیکله که مونږ ته بیا ضرورت شو نومونږ به هم دے خاورے له په خپلو رونړو خاښي خیلو یوسف زو پسې راځو ولې چي مغل باچا الغ بیګ دا نه غواړي چي د

یوسف زو حلیف دې په لغمان کښې حکومت کوې ـ چي په دے باندے یوسف زې هم راضي شو اورسره یوه لوظ نامه ولیکے شوه ـ

ملک مټه خان بن شمو

د ملک سرخابې د وفات نه روستو ملک مټه خان چي د ملک شموخان ځوې او د ملک سرخابي کشر ورور او د خپلي قبیلې یونام تو سردار وو ـ او تاریخ ګواه دے- چي په هر میدان کښي ئي ډیرے مړانے کړي دي چي د ترکلانې د تاریخ یواهم باب دے د تاریخ مطابق کله چي ملک سرخابې په لغمان کښي په ۱۵۱۰ ء خواوشا کښي وفات شو نو د روایاتو مطابق د ترکلانو مشري ملک مټه خان ته حواله شو ـ په دغه وخت کښي په ترکلانو کښي هم وړے وړے سرداریٔ وي خود قبیلې سرداري د ملک مټه خان وه چي د ملک شموخان نه ورته په وراثت کښي پاتے شوے وه ـ په دغه وخت کښي ترکلاني په لغمان کښي د خپل ځانګړي ریاست خاوندان وو او داسي هم وئیلے شي چي کوم وخت کښې ملک مټه خان سردار کیدو نوملک شمو ډیر کمزورے شوے وو ـ او کله چي ترکلاني د الغ بیګ له وجي د لغمان نه بے دخل کړے شو او د باجوړ په لورې راغلل نوملک

شمو ورسره هم وو۔ چي په بابړے کاډوک تنداډوک کلي کښي دفن دے او قبر مبارک يي په شمه خيل بابا ياديږي الله پاک دي پري رحم وکړي ۔

کوم وخت چي د خليلو او يوسف زو په مينځ کښي ناچاقي پيدا شوه ۔ او د دې غټه وجه دا وه چي کله د يوسف زو يو قبيله د افغانستان په لورې روانه وه چي د خليلو څه کسانو پري حمله وکړه ۔ په نتجه کښي د ميررستم خان دوه رونړه او ورسره د عمر دوه ځامن قتل کړے شو ۔ عمر چي د هغه وخت يولوې سردار ګنلے کيدو ۔ د خپل مړو ځامنو جامي يي واغستې اود ګجو خان په مخه کښې ئېواچولې په دغه وخت کښي د يوسف زو سردار ګجو خان وو۔ چي ګجو خان يو ډير رحمدله او خدا ترسه انسان وو۔ چي ډير خفه شو او عمر له يي تسلّې ورکوله چي ته صبر وکړه غوريا خيل اوس په ډير طاقت کښي دي اوبله غټه وجه دا ده چي مغل د دوي مرستيال دي نو که اوس مونږ په دوي باندے حمله کوؤ نوظاهره ده چي مغل به يي کومک له راځي اوداسي هم وئيلے شي ۔ چي د يوسف زو اوترکلانو نه روستو غوريا خيل ډير په طاقت کښي وو ۔ چي يوقسم د نوابې شکل يي اختيار کړے وو او په وطن کښي ئي خپله من ماني شروع کړے وه او اکثربه يي په يوسف زو حملے کولے که يوسف

زو به څه جواب هم ورکوو نودوي به ورته وئيل چي دا خو زمونږه وطن دے تاسو خو لاروې راغلي يي چي په دي باندے به ګجو خان ته شکايت راتللو اخر ګجوخان مجبوره شو او خپله يوه جرګه يي وکړه او جرګے ته يي دغوريا خيلو له خوا ټولے مسلّې راوړاندے کړي چي دا خو بغير د جنګ نۀ نه کيږي پکارده ـ چي په دوي باندي فوځ کشې اوکړے شي چي ټول سرداران په دي متفيقه شو خو بيا د جرګے مشرانو دا خبره وړاندے کړه چي دا جنګ خو يوائې ګران دے پکار ده چي د لغمان لښکر په کښي شامل شي ولے چي هغوي زمونږ عزيزان دي او په هر سخته کښي يي زمونږ مرسته کړي ده ګجو خان بيا د ترکلانو په سردار ملک مټه خان پسي قاصد وليږلو چي د غوريا خيلو څه نه څه حل راويستل پکار دي چي ټولو سردارانو د جنګ فيصله کړي ده نوملک مټه خان هم د سردارانو خبره خوښه کړه اوجنګ له د راتلو وعده يي وکړه ـ

کوم وخت چي غوريا خيل او ترکلاني يو بل ته د شيخ پټور صوابي په مقام يوبل ته مخامخ شو نو د وعدے مطابق ملک مټه خان سره د خپل درے سوه کسانو د شيخ پټور محاذ ته حاضر شو چي ورسره دوه سوه اسونه هم وو ـ کله چي غوريا خيلو د

ترکلانو دا لښکر وليدو نوهسي يي ورته پښي خوله شوي دا ياد ساتل پکاردي چي د دريائے کابل په نوم چي کوم سيند په هغه زمانه کښي به يي دے ځاے ته د شيخ پتور يا شيخ تپور سيمه وئيله چي صوابۍ ته نزدے ده کله چي جنګ شروع شو نو ملک مټه خان بن شموسالارزۍ په غوريا خيلو يوه زبردسته حمله وکړه چي په نتجه کښي غوريا خيل ئي په شا وتمبيدل اګرچي غوريا خيلوته دا جنګ ډير اسان ښکاريدو او د خپل طاقت او ګنړ والي په نشه کښي غرق وو او ترکلانۍ پسي مخ په وړاندے روان شواو بيا پري يوسف زو حمله وکړه نوغورياخيلو ميدان پريښودو اودغه رنګ يوسف زو ته د ترکلانو د مدد په وجه يو لويه ګټه ترلاسه شوه کله چي ګجو خان د ملک مټه خان دا بهادري وليده کومه بهادرۍ چي به خلقو د دوي د مشرانو کوله نو د ملک مټه خان يي ډير تعريف اوکړو او ورسره يي دا وعده وکړه که مونږه په هره سيمه کښي يو خو مونږه يو خاښي خيل او رونړه يو د يوبل مدد په مونږباندے فرض دے کله چي د دۍ جنګ نه مغل خبر شو چي د لغمان حکومت اوس هم د يوسف زو سره مرسته کوي نو دوي د ځان دپاره هم خطره وګڼله او اوس دوي د ترکلانو سره مخالفت شروع کړو په دي وختونو کښي

مغل بيا ډير مظبوط شوې وو. چي د دوي مقابله ډيره ګرانه وه ـ ولې چي خپل پښتانه د هغوې فرمان برداره شوې وو. نو يوه ورځ يي د څه بهانے په طور خپل فوځونه لغمان ته دننه کړو چي په دغه عين موقع ترکلانې هيڅ ته جوړ نه شو چي خپل تحفظ وکړې او بيا خاښي خيل د دوې د علاقے نه لرے وو. او اوس په ترکلانو کښي دومره طاقت نه وو ـ چي د يوي لوې باچاهۍ خلاف بغاوت وکړي او دومره لوې فوځ له شکست ورکړي ـ چې مجبورا" ترکلانو د باجوړ سېمې ته هجرت وکړو ـ

نو ملک متِه خان د خپلې قبيلې د مشرانوسره جرګه وکړه چي په کښي ماموند، سالارزي، عيسوزي اواسماعيل زي شامل وو چي اوس مونږ له څه پکار دي نو ټولو ترکلانو دا مشوره ورکړه چي اوس مونږ هيڅ نه شو کولے او که کوۀهم نو ټول ترکلانے فوځ به تباه شي پکار ده چي لغمان پريګدو اولاړ شو په خپلو عزيزانو پسي د باجوړ سيمي ته نو ملک شمو خان چي په دغه وخت عمر رسيده وه دا خبره خوښه کړه چي هسي هم د لاشوړے په جنګ کښي د يوسف زو سره زمونږمعاهده شته نو په دي دعا آمين د خير اوشوه او ترکلانو ځان سره د خپلو قبيلو د کُنړسيمي ته راورسوو چي د تاريخ يو نا اشنا باب دے ـ چي د

خپل ذاتي حکومت نه بےدره شو اوس د يوسف زو د مدد محتاجه شو چي د دوي د عزيزان وو مشران رښتيا وائې چي لاس مات شي نو غاړے له ځي، نو ملک مټه خان ګجوخان ته د پناه د معاهدے مطابق د پناه درخواست وکړو ـ د دې درخواست نه روستو ترکلاني د باجوړ سيمي ته راغلل چي يوسف زو د ترکلانو ډير استقبال وکړو۔ او د خان ګجو په وينا يي دا علاقه ترکلانوله ورکړه چي محمد يارخان مست خيل د دې متعلق داسي وائي" چي اوس په جندول، ميدان،براوال اوباجوړچي څومره يوسف زې اوسيږې دا د خپل جائيداد خاوندان نه دي بلکه د يوسف زو نه پاتے شوے خلق دے ـ چي بيا روستو د اخوند خيلو نوابانو په وخت کښي ورته بعضي حيصے ورکړے شوې دي ـ

په کوم وخت کښي چي يوسف زو ته د دله زاکو نه داعلاقه پاتے شوه ـ نوشيخ ملي بابا د دې ويش وکړو چي څه وخته پورے ترکلاني په دغه ويش هم پاتے شوې دي ـ لکه څنګه چي سالارزې په بابوکره او سور کمرکښي پاتے شوي وو۔ چي د افغانستان او د پاکستان پوله ګنډلے شي دغه رنګ د ملک مټه خان وفات هم په بابړه کښي شوے دے چي اوس يي هم اولاد په بابړه باجوړ کښي استوګن دے خو ځما په

خیال په دغه وخت کښي بیا په شمه خیلو کښي داسي ځوان نه دے پیدا شوے ـ چي د ترکلانو دپاره یي هلې ځلې کړي وې صرف هغه شمه خیل چي بے ځاے شوې دي چي په افغانستان کنړ کښي ملکي اوپه سوات کښي خاني کوې ـ

امیر خان شمه خیل

امیر خان په کال ۱٦٦۰ء خواوشا کښي د چارمنګ سالارزي په بابړه سرکاري قلعه کلې کښي پیدا شوے وو ـ د امیر خان شجره نسب د ملک شموخان سره په ځلورمه پیړۍ کښي داسي رسي لکه امیر خان بن امیرالله بن امیر عبدالله خان بن ملک سرخابی بن ملک شمو خان چي په قبیله ترکلانے او بیا په ترکلاني کښي سالارزې او په سالارزې کښي شمه خیل وو ـ

کوم وخت چي په بابړه اوبیا په سالارزو کښي د ملک شمو د نوسو د ملکۍ دبدبه وه او دوي تقریباً په ټول سالارزو کښي ملکي کوله او دغه شان د امیر خان رونړو او د تره ځامن ډیر په طاقت کښي وو او په علاقه کښي ئي ځانګړے حیثیت لرلو ـ نودغه شان امیر خان او د دا رونړو به اکثرپه ملکۍ او په عزت به یي د یو بل سره جنګونه کول ـ او په معمولې

معمولې خبرو به ئې د يوبل سره نختي کولے ـ د الله پاک کار ته ګوره چي يوه ورځ د امير خان مشر ورور عطاءالله او پلار ملک اميرالله د شراکت د زمکے تماشے له تلې وو تر بورانون وسله په لاسه راغلواو پلار اوځوې يي مړه کړواو د دې روستو يي بيا هم خپله زوروتيا کوله خوچي کله د دوې په مينځ کښي جرګه جوړه شوه نود امير خان رونړه او د تره ځامن په جرګه کښي وران شول نو اميرخان او د دا رونړو د خپل تره دوه ځامن اوخپل تره اميرالله شهباز اوژلو اوبيا شپه ته شپه يي د سوات لاره ونيوله د امير خان وربړونه يعنې د عطاءالله ځامن د ماماګانو کره په کاډوک تنداډوک کښي ديره شو چي اولاد ئې هلته آباد دے ـ دوه رونړه يئ افغانستان ته لاړو او امير خان، بهادرخان اوغزن خان سره د خپلې موراو د اميرخان د بي بي سره د سوات لاره ونيوله چي سوات شکردرے ته راوراسيدو په دغه وخت کښي په شکردره کښي بهلول خيل او داسي نورېقبيلې اوسيدې چي دوي امير خان له پناه ورکړه خو فريد الله خان فريد په خپل کتاب"شموخيل څوک دي"کښي ليکي چي بيا امير خان واده د پير کلې د ميا ګانو د يوے ښځي سره کړے وو" د څه وخت نه روستو بهادرخان د تهانړے کلې ته لاړو اوهلته ديره شو

خوژوند ورسره وفا ونه کړه اوهم هلته وفات شو اوپه تهانړه کلي کښي دفن شو چې اولاد ئې نه دے شوے څه موده پس غزن خان، امير خان ته اوئيل چي زه د ديني تعليم حاصلولو دپاره د څوکنو په ميا عمر پسي څوکنو ته ځم خوته به ځان نه ښکاره کوي چي ګڼي څه د باجوړ ملک يم او داسي نه چي هغه د پښتو کارونه دلته شروع کړي ـ امير خان غزن خان ته اوئيل چي ګوره روره ما دلته يواځي مه پريږده خو غزن خان يوه هم نه منله اود څوکنو په ميا عمر صيب پسي څوکنو ته لاړو اوس امير خان په شکردره کښي يواځي پاتے شو چي کرونده به يي کوله ـ

يوه ورځ بنور صيب د خپل مريدانو سره د شکردرے کلي نه تيريدو چي د نمانځه وخت وو ـ بنور صيب د کلي په جماعت کښي وينا اوکړه چي د خپل وس مطابق ځما دې مريدانوله ډوډئ رواړئ خو هيچا ورته توجه ونه کړه او د کلي خلق په خپله مخه لاړو ـ بعضي خلق دا هم وائي چي دا ولي سينا بابا وو چي مراد علي خان او ځما نيکه محمد دوست خان به وئيل چي دا سړے سينا بابا وو ـ خو فريدالله خان فريد په خپل کتاب"شموخيل څوک دي"کښي ليکي چي"دا واقعات په هغه وخت کښي شوي دي چي په

هندوستان کښي د اورنګزيب حکومت وو او حضرت بنور صيب چي يومشهور بزرګ تير شوے دے او دهغه ځامن سوات ته راغلي وو۔ او د دې وجه داهم ده چي د سوات خلق ډيربے لارے شوے وو۔ او هميش به په جنګونو کښي اخته وو"۔

نو په دې عين موقع امير خان بزرګ ته اوئيل چي ځه به ډوډئ راوړم اوداسي وئيلے شي چي د خپلې قلبې لنډے غواې يي حلال کړو اوسره د لونګو وريژو يي بزرګ او د دا مريدانو په وړاندے کيښودہ ۔ کله چي دوې ډوډئ اوخوړه نو بزرګ تپوس وکړو چي ځوانا ! ستا څه نوم دے نو امير خان جواب ورکړو چي"امير"بزرګ ورته ډيري دعا ګانے وکړي ۔ اووې وئيل چي ځه بل ځل راځم نو ته به د الله پاک په حکم د" امير"نه" امير خان" شوے يي ۔ چي څه د دعا برکت وو او څه د دا د خپل عقل او خاص کر الله پاک احسان وو۔ چې د سېبُجنې پو لوې خان وتکلے شو ۔

څه موده پس امير خان په پټي کښي غاښور کولو ۔ چي د نيکپي خيلوڅه کسانو يوه ښځه رارو انه کړے وه اوښځې ډيرے چغې وهلې چي اے د برسوات خلقو په ستاسو کښي داسي څوک نشته چي ما د دې

سړونه خلاصه کړي چي په دوه پيسو قلنګ کښي يي راوانه کړي يم ـ وئيلے شي چي په دغه وخت کښي د نيکپي خيلو په برسوات باندے قلنګ وو ـ چي په خپل وخت به يي ترينه اغستو چي چا به قلنګ نه ورکوو نو اکثر به يي ورسره جګړه کوله چي په دغه وخت کښي په شکردره کښي د بهلول خيلو کلويغي وه چي د بهلوخيلو د ځوانانو په زړه کښي هم د نيکپي خيلونه يو قسم يره وه ـ ولي چي دوي ته هم د نيکپي خيلو د غضب پته وه که څه يي کولےهم خو څه ئي نه شو کولے نو چي کله امير خان د دې ښځي دا بے عرضي واوريده نو توره په لاس راغے او دا نيکپي خيلي ئي وزغلول اوښځه يي ازاده کړه ـ چي ته اوس په خپله لاره واپس ځه ـ مراد علی خان وائې "چې په دغه زمانه کښې به يو زمېدار هم په پټې کښې يواځې نه وو چې خپل د زمېدارو ګروپ به ورسره وو بيا د هرسړې سره به خپله توره وه بيا امير خان خو د باجوړ ملک وو چې په هرڅه پوحه وو "ـ خوچي کله کلي ته راغے نو د کلي خلقوورته اوئيل چي تا خو ډيربد وکړو د نيکپي خيلو جواب به څوک ورکوې ـ اوبيا مونږه د باجوړ د سړې ملګرتيا نشو کولے امير خان په دي ډير خفه شوبيا يي دوي ته اوئيل چي ګورې يو لښکربه جوړ کړواو د دوې د ظلم اود قلنګ نه به

هميشه دپاره خلاص شئ اوستاسو بچي به بيا تاسو ته دعاګانے کوي اميرخان ته د باجوړ د ابراهيم خيلو د وخت پته وه هغوي هم د مغلو د قلنګ نه انکار کړے وو۔ خو بيا هم د اميرخان ملګرتيا ته چا غاړه نه کينښوده او اخر چي امير خان مجبوره شو نو دے سره د کوړمي لاړړو عزيِ خيلو ته او هلته يي ځوانانوته دا خبره وکړه چي دعزيِ خيلو ځوانانو د امير خان ملګرتيا وکړه چي دعزيِ خيلو مشرانو امير خان له ئي سيرئ هم مقررکړه او يو لويِ لښکر يي جوړ کړو او سيبوجني ته راغلو او د ننګوالئ د غونډ سره يي د نيکپي خيلومخ نيويِ شروع کړو چي کله د سيبوجني خلقو د عزيِ خيلو دا غيرت ولېدو نو دوي هم د خپل غيرت د وجي د امير خان ملګرتيا ته غاړه کيښوده د مشرانو د خلې وينا ده چي د اشپږ مياشتو څه د پورے دا جنګ شوے وو ۔ چي ډير خلق په کښي مړه شوي وو چي روستو د تانړيِ خانخيل خانان رامخکښي ته شو او د روغي جرګه يي په تانړه کلي کښي جوړه کړه ۔ چي ورله د نيکپي خيل،عزيِ خيل او د سيبوجني مشران، چيِ اناخيل بهلول خيل،مندو خيل ،رنځو خيل،،زنګيِ خيل او داديِ لاړو چي ديِ د تانړيِ خانانو فيصله وکړه ۔ چي په هغه وخت کښي دوي د سوات وکداران کښلے شو

نودوي د سيبوجني او د نيکپي خيلو حد بندي وکړه چي د ننګوالۍ دغونډ نه بره د نيکپي خيلو څه قسم کاربه نه يي چي په دې امين دعا د خير اوشوه بيا د سيبوجني مشرانو هم هلته دا فيصله وکړه چي اوس مونږه له يو مشر پکار دے ـ نو د عزخيلو د مشرانو او څه د سيبوجني د خلقو په اسرار سره د خاني پګړۍ په امير خان باندے وتړلے شوه او دے خان شو چي دې خلقو امير خان له د خاني دپاره د خپل جائيداد نه شپيته روپے دوتر ورکړو ـ چي د خاني اخراجات به په دې پوره کوي ـ وئيلے شي چي په دغه وخت کښي خان ازم نه وو چي د سوات د خان ازم افتتاح د امير خان نه اوشو امير خان چي کله کلې ته راغے نو نوکران يي ونيول د هر پاؤ زمکے په سر يي ټوپک مار ونيولو اوټوله علاقه يي په خپله قبضه کښي واغسته ـ

بيا په کوم وخت کښي چي د اميرخان د خاني دبده وه ـ نو په دغه وختو نو کښي غزن خان د څوکنو نه هم راغےاو اميرخان ته ډير قار شو چي ما تاته نه وو وئيلې چي د باجوړ هغه کارونه به دلته نه شروع کوې ـ نو امير خان په خپله ديره کښي ناست چي نوکران اومعزز خلق ورسره هم وو په غزن خان پسي راپاسيدو ورته اوئيل چي زه ته خو ميراتي ملّا يي

ځه تا د ځان سره یوځاے نشم پریخودے خوبیا هم ورور وو۔ نو په شامیزي ګهړۍ نومي کلي کښي ورله سیرۍ ورکړه اوهلته دیره شو په هغه وخت کښي هم په دوي کښي جمال خان یو زورور ملک تیر شوے دے ۔ او اولاد اوس هم په ګهړۍ کلي کښي شتون لري چي په ملایانو یادیږي فریدالله خان فرید په خپل کتاب" شموخیل ځوک دي"کښي لیکلي دي چي دا واقعات څه په کال ۱٦۹۰ء خواوشا کښي شوي دي" چي د امیر خان وفات بیا په شکردره کلي کښي شوے دے چي د شکردرےپرائمري سکول شمال اړخ ته یي قبرمبارک دے الله پاک دي پري رحم وکړي ۔

د امیرخان د وفات نه روستو د دا ځوي قارخان بابا د پلارپه ځاے د پګړي خان شوے وو ۔چي د دا خاني د عزي خیل،شامیزي او سیبوجني پورے خوره شوے وه اوځما د نیکه محمددوست خان د خلي وینا ده چي قارخان یودینداره اونیک انسان تیر شوے دے چي د دا د خانۍ ټولے فیصلي به د شریعت محمدي صلی الله علیه وسلم مطابق د روننګار کلي په جماعت کښي کیدلے د قارخان بابا نه روستو د دا مشر ځوي سید حمدالي خان د پګړۍ خان شوے وو د نه روستو د دا ځوي بهرام خان د پګړۍ خان جوړ شوے وو دا هغه سړے چي مخکښي یي هم یادونه شوے ده چي ډیر

تکړه،تورزن اوجذباتي خان تير شوے دے چي د دا خانی په وخت کښي شمه خيل په دوه ځاے کښي تقسيم شوې وو چي يو خان بهرام خان وو او دويم خان چي بيا به ئې دي ته وړه خاني وئيله د مصنيف ورنيکه سادات خان د پګړۍ خان شوے وو۔ چي په جرګه کښي د غزن خان اخوند خيل نواب دير په وړاندے د سيبت خيلو او د جونا خيلو مشرانو په سادات خان پګړۍ وتړله اودے خان شو ۔ چي د ديرنواب صيب په خپل مقصد کښي کامياب شو او شمه خيل په دوه ځاے کښي تقسيم شو د دې نه روستو د سادات خان خاني په روننګار کلی کښي وه چي د روننګارکلې سيناخيل ملک تاجبرخان وائي چي د سادات خان خاني ډيره مضبوته خاني وه خپل اووه روپې دوتر ورسره وو چي د دا سره د دا د تره ځوې غزن خان شمه خيل ملکړے وو۔ خوسادات خان په دغه وخت کښي به ډير ظلم کولو او د دغه کلي د مياګانو په څه معامله کښي سادات خان ته خيرے وکړي چي د هغه خاني اواووه روپے دوترلاړشو په سيند لاهو شو ۔ روستو بيا د سادات خان ذهني توازن خراب شو چي د نه روستو خاني لاړه د دا د تره ځوي امير خان خالکارۍ خان له او ښالکارې خان د پګړۍ خان شوخو روستو دې خان له بيا چا خاض

توجه نه ورکوله اوځه د خپلو وړو خانانو د ملنډواوځه او د ګجر خان اوقند خان د وجے امیرخان خالکاریٰ خان خپله پګړیٰ په عرشلا خان باندے په پنځه زره روپے خرسه کړه چي په هغے سره د وړو خانانو زوال شروع شو چي جائیدادونه اوورشوګانے هرڅه ترینه لاړو په سیند لاهو شو ـ کله چي دعرشلا خان وفات اوشو نود وصیت مطابق دا پګړیٰ په جلال خان باندے کیښودے شوه چي د عرشلا خان ضم ووبیا کله چي جلال خان بیمار شونو د وصیت مطابق نظر خان د پګړیٰ خان شو ـ چي د مشهور تاریخ دان مرادعلې خان ډېر نیکه وو خوچي کله نظرخان دیر ته شړونتیا اوکړه نو د په ځاے محمد افضل خان د پګړیٰ خان شو بیا روستو ریاست سوات راغلے وو او د باچا صیب د لاس خانیانے شروع شوي او د پښتو د دور خانیانے ختم شوې وي - چي میاګل عبدلودود او سلطنت خان(خان بهادر)د امحمد افضل خان په ځائے خائیسته باچا رونیال خان د پګریٰ خان کړو چي دا خان د ۱۹٦۹ء پورے خان وو دا هغه وړه خاني وه چي د سادات خان نه شروع شوے وه اوپه رونیال خان باندے ختمه شوه الله پاک دي تهول اوبخي ـ مراد علې خان وائې چې کله د رونیال خان،خان کیدو نو او

لنـے د پگړۍ ول تري خوشحال د چپرياِل ميا تاؤ کړے وو او بيا ترينه چمن خان عرف نانا تاؤ کړے وو

بل طرفته چي کومه غټه خاني وه چي د امير خان نه قار خان ته او قار خان نه سيد حمدالي ته راغلي وه خو سيد حمدالي خان بيا خپل کشرانو رونړو چي محبوب خان،قهر خان،نور خان او عبدالله خان له هيڅ توجو نه ورکوله د دې خبرے غټ ثبوت هم دا وو ۔

چي کله قارخان وفات شو اوسيد حمدالي خان ته خاني په ميراث کښي پاتے شوه نوچي کله دير نواب له دوي د ماجب دپاره لارړ چي په هغه وخت کښي د علاقه د ديرد نواب په لاس کښي وه نو دير نواب تپوس وکړو چي خانه ته خو يواځي راغلې هغه واړه(کشران)خانان چرته دي نو سيد حمدالي خان ورته اوئيل چي خانه هغوي په لاره دي نوځکه دوي ته واړه خانان وئيلے شي چي د ديرنواب هغه الفاظ چي اوس هم په هغے سرهواړه خانان يادیږي ۔ حالانکه د يو نيکه امير خان اولاد دے ۔ د سيد حمدالي خان نه دا خاني بهرام خان ته او د بهرام خان د وصيت مطابق گجر خان د پگړۍ خان شوے وو ۔ اوکله چي گجر خان وفات شو نو د وراثت په توگه د گجر خان ځوي عمراخان د پگرۍ خان شو د دا نه

روستو د دا ځوي امير خان د پګړۍ خان شو اميرخان هغه سړے دے چاچې مياګل عبدلودود په خپل لاس باچا کړے خوبيا ورسره وران شو چي په بدله کښي امير خان ديرته شړونتيا وکړه نود دا په ځاے عبدالرحمان خان عرف شور خان کوم چي د مشهورمصنيف فريدالله خان فريد نيکه وو دے د پګړۍ خان شو ـ بيا کله چي عبدالرحمان خان د باچا صيب خلاف شو نو باچا صيب دے سره د شپږ شلو غوګن ټوپکو ګرفتار کړو اود دا په ځاے ئې هادي خان پاچا ګل د پګړۍ خان کړو۔ خوهادی پاچا ګل هم د باچاصيب د منصوبو خلاف وو۔ نوپه دي وجه د دا په ځاے ئي د دا ورور سردار خان يي د پګړۍ خان کړو چي سردار خان د شمه خيلو اخري خان وو خوچي کله رياست سوات راغے نوپه کال ١٩٦٩ء کښي د سوات نه د خان ازم اختيتام اوشو ـ دا هغه غټه خاني وه چي د امير خان باجوړ ملک د شکر درے نه په ١٧٠٠ء کښي شروع کړے وه او آخر دا چې د دا په نوسي سردار خان سيجبنړ خان باندے ختمه شوه ـ

په سيبوجني کښي شمه خيل ، شموخيل ، شماخيل په اووه کلو کښي اوسيږي چي رونيال، مياکلے ، سجبنړ، وينئ، ډاګئ، چمن لالئ ، فاضل بانډه، خار لکارۍ ، غوزانو چم او شوخدړه نومې کلې کښي

اوسيږي چې دا کلے د شاميزو په سيمه کښې دے خو په تېر وخت کښې رشيد خان عرف حکيم بابا د حکيم په توګه دې کلي ته تلے وو چې هلته د مير خيلو سره مشته شو حکيم بابا هغه سړے وو چې د انګريزانو د وخت طبيب پاتے شوے دے دغه رنګ ورته د شمه خيلو ټوله شجره او تاريخ ياد وو ـ اوس د دا ځامن عالم ګير خان او د شمه خيلو مشهور تاريخ دان مراد علي خان په دې کلي کښې ژوند کوې ـ چې ډير ميلمند دوست او عزت داره خان دے دا دې نه علاوه شمه خيل په باجوړ بابړه، کاډوک، تنداډوک، کنړ،مردان کښې ژوند تيره وي د مشهور مصنيف مولانا خانزيب د خلې وينا ده چې شمه خيل په بابړه وغيره کلو کښې اوسيږي چې دا چارمنګ اوبيا د ناوګۍ تحصيل برخه ده بابړه څه شپږ سوه کوره کلے دے چې دا ټول شمه خيل دي د چارمنګ دا خاوره په اصل کښې د سالارزې خاوره ده ـ

په سوات کښې چې کوم شمه خيل دي دوې تقريباً اتيا فيصده تعليم يافته دي چې په مختليف محکمو کښې په سرکاري اوغير سرکاري عهدو کار کوي څه لګ ډير خلق باهر وتلې دي خو نور عموماً دلته مشته دي په سياسي توګه دوي هم ښه دي چې په هره پارټي کښې خپل ځانګړے حيثيت لري چې په هغے کښې په

فاضل بانډه کښي جهان شير خان،شافهد خان چي شاه فهد خان په اوس وخت کښي د ويلج کونسل ناظم دے په تير وخت کښي مرحوم شاه عالم خان د چمن لالې چي په سياست کښي پوره حيصه اغسته او د ايم پي اے سيټ دپاره څوځو وارے ولاړ وو داسي رحمت علي خان هم خپلي سياسي هلو ځلو نه علاوه د اولس د خير خيګړے دپاره کوششونه کوي په ډاګئ کلي کښي وطن نواب خان،شير بهادرخان او واجد علي خان خپلي سياسي هلي ځلي کوي چي په تير وخت کښي واجد علي خان د يونين کونسل ګواليرۍ کم عمره ناظم هم ټاکلے شوے وو دغه رنګ په ويني کلي کښي عبدالوهاب خان چي اوس د ويلج کونسل ناظم دے او په تير وخت کښي هم د خپل ويلج کونسل ناظم وو او اوس هم ناظم دے په دي کلي کښي شاه دوران خان د جرګے معرکے او روغو جوړو دپاره د خپل اولس خدمتونه کوي بل شاه الله خان هم د کلي علاقے په سطحه سياست کوي، په سجبنړ کلي کښي په سياسي توګه شير بهادر خان کوم چي د سردار خان ځوې دے د صوبے په سطحه سياست کوي چي په تير وخت کښي د ايم پي اے سيټ ته ولاړ وو داسي په دې کلي کښي امجدحسين کمشنر کوم چې د سابقه پولټيکل ايجنټ حسين ذاده خان ځوې دے

، عبدالستار خان،عبدالحليم خان پروفيسر صيب اوبل د شموخيلو مصنيف فريدالله خان فريد د يادونے وړ دے که داسي مونږه اوګورونو په رونيال کلي کښي کمال خان شمه خيل چي په تير ځل د اين اے سيټ ته ولاړ وو اواوس هم د اين اے د سيټ دياره خپلي هلي ځلي کولے خو کامېابي ورته نصېب نه شوه په تير وخت کښي عصمت الله خان چي د يونين کونسل ارکوټ نه نائب ناظم متخب شوے وو په موجوده وخت کښې آفتاب خان هم د خپلے علاقے دپاره د ترقۍ کوشيشونه کوي په دې کلې کښې کوم چې د مرادعلې د تره ځوې اعظم خان دے دے د صوبے په سطحه د خپل اولس دپاره سياست کوې ـ هم دا رنګے د مياکلي په سطحه امجد علي خان خپلي سياسي هلې ځلې کوي د دا خواهيش دے چي ټول شمه خيل رايوځاي کړم او په موجوده وخت کښي ئې يوه جرګه د شمه خيلے په نامه خپلي ديرے ته راغوختلي وه چي د يوالې خبره يي کوله الله پاک دي په خپل نيک مقصد کښي کامياب کړي په دي کلو چي د دوي سره کوم واړه خانان دي نودوي د خپل قوم شمه خيل سره اوګه په اوګه ولاړ دې چي په کښي د ډاګي تسنيم الحق د وينئ احمد خان عرف غټ خان ،رحمت خان د خالکارۍ عزيز خان، جاويد خان د سيجبنړ محمد طاهر باچا،

خالد خان ،مطيع الله خان ،کشورعلي خان داسي په رونيال کلې کښي ډاکټر خان، ظاهرشاه خان، مصطفي خان او دغوزانوچم ولايت الله خان قابل ذکر دي د دې نه علاوه ډير خلق ده شمه خيلو مرسته کوي اود دوي ملاتړ په نره باندے کوي ـ به دې وړو خانانو کښې انجينر شاه وزير خان او دا د ځوې چې په موجوده وخت کښې ډپټي کلېکټر دے بل پروفېسر سرزمېن خان او په اوسنې وخت د دا خوې ارتهو پيډک سرجن دے چې د پادونې وړ دې ـ

د افغانستان کوم شمه خېل چې دي دوي په اصل کښي د امير شمه خيل سوات رونړه دي کوم وخت چي امير خان،بهادرخان اوغزن خان د سوات لاره ونيوله نودغه رنګ د دوي دوه رونړه چي ملک کريم خان اوملک سعد علې خان وو ـ چي بيا روستو کريم په دانګ ګرام کښي ديره شو او سعد علي ډنډو ته لاړو اوهلته ديره شو دا هغه وخت وو چي د ډيورنډ کرښه نه وه وستلے شوې بل دهغه وخت د ارواج وو ـ چي چا به په خپل کلې علاقه کښي څه جنګ يا قتل وکړو اوبيا به جلاوطن شو بيا به پري د چا څه نه وو ـ ځکه ډيرخلق د باجوړنه سوات ته دير،بونير وغيره يا د ملک مختليف هيوادونو ته تلي دي اوهلته ديره شوي دي د ضابط حسن خان ملک کنړ د خلي بيان دے"چي

مونږه شمه خیل په اصل کښي د سالارزو بابړے نه راپاسیدلي یو چي اول زمونږ نیکونه د دے چارمنګ کښي په سرکاري قلعه په نامه یوځائے دے د هغه ځائے نه زمونږ نیکونه دلته راغلي دي بیا نوره هم زیاته وي چي زمونږ دوه نیکونه د افغانستان په لوري راغلي وو او درے رونړه د سوات علاقے ته تلي ووچي هلته میشته دي اواولاد یي هلته خاني کوي ۔

کوم وخت چي سعد علي ملک اود دا ورور ملک کریم د افغانستان په لوري لاړو چي هلته په دوي په ډونډونومي ځاے کښي دیره شو خوبیا روستو خپلي قبیلي سالارزي ورته حیصه ورکړه ولي چي د دوي کورنۍ د ملک شموخان د وخت ملکان روان وو چي بیا روستو سعدعلي ملک په دغه علاقه کښي لاس پښه وهل شروع کړو اوهلته سالارزو دے خپل ملک کړو د دا د وفات نه روستو ملک احمد رسول په احمد رسول پسي محمد رسول په محمد رسول پسي ملک سید د ملک سید چي دے ډیر زورور ملک تیر شوے دے چي یو قامي ملک وو د ملک سید نه روستو نور محمد ملک وو چي په د پسي غلام دستګیر ملک وو۔ او اوس په موجوده وخت کښي د مرکز کونړ په سطحه ملک ضابط حسن خان ملک دے چي د خپل قام سره ډیره مینه لري چي د دے نه وړاندے حاجي

نورمحمد ملک چي په ډندو ملک هم مشهور وو چي نن صبا د دوي سره ښه کافي زمکے هم دي چي څه دوه دوه نيم سوه کورنۍ دي چي په دوي کښي تعليم يافته خلق هم شته او بل دا چي په اوسني وخت کښي د دوي هلکان په هالينډ، امريکه، فرانس، جرمني او دغسي په ډير ملکونوکښي موجود دي ـ داسي که د نرنګ کوټکي په حساب سره مونږ اګورو نوهلته د شاه عالم خان اولاد ملکي کوي چي په دوي کښي اول حضرت محمد د نرنګ ملک تيرشوے دے په د پسي دوست محمد ملک چي د اولسوالۍ په سطحه يي ملکي کوله د دا د وفات نه روستو اول خان ملک د دا نه روستومفاد خان ملک وو او د مفاد خان نه روستو بيا ملکي د دا د تره ځوې حاجي اکبر خان ملکي کوله اوبيا د دا نه روستو غلام ملک وو په اوسني وخت کښي سيراج ملک د دې علاقے مشر ملک ګڼلے شي بل کوم چي دے د شورى' غړے دے داسي ملّا حزب الله د علماء د شورى' معاوين دے دغه رنګ ضابط حسن خان چې د شمه خيلونه د اولسوالۍ او د مرکز په سطحه ملک دے ـ چې زما سره ئې په تاريخ کښې ډېره مرسته کړې ده ـ

بيا د امير خان بل ورور چي ملک کريم چي اولاد يي په دانګ ګرام کښي شرۍ درّے کښي استوګن دي

چي په دوي کښي ملاجان ملک مشر ملک وو په هغه پسي ګل ملک وو په ګل ملک پسي شهید تورحاجي ملک تیر شوے چي په اوسني وخت کښي یي ځوئ ګل حاجي د جلال آباد کښي اوسیږي چي په دوي کښي ډاکټر نظیر او حاجي سلطان مشهور کسان دي ۔

اوس په افغانستان کښي چي په مهمندو کښي کوم شمع خیل دي نو د هغوي د نیکه شمه ګل نوم چي هغه ترکلاني نه دي اوکه نور د باجوړ، سوات، مردان او داسي د کنړ شمه خیل دي نو د یونیکه ملک شمو خان اولاد دے دلته دا خبره هم دیادونې وړ ده چي په اسماعیلزو کښې هم شمو خیل دې چې دوې د اسماعیلزې قبیلې سره تعلق لرې ۔ اوس کومه لویه قبیله چي په بابړه وغیره کښي آباده ده ۔ نو دوي زمونږ رونړه دي چي ډیر غیرتیان خلق دے خپله جرګه اوملکي کوي چي په اوسني وخت کښي په کښي ماصم خان ملک دے چي د قام د خیر خیګړې دپاره خپلے هلي ځلي کوي په تیر وخت کښي په کښي د چارمنګ په سطحه چي ملک ولایت خان وو اوبیا د هغه نه روستو یاد خان ملک وو چي د ټول ښه تکړه اوبارعبه ملکان وو خو دا داسي علاقه ده چي د تعلیم ډیر کمي په کښې دے خلق په خپله علاقه روزګار کوي چي باهر ځایونوته ډیر نه دي

تللې ـ په تېر کلونو کښې دوې په فرېد الله پسې سوات ته راغلې وو چې زما ورسره ملاقات شوې وو ـ

د ابراهيم خيلو تاريخ

د ابراهيم خان يا برم بابا پيدائيش په کال 1550 ء خواوشا کښي پيدا شوے دے چي د هلک والې د وخت يي د پښتو په جنګونو کښي حيصه اغسته ـ د ملک متېه خان د وفات نه روستو بيا په شمه خيلو کښي داسي څوک نه وو چي د سلارزو مشري يي کړے وې نو هم دا وجه وه چي اکثر به مشري د برم بابا په غاړه وه بيا داسي هم وئيلے شي چي د دې نه وړاندې يعني په کال 1519 ء کښي مغل يا تېموريه هم په بعضي علاقو راخواره شوې وو ـ چي د پښتنو او بيا د يوسف زو سکون ختم شوے وو- چي په دغه وخت کښي يعني په کال 1540ء کښي ترکلاني هم د لغمان نه بے دره شوي وو ـ او سالارزي په بابوقره کښي مشته وو ـ

داسي وئيلے شي چي په سالارزو (بابوکره) کښي يوه غونډې ده چي په دي باندي برم بابا د خپلي کوړمي سره اوسيدو چي په لاره يو ملنګ بابا سره د خپلو

مريدانو تيريدو چي دي غونډي ته راورسيدو نو ډير وړے شوے وو ملنګ د يو کور دروازه وټکوله او ورسره يي آواز وکړو چي مونږ له ډوډۍ راکړئ داسي هم وئيلے شي چي دا ملنګ د هډي ملا په نيکونو کښي يو وو چي په ملنګ بابا مشهور وو ـ د ملنګ په اواز سره برم د کوره راوتو چي وي کتل چي دا خو ملنګ ولي بابا دے نو زر يي رامنډ کړه او بابا ئي کينولو او کورته لاړو اواُوګره يي بابا له راوړه ـ چي دا د ګرمۍ موسم وو اوپښتانه د بيګمو وريژو او سره د شمولو په يوځاے کولو ته اوګره وائي چي دا ساده او اوخوندور خوراک ګڼلے شي ـ خوچي کله ملنګ کاسه خلي ته کړه نو کاسه لاندے پروته ـ په دي وخت کښي دا ملنګ ډير کمزوے شوے وو ـ نو برم لاړو او کاسه "کنډولے" يي بيا د اګرے ډک کړو اوپه خپل لاسويي بابا ته ونيولو ـ کله چي ملنګ اګره ګوټ کړه نود ابراهيم نه يي تپوس وکړو چي ځوانه ستا څه نوم دے نو برم جواب ورکړو چي برم (ابراهيم)نو ملنګ اسمان ته دواړه لاس پورته کړو اوپه چغه يي دا دُعا اوکړه "خدايه برم د سالارزو خان کړي" ملنګ دا دعا په دومره اوچت آواز سره کړي وه چي په بل پټي کښي د برم بل ورور هلال خان دا آواز واوريدونو هغه هم په ملنګ پسي رامنډه کړه اووي وئيل چي" بابا څه د

برم وروړ هلال يم ماته هم د برم غوندي دعا اوکړه"منلګ ورته اوئيل چي" څه الله پاک دي دسالازو د جرګي مشر کړه"دا هغه د ملنګ بابا هغه دعا وه چي د زړه د اخلاصه ئي کړے وه چي بيا روستو برم ته د سالارزي خاني او هلال ته د سالارزو د جرګي مشري ميلاوشوه اولا تروسه پوري ده ـ

د دې نه وړاندې په دې علاقو يعني باجوړ باندے مغلو قبضه کړے وه اوداسي هم وئيلے شي چي په کال 1598ء کښي مغل باچاجلال اکبر ډير بيما ر شوے وو چي د دا ملاقات د سيد ابراهيم بخاري بابا سره اوشو چي په دغه نيته کښي بخاري صيب د سالار رومي اجميري مريد وو چي مغل باچا جلال الدين اکبر ته يي ډيرے دعاګانے وکړي ـ په دې دعا سره اکبر باچا جوړ شو نومغل باچا جلال الدين اکبر د تانبے يوتخته وليکله چي په هغے يي ليکلې وو"

چي د باجوړ علاقه د مومند د کمالې د نحقي غر اوداسي جندول د انبار پورے او د شمال په طرف د براول اوکنړ علاقے د نرنګ، شورتن، اسمار، شونګرې دغه رنګ د مشرق په لوري چي پنجګوړه په کښي هم شامل وه دا علاقے يي ورله بطور جاګير ورکړے وو يعني د دې علاقے چي به کوم ماجب

راتلو نو دا به د بخاري خاندان له راتلو چي يوقسم حکومت يي ورته حواله کړے نه چي د ترکلاني زمکه يي ورله تورانې وړکړې وه لکه څنګه چي په سوات کښي د باچا صيب حکومت يا په دير کښي د اخوندخيلو نوابي وه نو ټوله زمکه د دوي خو نه وه البته عشر او ټيکس به خلقو ورکو بيا دې مشرانو خانان، ،ملکان جوړ کړي وو چي يو قسم تنخواه به يي ورله ورکوله چي ماجب به ئې ورته وئيلو خو د وخت د تيردو سره د سيد ابراهيم بخاري او بيا اسماعيل او چي چورک بابا ته خبره راورسيده نومغل په خپله د انګريز دلاسه اوبيا د خپلو غلطو له وجي کمزوري شووو ـ نو دا هرسه تري پاتے شو او يوځل بيا دا زمکه ترکلانو په خيل لاس کښي واغسته که نه چورک بابا يا بل چا ترکلانو له دا زمکه يا د دې جاګير نه ورکو او نه دا د چا خوښه وه چي خپله زمکه دې هسې يا د مغلو د حکومت لاندے خلقو ته حواله کړې بله غټه وجه ترکلانې او يوسف زې خو د مغلو دښمنان وو ـ بيا ولې ئې دا زمکه په ترکلانو باندے تقسيمه وله د دې شاته په دغه وخت کښې برم خيلو زور وو ـ

د ملک مټه خان بن شمو نه بعد ابراهيم خيلو سر راپورته کړو او ترکلاني يوځل بيا خپل مقام ته ورسيدو ـ چي دا يو تلخ حقيقت دے بل د دې غټه وجه دا هم ده

که چرے دا زمکه د چورک بابا په لاس کښي وه نو د دوي هغه جائيدادونه څه شول چي بيا ورسره صرف سيرۍ پاتے وي -

وئيلے شي چي يوه ورځ دي غونډي ته په کوم ځائے کښي چي برم او هغه ورور هلال اوسيدو چي په دوي پسي د سيد ابراهيم سړي د قلنګ دپاره راغلو برم بابا د قلنګ ورکولو نه انکار وکړو او سړي يي هم وزغلول چي په دي باندے خبره مغل باچا له لاړه چي د سالارزو دغونډي خلق د قلنګ نه انکاري دي نو مغلو په دوي باندے د حملي کولو ارده وکړه چي برم بابا خبر شو نو هغه د سالارزو خلق راغونډ کړو اودوي ته اوئيل چي ترکومي پوري به مونږ د مغلو د ظلم زياتي برداشت کوؤ- زمونږ پلارانونيکونو د دوي حکومتونه نه دي منلي نومونږ.ه يي څنګه اومنو نو اول د برم بابا سره سلارزي ملګري شو بيا ماموند، عيسوزي او اسماعيلزي چي د يو تحريک شکل ئي اختيار کړو- او کله چي د مغلو فوځونه راغلو او دوي پري يرغل وکړو او هر طرف نه راګير کړو چي په دي جنګ کښي برم بابا داسي منصوبے جوړي کړي چي مغل په شا شول او ترکلانو دا جنګ وګټو اودغه رنګ سالارزې قبيلي د برم بابا په سر د خاني پګړۍ وتړله اودے ئي خان کړو- وئيلے شي چي په دغه وخت دا

دومره غټه خاني نه وه خو صرف د سلارزي پوري محدوده وه چي چارمنګ کوټکي يي ورله د خانے د اخراجاتو دپاره ورکړے وو د معلوماتو ترمخه دا واقعات څه په کال 1580ء خواوشا کښي شوي دي مخکښي هم د دې خبرے ذکر شوے وو چي دا وړه خاني وه چي د سالارزو او د مضافاتو پوري محدوده وه ـ چي د مغلو د کمزوري کيدونه روستو بيا دا خاني ډيره غټه شوے وه چي د نوابې شکل يي اختيار کړے وو که داسي اوئيلے شي چي په باجوړ، دير، سوات، بونير وغيره کښي د خان ازم شروعات د ابراهيم خيلونه شوي دے نو دا به بے ځاے نه يي او بيا د دې نه روستو په په کال 1700 ء خواوشا کښي په جندول کښي د مست خيلو خاني په دغه رنګ په سوات کښي د شمه خيلو خاني په دير کښي د اخوند خيلو خاني چي په هغه وخت الياس بابا د اخوند خيلو اولنے خان ګڼلے شي اوبيا د دې نه روستو په دېر ميدان کښي د بهادر شاه خيلو خاني بيا بنه روستو په ګمير کښي خاني چي دا بيا د حکومت هيند د وخت خانيانے وي اوداسي په دي وختونو کښي بيا د دې خانانو سره ملکان هم په نظر راځي ـ

د لوې باجوړ په خاوره د مغلوحکومت د 1519 ء نه شروع شوے وو او داسي وئيلے شي چي څه د کال

1730ء پوري په څه نه څه شکل کښي موجود وو ـ چي بیا کلو علاقو ته پاتے شوے وو خو دا یوښکاره حقیقت دے چي د 1519 نه ترکلاني او یوسف زي د مغلو د حکومت لاندے وو دغه رنګ تواریخ باجوړ کښي امین الحق لیکي "چي دا حکومت بیا روستو موزه خان د مغل حکمران حاتم بن نظام الدین نه په زورواغستواودغه رنګ یي د مغل حکومت ختم کړو " چي د مشرئ پګړئ پي د ابراهیم خیلو په نامه کړه ـ

ابراهیم بابا په کوټکي نومي کلے کښي پیدا شوے وو۔ او هم هلته دفن دے چي د دا د وفات نه روستو د دا ځوي کامران خان، خان شوے وو ـ د کامران خان نه روستو باز خان، خان شو د باز خان نه روستو د د ځوي قمرالدین خان خان شوے وو کله چي قمرالدین خان وفات شو نود دا په ځائے شمشرعلي خان خان شو بیا کله چي شمشر علي خان وفات شو نو موزه ته د خاني پګړي په سر شوه چي دا په خپل اهلیت د مغل حکمران حاتم بن نظام الدین د دي خاورے نه څه په کال 1680ء خواوشاء کښي بے دخل کړو چي د ابراهیم بابا نه روستو موزه خان په حقیقي معنو کښي د ابراهیم خیلو باني ګڼلے شي حاجي دوست محمد خان جندول د ابراهیم خیلو د خاني په باره کښي خپل بیان

داسي کوي" چي کوم وخت امير تيموربا چا وونود هغه په وخت کښي حيات خان د دې علاقے خان وو او بيا دهغه نه روستو نظام الدين حکمران وو چي د دا ځوے حاتم بن نظام الدين نه دا زمکه ابراهيم خيل خان موزه خان نيولے وه اومغل يي بے دخل کړي وو د ابراهيم بابا د دورنه روستو په هر ځائے کښي خان ازم سر راپوته کړے وويعني ځائے په ځائے به جنګونه کيدل بيا د مير عالم خان ابراهيم خيل په وخت کښي دا ناوګۍ اوخار يوځاے شوي وو دا نه بلکه په ډيرو موقعو داسي بيل بيل او بيا رايوځائ شوي وو دغسي سالارزي چارمنګ يعني د هغه وخت تقاضه وه ډير جنګونه به کيدل اوبيا په دغه وختونو کښي دباجوړ د سيمي نه خپل برم خيل او نورترکلاني هم بےدره شوي دي چي اوس هم د وطن په مختليفو سيمو کښي ژوند تيره وي حاجي صيب نوره هم زياته وي چي موزه خان په اصل کښي د برم خيلو باني ګڼلے شي ولي چي د دا په دور کښي هغه علاقے هم د ترکلانو ابراهيم خيلو په خاني کښي لاندے شوي وو کومي سيمې چي ترينه جدا وي"۔

د ناوګۍ خاني

د موزه خان نه روستو د دا ځوے منصوري علي خان څه په کا ل 1710 ء خواوشاء کښي د ناوګۍ خان جوړ شوے وو۔ چي بيا د ته حالات بلکل نرم وو او د ټول باجوړ واک اختيار به د باجوړ ناوګۍ نه کيدو بيا د منصوري علي خان نه روستو د دا ځوې يارمحمد خان څه په کال ۱۷٤٥ء کښي د ناوګۍ خان جوړ شوے وو چي روستو د دا ورور جان خان د دا په ځاے څه په کال ۱۷٤۷ ء کښي خان شو د جان خان نه روستو په کال ۱۸۰۰ ء خواوشا کښي د جان خان ورور بازمحمد خان خان شوے وو د بازمحمد خان نه روستو په کال 1773ء خواوشاء کښي حيدر خان د ناوګۍ خان جوړ کړے شو چي بيا د دا نه روستو د دا ځوې صفدر خان د ناوګۍ خان شو ۔

صفدرخان ناوګۍ خان

صفدرخان په کال 1840ءخواوشا کښي پيدا شوے وو۔ چي د پلار نوم يي حيدرخان اود نيکه نوم يي امير خان وو۔ صفدر خان څه په کال 1881ء کښي د ناوګۍ خان وټاکلے شو چي د پلار نيکه د وخت ډله د دا سره

مضبوطه وه نو د په خار باندے حمله وکړه او د میر عالم خان د نوسي دلارم خان نه یي د مٹ په زور خاني واغسته اودے یي د خار نه بےدخل کړو دا یاد ساتل پکاردي چي میر عالم خان ابراهیم خیل خان ووچي د اله یارخان ځوې وو بل چي کوم میرعالم وو هغه د مغلو نائب وو چي دهغه سره د هاتهیانو خپله دسته وه او په هغه وخت کښي د چا سره اسحله نه وه چي په غشو،لیندو،توروغیره به یي جنګونه کول اوبیا په برصغیر پاک وهیند کښي د ټولو نه وړاندے د ټوپک استعمال جلال الدین اکبر په کال1568 ء کښي د چتوړ د معاصرے په دوران کښي کړے وو۔ بهر حال د دلارم خان د معزوله کېدونه روستو صفدرخان په کال 1882ء کښي په پشت باندے حمله وکړه او د پشت خان سمیع الله خان چي د مدد خان ځوې وو هغه ئې د خانی نه بے دخل کړو چي دغه رنګ صفدر خان پشت هم په خپله خانې کښي یوځل بیا شامل کړواو په پشت یي خپل ځوې یوسف خان خان کړو وئیلے شي چي د پشت د خانی واګي به د ناوګی د خان سره وو چي څه دولس کاله پشت د ناوګی زیر اثر وو کله چي عمرا خان جندولي بابا جلاوطن شو او فرنګي د جندول او بیا د باجوړ،دیرواګي په خپلو لاسو کښي واغستل نو صفدر خان دا غوښته چي جندول هم په خپله خاني

کښي شامل کړي ولي چي د ا جندول په اصل کښي د ترکلاني خاوره وه نو په دے باندے په کال 1898ء کښي صفدر خان حکومت هیند ته درخواست وکړو چي د جندول خاوره دي ماته حواله شي خو حکومت هیند صفدر خان له د دې اجازت ورنه کړو خوبیا هم صفدر خان لاس اوپښه وهله چي د جندول خاني قبضه کړم خو محمد شریف خان اخوند خیل خان صفدر خان ته په هیڅ صورت د جندول خاوره نه پریښوده اوبل په دغه ورځو کښي محمد شریف خان ته د نوابۍ اختیار د حکومت هیند له اړه هم میلاو شوے وو اوبل د هغوي مرستیال وو نومجبورا" صفدرخان په شریف خان باندے حمله وکړه چي په دې جنګ کښي نواب صیب ته ډیر نقصان وراسیدو اود جنګ دا سلسله تر 1899ء پوري راونه وه هم په دي کال 1899ء کښي پولیټیکل ایجنټ په وړاندے یوه قامي جرګه اوشوه چي په دغه وخت کښي نواب شاه جهان خان اخوند خیل خان د دیر نواب وو په دې جرګه کښي د باجوړ اودیر ترمنځه حد بندي اوشوه چي جندول فیصله د دیر د نواب په حق کښي وکړے شوه دغه رنګ انګریز یوځل بیا په خپل مقصد کښي کامیاب شول چي ترکلاني دلته هم په دوه ځاې کښې تقسیم شول ۔

د صفدرخان نه روستو د دا ځوې محمد علي خان په کال 1916ء کښي د ناوګۍ خان وټاکلے شو خو په دغه وخت کښي ابراهيم خيل خانان ډيرکمزوري شوي وو چي ډيري علاقي ترينه جدا شوې وې او څه د ابراهيم خيلو په يوبل کښي د بے اتفاقې په وجه د خپلو سالارزو او ماموندو لښکر په محمد علي خان باندے حمله وکړه او دے يي د دې ځائے نه بے دخل کړو اود دا په ځائے ئې په کال 1921ء کښي احمد جان خان د برم خيلو خان کړو۔ بيا د دا نه روستو معصوم جان خان د پګړۍ خان شو ۔ د معصوم جان خان وفات په 1944ء کښي شوے دے اود دا په ځائےعبدالقيوم خان د ناوګۍ خان شو چي بيا روستو په کال 1978ء کښي عبدالقيوم خان د باجوړ اولنے سينيټر جوړ کړے شودغه شان د عبدالقيوم ورور بسم الله جان درے ځله د قومي اسمبلۍ غړے اوبيا د دا ځوې شوکت الله خان د قومې اسمبلۍ ممبر اوګورنر هم پاتے شوے دے بيا د شوکت الله خان ځوې هدايت الله خان هم په تير وخت کښي سينيټر پاتے شوے دے دا هغه غټه خاني وه چي د ابراهيم بابا يا برم بابا نه شروع شوې وه او په عبد القيوم خان باندے ختمه شوې وه مخکښي هم د دې خبرے ذکرشوے دے چي کله پاکستان راغے نو بيا خان ازم ختم کړے شو چي ده هغے روستو د دغه د

پګړۍ خانانو بچو ته خانان وئيلے شي چې د ناوګۍ خانان اوس هم هلته ميشته دي او خانې کوي اوس ورته هم دعلاقے مشري په غاړه ده ـ

د پشت خاني

داسي وئيلےشي چې کله موزه خان د ناوګۍ خان شوـ نو هغه بيا پشت په خپله خانۍ کښي راوسته نومدد خان يي د پشت خان کړو د مدد خان خاني ډير په ډول ډال اوشو اواولس ورته د خانۍ پګړۍ وتړله چې دا خان په اصل کښي د ناوګۍ د خان نائب وو چې په هره موقع به يي د ناوګۍ مرسته کوله وئيلے شي چې د واقعات په کال 1810ء خواوشا کښي شوي دي د مدد خان د وفات نه روستود دا ځوي سميع الله خان په کال 1850ء خواوشا کښي د پشت خان شو خوکله چې په صفدر خان خان شو په دويم کال يي په پشت حمله وکړه اوسميع الله خان يي معزوله کړو اود دا په ځاے يي خپل ځوي يوسف خان په کال1882 ء کښي د پشت خان کړو حالانکه دا خان هم د ناوګۍ د خان نائب وو خو صفدر خان ته د ا خبره خوښه نه وو ـ ځکه چې په بعضو خبروکښي به د پشت خان اختلاف کولو بل خوا سالارزو ته دا خوښه نه وه چې سميع الله خان دې بے

وجي معزوله کړے شي نوسالارزو لښکر چي د سميع الله خان ډله وه په يوسف خان يي حمله وکړه او دے يي ناوګي ته واپس وتمبوو چي په دې پښت اته کاله يوسف خان چي د صفدر خان ځوي وو خاني کړے وه او په نهم کال يعني په کال 1900 ء کښي دے د پښت د خاني نه بے دخل کړے شو او سالارزو يوځل بيا د مددخان ځوي سميع الله خان دپښت خان کړو ولي چي دے د سالارزو خوښ خان وو دغه رنګ په کال 1911ء کښي د سميع الله خان وفات اوشو او د دا په ځاے د دا ځوي محمد ظفر خان د پګړۍ خان شو د محمد ظفر خان د وفات نه روستو د دا ورور عبدالسبحان خان خان شوے وو چي د 1954ء پوري دے د پښت خان وو د دې خبرے ذکر مخکښي شوے دے چي د 1947 ء نه روستو پاکستان جوړشوے وونو دا رياستونه اوخان ازم يي په 1969ء کښي ختم کړو اودوي د پاکستان سره په څه معاهدو روغه وکړه او په پاکستان کښي ضم شو چي بيا روستو په کال 1985ء کښي عبدالسبحان خان د قومي اسمبلې دپاره وټاکلے شو چي د اولس اود وطن دپاره يي هلې ځلې نورے هم زياتے شوې ۔

د اسمارخاني

د معلوماتو ترمخه داسي وئيلے شي چي په کال 1850ء خواوشا کښي عبدالله خان د خپلي خاني اعلان وکړو په دي وختونو کښي ابراهيم خيل ډير بے اتفاقه شوي وو چي اول ترينه د پشت خاني لاړه اوبيا روستو په اسمار کښي عبدالله خان د خاني اعلان کړے وو چي د په ابراهيم خيلو اوبيا خاص په سالارزو کښي ځانله ډله جوړه کړے وه چي د دا خاني د دانګام، ساؤ، اسماراو ناړي پوري محدود وه ـ د عبدالله خان نه روستو د د ځوي کامران خان په کال 1874 ء کښي د اسمار خان شو چي په د پسي د دا ځوي حضرت علي خان په کال 1881ء کښي د اسمار خان وټاکلے شو د دې خان نه روستو طهماس خان د اسمار خان جوړ شوے وو د معلوماتو ترمخه د طهماس خان وفات په کال 1890ء خواوشا کښي شوے دے چي روستويي اولاد په کابل اوخه د مهتر چترال سره تلي وو ـ

د خارخاني

وړاندے د دې خبرے بار بار ذکر شوے دے چي په ابراهيم خيلو کښي د موزه خان نه بعد د خانۍ په سلسله کښي ډيره بے اتفاقي جوړه شوے وه اوحال دا وو چي هر ابراهيم خيل خان خاني غوښته چي ډير خلق په دغه

وختونو کښي بے وطنه شوي دي نو دغه رنګ اله يار خان په کال 1800ء کښي په خار کښي د خپلي خاني اعلان وکړو کله چي دے وفات شو نو د دا په ځائے مير عالم خان ابراهيم خيل خان په کال 1821ء کښي خان شو داسي وئيلے شي چي د ميرعالم خان خاني تر پيښوره پوري خوره وه چي دے د طاقت خاوند وو اوداسي هم وئيلے شي چي اکثر به ترينه خپل ابراهيم خيل خفه وو او هغوي به د دا نه ځان ته خطره محسوسه وله چي په دغه وخت کښي د سالارزو يومشر د دا نه ډير خلاف وو هغه د جلال آباد ګونر له لاړواو هغه ته يي خپل فرياد وکړو نو ګونر صيب سمدستي په خار باندے حمله وکړه اومير عالم خان يي معزوله کړو د دې نه دا پته لګي چي د مير عالم خان مغل نه بلکه ابراهيم خيل خان وو ځکه چي که دے مغل ګونر وې نو د جلال اباد د ګورنر به دومره په اسانه دا خان معزوله کوؤ ـ بهر حال په 1863ء کښي د دا په ځائے د دا ورور امان الله خان د خار خان جوړ کړے شو چي مير عالم خان ډيره موده خاني کړے وه ـ د مير عالم خان نه روستو د دا نوسے دلارم خان په کال 1882ء خان شو چي په دغه وخت کښي صفدر خان د ناوګۍ په خانۍ ناست وو چي د دا خار په خان دلارم خان باندے حمله وکړه او هغه يي د خانے

نه بے دخله کړو او دلارم خان په ځائے یي خپل ورور سردار خان د خار خان جوړ کړو چي حکومت هند د طرفه سردار خان ته د نواب لقب ورکړے شوے وو دغه رنګ صفدر خان د خار خانۍ هم د ناوګی د خانے لاندے راوسته بیا د سردار خان روستو د دا ځوي محمد جان خان په کال 1911ء کښي د خار خان جوړ کړے شو -

وئیلے شي چي په دغه وختونو کښي د ناوګی خان صفدر خان اسمار،خار،پشت د ناوګی د خانے لاندے کړے وو خوصرف د پشت خاني وه چي هغه د سالارزو په خوښه باندے سمیع الله خان ته واپس شوے وه چي دا خاني د پشت خان عبدالسبحان خان ته رارسیدلي وه چي دے د پشت اخري خان وو -

د برم خیلو متعلق حاجي دوست محمد خان د جندول وائي" چي کله برم خیل خانان ډیر بے اتفاقه شو نواکثر د جائیدادونو او د خاني دپاره یي یوبل نه انتیقامونه اغستي دي چي د دې په وجه ډیر ابراهیم خیل بے دره شوي دي چي په هغے کښي زمونږ نیکه مکّرم خان چي د قمرالدین خان ځوې وو د کورنی حالاتو په وجه مکرم خان جندول ته شړونتیا کړے وه"

چي اولاد يي اوس په منډا شينجي کلي کښي استوګن دے چي ښه تعليم يافته کورنۍ ده - په باجوړ کښي ورسره پوره جائيداد وو اوبيا د دوي نيکه دلته پوره زمکه جمعه کړے ده په دوي کښي دوست محمد خان ډير تکړه سړے دے چي د سالارزو د طرفه د سالارزو نمائيندګي کوي -

دا بره چي کوم ذکر اوشو دا د ترکلاني ذيلي ښاخ ابراهيم خيل خانان دي چي په چي اصل کښي د شمه خيلو د ترونو ځامن دي د لطيف ياد متعلق ابراهيم بابا د ترک بابا ځوي دے خو په دې خبره کښي هيڅ حقيقت نشته ابراهيم خيل اوس هم په خپلو علاقو کښي ژوند کوي چي د خپل قام د پرمختګ دپاره هلې ځلې کوي -

غالي خيل

غالي خيل د سالارزويوه لويه قبيله ده کومه چي د پاکستان د پښتونخواه په مختلفو سيمو کښ آباده ده او دغسي د لوې کور افغانستان په کونړ چغسري نورنګ او نورو ډيرو سيمو کښ هم آباده ده چي هلته په سکون سره خپل ژوند تيروي ډيره آمن پسنده قبيله ده د

پاکستان په سيمو کښ په باجوړ، سوات، شانګله وزيرستان، مردان، تخت بهائي او نورو بلهه سيمو کښ ژوند، تيروي په باجوړ کښ د باجوړ غالي خيل کوم چي په سالارزو کښ آباد دي ډير کلي دي غټ کلي په کښي د چنګړو يا د چينګارو په نوم دے کوم ته چي د قلعه ملک کلي وئيلے کيږي په دي کلي کښ قلعه ملک ګل عظيم خان او د سابق مولا غوندي خلق اوسيدل ګل عظيم خان ډي نر سړي وو د کوم بچي او لمسي اوس هم په دي کلي کښ آباد دي ـ او د صابق مولا صاحب خواله به د لري لري ځاينو نه خلق فيصلو له راتلو ـ اونومورړپه قلعه ملک ډير مشهور وو د علاقي غټي غټي جرګي به د دا په مشرئ کښي کيدلي قلعه ملک د کم چي خپل نوم غلام حبيب وو په 1893ء کښ د زمان خان په کور کښ پيدا شوي وو ـ د قلعه ملک بچي او نمسي اوس هم په دغه کلي کښي اباد دي چي د مشر ځوي نوم يي ملک محمد اسحاق دي او د بل تالو بانډه په دي کلي کښ سپين ګيرو کورنۍ ډيره مشهوره وه ټانګو نومي کلي يا شا کورونو، لر ډنډ، لره قلعه ،دري سري کلي، بر ماتوړ وربلي ،نارضه کلي يعني کوزه داسي اويم چي د سالارزي ډيره غټه او مشهوره قبيله دي ـ چي اکثر په باجوړ کښ به په اوس وخت هم زياتي فيصلي غالي خيلو مشرانو کړي وي او ډير لوي

لوې دشمني يي په دوستي بدلي کړي دې د شانګلي غالي خيل هم ډير ميلمن دوست او پياوړي پښتانه دي هلته چي کومه خبره سخته شي نو ما اوريدلي دي چي خلق بيا دا خبره کوي چي د غالي خيلو جرګه به پري وکړو ـ

کله چې د الغ بيګ د لاسه پۀ 1490ء يوسفزي درپدر شول او کابل يې پريښودلو نو د اندازې مطابق دغه د غالې بابا د ور نيکۀ عزيز دور وو.

د عزيز درې زامن وو اول بارک،دويم لقمان اؤ دريم احمد. د احمد دوه زامن وو يو جانکے او دويم قلندرچې پۀ تور قلندر ياديدۀ ـ د قلندر دوه زامن وو يو غالې چې اولاد يې پۀ غالې خيل ياديږي ـ دويم جان بابا.

د غالې بابا د پيدا کيدو پوره نيټه خو راته نده معلومه خو کله چې پۀ1515 عيسوي کال کې سوات د يوسفزو پۀ قبضه کې راغے اؤ د دې نه پس پۀ علاقه ډوما موجوده ضلع شانګله د قبضي دپاره يوسفزو اؤ نورو قومونو د حملې دپاره ملا وتړله اؤ د1656ء تر1702ء درې لوئ جنګونه وشول اؤ علاقه ډوما د تاتارى نسل کفارو اؤ څنې نورو قومونو نه يوسفزو تر لاسه کړه نو

بر غوربند د غالي بابا دپلار قلندر اؤ دهغه اولاد ته پۀ برخه کې ورسيدلو.

د غالي خيلو دوتر پۀ کاټلنګ د سوات سين نمر خاتۀ پله پۀ بنوړۍ ،چيکړۍ ،جرو ،د ضلع شانګلې غوربند علاقه اچرو،کوز غوربند کې اغوان .مټه، ټانګی،پيچو بانډه،پير اباد بانډه ،بنجاړ سر،ګنداؤالپورۍ کې دے .د دې نه علاوه غالي خيل خپل د ترۀ زامنو جنکې خيلو سره پۀ شريکه وسيدل چې د ګرزنده ويش دواران کې به يې کډې د سوات سيند نمر خاتۀ طرف ته تللی اؤ د هغه ځاے نه به نور کاڼا تحصيل ته راتللې.

د توريان ويش نه پس غالي خيل د کاڼا تحصيل پۀ کومو علاقو کې مستقل پاتې شول هغه علاقو کې د ذکر وړ علاقی دادي، لوګے، ګانشال، فيض دره ، نړيدلے، چيچلو د دې نه علاوه د ضلع شانګلې پۀ نورو کلو کې خوارۀ وارۀ غالي خپل هم شته کوموچې خپلو رونړو يا تربورانو سره د وړاندے يا پۀ څۀ نورو وجو خپل دوترے اونيکنې کلې پريښودلي دي اوځانله يې زمکې يا کوټې اخستلې دي اؤ د ژوند شپې ورځې تيره وي لکه د چکيسر تحصيل کروړې کلې کې د محمد رياض استاذ اؤ دهغه کورنۍ چې د 2023ووټر لسټ کې ټول لس کسان دي اؤ د چيچلو نه د محمد جهان حاجی اؤ

سيف الرحمن دوه کوره. خو پهٔ موجوده وخت 2023 کې د ضلع شانګلې تحصيل چکيسر ټول غالې خيل تقريباً پنځيشت کسان جوړيږي.

د تحصيل کاناآ پهٔ شاه پور خوړ،نوي کلې ،کوز کاڼا، شونيال سر ،شهيدسر اؤ ځنې نورو کلو کې هم غالې خيل شته دے اؤ ښهٔ تکړه کسان پکې موجود دي لکه اختيارخان ،فضل خان حاجي،سيد محمود، فرمان شاه پورى اؤ نور ګڼ خو دغه غالې خيلو مشرانو خپلې دوترې پريښودلې دي خو پهٔ غالې خيل يې ننګ ندے پريښے.

الله دى غالې خيل د بدې ورځې اوساتي خو کهٔ مسله راشي نو کهٔ غالې خيل دوترې کلو کې دي اؤ کهٔ پردوکلو کې نو پهٔ يو بل يې ننګ کړے هم دے ـ دغه رنګ په سوات باندې کښې غالې خېلو يوبه لوبه کورنۍ جوند کوې ـ چې مهتاب خان،ساجد خان په کښې د بادونې وړ دې ـ

د غالي خيلو خپل کلي دي لکه ډهرکۍ د ډهرکي خپله ملکي ده ـ د کوم ښکاره مثال چي ملک حفيظ الرحمن دي چي دا وخت د ټولي پاټا کومي چي اُووه ايجنسي دي د هغوي د ملکانانو سربراهي کوي اوخپل قامې خدمت جاري ساتي ـ د بل کلي نوم ماتوړدے کوم کښي

چي ملک ناصر ملک شير محمد ملک دلاور خان او د هغوی کورني استوګنه کوي دغسي کنډرو نومي کلي کوم چي خداي بښلي فضل واحد غوندي مرد زيړولي وو ـ ګل سلي ملک ځان له يو تاريخ لري ـ کوم چي د ملک سيد احمد پلار وو۔ د ډنډ نومي کلي فچي ملک خپل يو تاريخ لرې ـ

د شانګلي ترکانړو بانډه

ترکانړو بانډه د شانګلي الپوری نه شپږ کلوميټره د بيلي بابا د بازارګوټي نه شاته بانډه ده چي په دي بانډه کښي دولت نومي کلي دے چي د ډير وخت نه په کښي ترکلاني اوسيږي ـ په دے کلي کښي څه درے څلور سوه کورنۍ ژوند کوي چي د دوي سره خپل ځانګړي جائيدادونه دي ـ د دې ځاې خلق اوبيا د ترکلاني د باجوړ نه دلته د راتللو قيصه څه داسي کوي چي زمونږ نيکه بهرام بابا د خپل د تره ځامنو سره په اوبه خور وران شو چي د هغے په نتجه کښي هغوي زمونږ نيکه بهرام بابا مړ کړو نو زمونږ نيا ابي خپل وړوکے ځوې چي خدرے يي نامه وه چې عمرئې شپږ مياشتو وو په کودرنګ منګي کښي واچوو ـ او د سوات لاره يي ونيوله چي اول سيدوشريف ته راغله خودلته ورله چا

پناه ورنه کړه چي د دي ځائے نه شانګلي ته اواخر دا چي دولت کلي ته ورسيده چي په دغه وخت کښي اغوان بابا يو نيک سړے ګڼلے کيدو چي دي بي بي د اغوان بابا کره پناه واغسته ـ دا دهغه وخت يو قانون وو چي اکثرميا ګانو به خلقو له پناه ورکوله که دوي به چا ته خيرے وکړي نو دهغه کس انجام به بد وو نو دغي زنانه بابا ته خپل فرياد وړاندے کړو چي اغوان بابا د زنانه په خبره پوحه شو نو دي له ئي په خپل کور کښي پناه ورکړه بيا روستو څه ځلور پنځه مياشتي روستو دا ښځه مړه شو او د دې ماشوم پالنه اوس په اغوان بابا راغله چي بابا د دي ماشوم پالنه لکه د خپل بچي وکړه ـ

کله چي خدرے بابا ځوان شو نودې مدي خيل بابا اوئيل چي بچيا ! چي څه په خپل ژوند تاله حصه درکوم په دي باندي سره د خپل خاندان دے نوروقبيلو لکه بامي خيلو،شامير خيلو د دې خبرے خلاف وکړو خو اوس اغوان بابا خپله فيصله کړې وه بيا يي خدري بابا ته اوئيل چي څه ځويه !چي په کوم جائيداد ته لاړے نو هغه به ستا يي خدري بابا هم داسي وکړو او د يو غر په جۍ وختو اوپه بله راکوز شو چي اغوان صيب خدري ته اوئيل چي زه ته اوستا اولادونه دي په دي باندے

ژوند تيرئ نو ترننه پوري دا ترکلاني سالارزي بهرام خيل په دي ترکانړو بانډه باندے آباد دي ـ

څه موده پس بامي خيلو،شامير خيلواوداسي نورو خلقو د دوي کورونه وسيزل چي دا ترکلاني ځنګلونو ته وتښتيدو، ځاروي ئي ورله مړه کړو خو بيا روستو مدي خيلو اوکوهستانو د دوي مرسته اوکړه خوورسره يي يوشرط هم کيخودو که چرے تاسو د اوبو نه لاندے د فصل زمکے مونږ له راکړي نو مونږ به يو مرسته وکړو ترکلانو که دا نه کولے نوڅه به يي کول او اخر دي ته تيار شو چي بيا يو لوي جنګ ونختو چي مدي خيلو،کوهسانو او ترکلانو ته ګټه اوشوه اودغه رنګ دا ترکلاني دولت کلي ته دوباره راغلوچي مدي خيلو ورسره خپل ځلورمشران په دي کلي کښي ديره کړوچي اوس يي خاندان هم په دولت کلي کښي شته دعرفان الله دولت کلي د خلي وينا ده چي د خدري بابا قبر د دولت کلي د جماعت په خوا کښي دے ـ

نواب عامر خان ټونک نواب

مخکښي د دې خبرے يادونه ضروري ده چي ترکلانې د خپل ځائے نه د پښتو په دورکښي نوروعلاقو ته تلې

دي ـ نو یا خوئې د مټ په زور ئې ځانله زمکه نیولے ده یا یي خاني او نوابي جوړه کړے ده د هغے ژوندے مثال د سوات امیرخان شمه خیل چي خاني یي اغستي وه د بونیر سالارزي دي چي دومره زورور شوي دي چي څو کلي ورسره دي اوبیا ځان په یوسف زو کښي هم حسابه وي دغه رنګ غالي خیل چي د شانګلي پوره زمکه ورسره ده چي په دي شانګله کښي ورسره بهرام خیل هم دي چي پوره زمکه ورسره ده ماته داسي نه ښکاري چي په یو وطن کښي دوي د پښتو په دور کښي د چا محکوم پاتے شوي دي بل د دې یو بل مثال د ټونک نواب عامر خان هم دے چي د دوي نیکونه د محمد غزنوي صیب په وخت کښي د هغه څه د باجوړ نه تللي وو اوهلته په راجهستان ضلع ټونک هندوستان کښي استوګن شوي وو بعضي خلق دا هم وائي چي دوي هلته خلق عمرخیل سالارزي هم وائي ـ

وئیلے شي چي په دې خاندان کښي عامر خان یوتکړه ځوان پیداشوے وو چي ډیر تکړه او بارعبه ځوان ووچي اول دے په ۱۷۹۸ء خواوشا کښي د مهم سلطنت یشونت لاؤهولکر په فوځ کښي شامل شوے وو چي د خپل عقل په وجه دے د فوځ سالار جوړکړے شو کله چي مرهټه ته شکست اوشو نو په دغه وخت کښي د دا سره ډله مضبوطه وه اوبل په دې فوځ کښي پښتانه هم

ډیر وو ـ چي د ته ماحول بلکل واضحه وو او د د ا نه وړاندے هم په هندوستان کښي داسي وړے وړے نوابي موجودي وي نود دغه جنګ نه روستو عامر خان د خپلي نوابئ اعلان وکړو اوحکومت هند ورسره مرسته هم وکړه او د دا نوابي يي تسليم کړه ـ د دا سره په قبضه کښي ټونک،علي ګړه(رام پوره)او نمبهره وه کله چي به حکومت هند څه کاروائي کوله نو دعامر خان نه به رائے اغستو دغه رنګ عامر خان څه څلور دريشت کله نوابي کړے وه چي د دا د وفات نه روستو د دا ځوئ محمد وزير خان په کال ۱۸۳٤ء کښي د ټونک دويم نواب جوړ کړے شو د دا نه روستو په کال ۱۸٦٤ء کښې محمد علي خان نواب شو په نواب محمد علي خان پسي په کال ۱۸٦٤ء کښي محمد ابراهيم خان د ټونک نواب شو د محمد ابراهيم خان نه روستوسعادت علي خان د ټونک نواب جوړ شوے وو چي د حکومت هند د اړله د ته د سر خطاب ورکړے شوے وو ـ دغه رنګ د سر سعادت علي خان نه روستو نواب فاروق علي خان نواب شو د نواب فاروق علي خان نه روستو نواب اسماعيل خان د ټونک نواب شو چي د ۱۹۷٤ء پوري د دا نوابي وه چي دے د ضلع ټونګ اخري نواب تيرشوے دے ـ په د باندے د نوابي ا ختيتام شوے دے ـ

دا هغه عامر خان سالارزې وو چي په خپل لیاقت سره اول د فوځ کمانډر اوبیا یي د ټونک نوابي ترلاسه کړه او په کال ۱۸۱۷ء کښي یي ایسټ انډیا کمپنۍ سه دومر تعلقات جوړکړو چي عامر خان له یي د نواب خطاب ورکړو چي په دغه وخت د تور سپینو مالکان فرنګیان وو ۔

قاضي عبدالحلیم اثر سالارزې

قاضي عبدالحلیم اثرپه کال ۱۹۱۰ء کښي په فیروز پورساړو تخت بهائي کښي پیدا شوے وو۔ خو قاضي صیب په اصل کښي د باجوړ د سالارزو سره تعلق لرلو چي په قبیله ترکلانے هلال خیل وو د قاضي صیب خاندان د باجوړنه د بے ځائے کیدو وجه مشران داسي بیانه وي چي په کال ۱۸۹۵ء کښي چي کله فرنګیانوپه عمراخان جندولي بابا حمله وکړه ۔ نو په دې موقع د عمراخان سره د دا د ترور ځامن چي یو محمد کریم خان اوبل عبدالرحیم خان وو ۔ چي دا دواړه نو موړي ځوانان د قاضي عبدالحلیم صیب د ترور ځامن وو ۔ په دې جنګ کښي د عمرا خان سره شامل

وو چي بيا شهيدان شول ـ انګريز حکومت د دوي يو ورور جيل ته واچوو بل زمکے ترينه سرکاري کړي اود قاضي صيب پلار سيد کريم خان چي د عمراخان سره غازي پاتے شوے وو د دي ملګرتيا اوبيا د رشته دارييَ په وجه فرنګيانو سيدکريم خان د دې ځائے نه بے دخل کړو اوزمکه ئي ورله نيلام کړه بيا عمراخان چي افغانستان ته لاړو نو د قاضي پلارد دې ځائے نه کډه اوچته کړه او په تخت بهائي کښي ديره شو ـ

په اثر صيب خلقو ډير ليکل کړي دي ولي چي دے په پښتنو اوبيا خاص کر په ترکلانو کښي داسي يو سړے تير شوے دے چي د ليک اوسوچ په هراړخ يي خپل ژورنظر وړاندے کړے دے چي يو دورانديش نقاد، شاعر اواديب پاتے شوے دے چي په پښتو ادب کښي ورته يوخاص مقام حاصل دےاګر چي قاضي صيب د سکول تعليم نه وو حاصل کړے خو په پښتو ليک لوست يي پوره عبور حاصل وو د قاضي صيب متعلق رضا شکيل مست خيل د تخت بهايَ نه خپل نظر داسي وړاندے کوي"چي د قاضي صيب نيکه چي نوم يي سيد احمد قادري وو اود قادري سلسلي بزرګ وو حافظ سيداحمد غوث الزمان د سيدو بابا په ملګرتياکښي د سرکاوي په غزا ١٨٦٣ءکښي شامل شوے وو۔ حافظ سيد احمد جندول باړوي نومي کلي کښي وفات شو هلته

يي زيارت دے۔ قاضي صيب د منګوري په مقام ۱۹۸٤ء کښي يوه قلمي نسخه"حرف اغاز"په نوم ليکلي ده چي په هغے کښي وائي"زما نيکه پلار سيد خواص خان په ۱۸۲۳ء کښي د جهاد نوښارپه بمقام ترهکئۍ رشکۍ کښي د سکهانو خلاف حيصه اخستي وه"۔

محمد يارخان مست خيل وائي چي قاضي صيب به زمونږ جندول ته د ملابابا قبر مبارک له راتلوچي يوه ورځ د بابا قبرته به د قاعدې په شکل کيناستو اوخپل دم درود يي وئيل چي ملګري ورسرهم وو بيا چي کله قاضي صيب وزګار شو نو ملګروته ئي اوئيل چي"ما وئيل چي بابا به ځما سره ډيره سخته معامله کوي خوبابا زماسره نرمي وکړه"بيا مخکښي وائي چي ډير نيک سړے وو چي د پلار نيکه د وخت د قادري مسلک سره يي تعلق لرلو چي يو لوي نقاد،شاعراود ډيروکتابونومصنف پاتے شوے دے۔

په مجموعي توګه دا خبره واضحه شوه چي قاضي صيب په هغه وخت کښي په پښتنو اوبيا په ترکلانو کښي داسي ځوان پيدا شوے وو چي اوس پري هم تحقيقونه کيږي چي الله پاک په کښي د ليک،لوست اودسوچ بے بها ماده يخودي وه چي د اوسني وخت

خلق ورته حيران دي خوافسوس په دي خبره دے چي د ترکلانو په تاريخ يي هيڅ ليکل نه دي کړي ګني په هغه وخت کښي به ورته ډير څه په لاس ورغلي وو کوم چي څما د مشرانو په سينو کښي قبرونو ته تلي دي حالانکه قاضي صيب په خپل يو کتاب کښي ليکي چي چي ما هغه ټول ليکل عبدالمتين خان له ورکړي دي چي دعمراخان متعلق دي چي هغه د ځان سره کابل ته وړي دي -

قاضي صيب به دا خبره کوله چي ما د زد کړي فن د مولانا عبدالرحمان صيب نه کړے دے کوم چي څما استاد محترم وو -

د دے نه علاوه اثر صيب دوه کاله د روزنامه پيښور د پښتو ايډيټر پاتے شوے دے چي ورسره د"رساله اسلام"خلاصه الخبارمردان اوداسي د رساله انصاف ايډيټر هم پاتے شوے وو په کال1956 ء کښې قاضي صيب د پيښور د"انجمن"پيښور کانفرنس"بنياد کيښودو او ورسره به يي د ريډيو پاکستان داړخه د"يوه وايلا"په نامه نشريات هم نشر کولو- په سياسي توګه قاضي صيب د خدائي خدمت ګار خان عبدالغفارخان نه ډير متاثره وو اوپه هغه وخت يعني په کال1928ء کښي د باچا خان په تحريک کښي شامل شوے وواوبيا چي

کله قرارداد پاکستان منظوريدو نو عبدالحليم اثر صيب په دي کښي د شرکت دپاره بللے شوے وو چي د دې نه روستو په کال 1947 ء کښي د باجوړ د ترکلانو مهمندواودغه شان د ديارلسو قبيلو مشري هم قاضي صيب کوله چي دوي د قائداعظم سره ملاقات کړے وو چي په دي که ورته قائداعظم په مسلم ليګ کښي د شامليدو دعوت ورکړو چي قاضي صيب د دعوت قبول کړے وو چي قائد اعظم ورله يوه اعلى عهده هم ورکړي وه دغه رنګ په کال1945ءکښي صوبائي سکټريري اطلاعاتو آل انډيا مسلم ليګ ممبرپه دهلي کښي يو اجلاس کښي هم بللے شوے وو ۔ بيا چي کله د قبائيلويوه لويه جرګه د مسلم ليګ له اړه راوغښتلے شوه نو قاضي صيب د دې جرګي چيف ارګنائزر او دغه د کال1954ءنه1958ء پورے د باجوړ ايجنسي د مغربي پاکستان ون يونټ غړے پاتے شوے وو چي د دې خدماتو په سلسله کښي حکومت پاکستان دوي له په کال1987ء کښي د"حسن کاردګئ" تمغه ورکړے وه چي په دي کال1987ء کښي قاضي صيب د دې فاني دنيا نه رخصت شو او په تخت بهائي شيخانو مقبره کښي خاوروته وسپارلے شو الله پاک دي پري خپل رحم وکړي د عبدالحليم اولاد اوس هم په تخت بهائي کښي استوګن دے ۔

د سالارزو موجوده حالات

سالار زي د افغانستان په کنړ، ننګرهار، جلال آباد، لغمان، نورستان، قندوس،هلمند او داسي په پنځه شپږ ولايتونوکښي شتون لري ـ بيا په کُنړ کښي سالارزي په کنړکښي په ګڼ شمېر سره اوسېږي چي د کنړ د ۱۹۰۱ء وړاندے د لوي باجوړ حيصه وه چي روستو په کښي د ډيورنډ کربښه راښکالے شوه چي څه ترکلاني هلته اوڅه دلته پاتے شو چي سالارزي اوس په دے ځايونو کښي ژوند کوي لکه نورګل، دانګام، مروره، شيګل، شورتن، ناړی، غازي آباد، اسمار، خاص کنړ، ځوکی، سرکانړو، نرنګ، اوپه بله دره چي سالارزي په سيند غاړي ياديږي چي د پير دره په اولسوالی ياديږي په دے کښي ډبور، مان الدين، نګلام، چپه دره چي دا اخري علاقه ده بيا کوزه چي کومي دره ده يعني ننګرهار طرفته چي غزيدلے سړک دے چي دا کلي په هغے پراته دي دغه شان نورګل، خاص کنړ، سرکانړو، ځوکی،رنګ د سيند په طرف شيګل، مروره، اسمار، دانګام، غازي اباد اوناړی دي چي په دي سيمو کښي په تير وخت کښي پنځوس زره سالارزي ښودلے شوي وو خو اوس په هره اولسوالی کښي پنځوس زره سالارزي شتون لري ـ چي د دوي سره صافيان،ديګان،کاکړ اوداسي بلها قبيلي اوسيږي

خواصل کښي دا وطن د ترکلاني دے د تیر وخت نه د افغانستان سیاسي،سماجي اومعارشرتي هلي ځلي ډیري ښه نه دي ولي چي افغانستان د ډیري مودے راسي په جنګونو کښي ککړ دے چي کله د باهرني حملے وي اویا خوپښتانه اوپارسیبان د یو بل سره نختي کوي بل داسي جمهوري حکومتونه پري هم راغلل خواکثر پري اسلامي حکومت قابض کیږي چي د دي نه د دوي د اسلام سره د میني یو ثبوت دے ـ په دي اسلامي حکومت په وخت کښي بیا هیچا ته د خپلي جدا جرګي او یا د سیاسي هلوځلواجازت نه ورکړے کیږي که مونږه اوګورو په دي سیمو کښي د دنیاوي تعلیم ډیر کمے دے ځکه چي خلق عموماً په غریزه علاقه کښي ژوند کوي اوبل مزدورکاره خلق دے چي اکثر په خپلو یا د نورو په زمکو کښي کروندے کوي چي ژوند یي د سختو شعبو سره مخ دے نوځکه یي تعلمي شرحه کمه ده ـ په کوم وخت کښي چي جمهوریت وو نو د دي خلقو د تعلیم سره ډیر شوق پیدا شوے وو خوبل طرفته دوي په لرولرو سیمو کښي آباد دي چي په دې وجه دوي داعلی' تعلیم نه بے خبره دي او داسي د زنانوؤ تعلیم خوبلکل په صفرحساب دے ـ وړاندے خلق خو اکثر د تعلیم نه نا اشنا وو ـ خو اوس د وخت د تیریدو سره په دے خلقو کښي بدلون راغلے دے اوخلقو په

خپل مینځ کښي د خپل خپل خیلونو په نامه تنظیمونه جوړ کړي دي چي د سالارزو په نامه په کښي یو لوې تنظیم هم شته ـ چي د خپل کلي اود علاقے د اولس دپاره خپلي هلي ځلي کوي ـ دغه رنګ په موجوده وخت کښي د سالارزي په نامه چي کوم تنظیم دے په دي کښې شپیته ممبران دي چي د خپل وس مطابق د قام دپاره منډه کوي ـ

نورالحق د وټاپورکلي وائي چي د دوي سره په کنړ کښي څه شپیته في صده سلارزي ژوند کوي چي ورسره ماموند،مشواني،شنواري،مومند اوصافیان هم اوسیږي چي اوس په کنړ کښي صافیان په غټ تعداد سره دي اوبیا ورپسي سالارزي دویمه لویه قبیله ده چي دوي په دي وطن کښي یوځاې ژوند کوي ـ

دغه رنګ جبیب الرحمان پټاؤ کلي مروره چي في حال د جلال آباد نه خپل نظرداسي وړاندے کوي چي سالارزې قبیله د مروري په اولسوالۍ کښي ځان ته مسقیل کلي لري چي دلته د سالارزو ژوند سخت دے" ـ

بل داسیمي بارانونه کیږې خو د چینو په ابو خلق خپل ضرورتونه پوره کوي دا یوه عامه خبره ده چي مخکښي به دلته په خوړونو کښي اوبه ډیرے وي اوجرندے به پري چلیدي خو د موسم په تبدلۍ سره

اوس هغه جرندے بے کاره شوي دي داسي د دانګام په علاقه کښي نسبتاً سلارزي ډير دي خود دوي ځانله کلي نشته د دوي سره په برادري کښي مشواني،ماموند اوداسي نوري ډيري قبيلي اوسيږي دغه شان په اسمار کښي هم سالارزي شته چي د دوي سره هم خپلي ډيرے زمکے شته او تقريباً د نورو خلقو په نسبت ښه دي بل په دانګام کښي يوه کورني داسي هم وه چي هلته مخکښي نه پخوا نه خاني کړے وه او اوس ورسره هم ډيرے زمکے دي چي د سالارزو د خاني کوردے خو د وخت د تيريدو سره دوي هم کمزوري شو ولي چي په کوم وخت کښي د دوي خاني وه نوپه اولس به يي ډير ظلمونه کول چي اکثر به ترينه خپل خلق خفه وه اوبل خلقو به ورته خيرے کولے چي د دغه بد بختي په وجه هغه هر څه لاړو اوپه سيند لاهوشول حالانکه دلته د دوي سره ډيرے زمکے،ورشوګانے،جرندے وغيره هرڅه وو چي بيا روستو هغه هر څه دوي خرڅ کړل اويا خوپه نورو مسّلو کښي ترينه لاړےاو يا هڅي نوروخلقو ته پاتے شوي ۔

دغه شان د بره ناړئ آباد طرفته دوه تحصيله دي خوهلته نسبتاً سالارزي کم دي دا د سالارزو خپلي زمکے نه دي بلکه د دوي پلار نيکه اغستي زمکے دي دا هغه وختونه وو چي د دوي مشران د آمير

عبدالرحمان چي د افغانستان باچا دهغه سره په جهاد کښي تلې وو اوبيا هلته ميشته شو په دغه وخت په دي نورستان کښي کافران اوسيدل چي دې علاقے ته به يي کافرستان وئيلو ـ

په افغانستان کښي د سالارزو اوسني حالات څه داسي دي چي دلته اسلامي حکومت دے ټولي سياسي ډلے په صفر کښي راوانے دي في الحال دوي ته د څه قسم سياسي سرگرميانو اجازت نشته د وخت سره سره به دوي مثبت اړخ ته روان شي ـ په تير نظام کښي د سالارزو ځيني خلقو د مجلس شورى' نظام لرلوچي په هغي کښي يي روغي جوړي او داسي نورے مسلي حل کولےخواوس هم په وړه توگه دوي خپله جرگه سسټم جاري ساتي ـ

که مونږه اوگورونوپه جلال آباد کښې څه لګ ډير سالارري هم شته چي څه لگې ډيرے زمکے ورسره شته داسي په شيگل کښي څه لګ ډير سالارزي شته چي دوي هم داولس دپاره خپلي هلي ځلي کوي چي په هغوي کښي د ا مشران خپل کردار ادا کوي لکه د سالارزيو شورى' مشر حاجي نور کريم او مرستيلان حاجي امانت خان گنجگل ، حاجي محمد دين وټه پور حاجي عبيدالله خان اسمار او منشي،مولوي صاحب

محمد انور د مرکزي شورای' غړي حاجي محمد صدیق کرهاله ،حاجي میاداد سرکانو، حاجي ګل محمد غازي اباد جلاله فعلاً خالص فامیلي جلال اباد ،شاه ولي سالارزی دم کلے، فضل سبحان شامسېړ ناړی، حاجي شیرمحمد ناړیٔ حاجي غلام یوسف کرهاله شمس الدین د مکلي، حاجي شهزاده شیګل فعلاً د مکلی، حاجي محمد حیصاره ، سیدعلي حیصاره، حاجي ضابط حسن ډنډونو،حاجي فیروزخان دیوز فعلاً کامې پل ، شمندروز خاص کنړ وغېره وغېره ـ

دننګرهار شورای' رئېس حاجي ګل محمد جلاله فعلاً خالص فامیلي مرستیلان حاجي شیرمحمد ناړیٔ حاجي ګل دانګام فعلاً یولسمه ویاله جلال اباد حاجي ذکر رحیم جلال اباد ګمرک چي په اوسني وخت کښي د سالارزو مشري کوي ـ

دغه شان پوري غاړي یعني د ډیورنډ دکرښي نه دې بل طرفته باجوړ غاړے ته سالارزي هم په غټ تعداد سره پاتے کیږي چي دلته ابراهیم خیل خانان په کښي خپل اثرورسوخ ساتي چي د دوي متعلق حاجي دوست محمد خان د جندول وائي چي د ناوګیٔ خاني برم خیلو د پلار نیکه د وخت نه پاتے شوے ده ـ چي بسم الله خان په کښي څوځو ځله ایم این اے پاتے شوے دے اود

هغه نه مخکښي د دا ورور عبدالقيوم خان ايم اين اے وو چي بيا روستو شوکت الله خان ګونر هم پاتے شوے دے اوس په موجوده وخت کښي د بسم الله خان بل ځوې سينيټر دے او په ناوګۍ کښي خاني کوي چي ورسره ښه کافي جائيداد دے د سنګ مرمر کانونه ئې دي غرونه وشروګانے اوداسي نورے د فصل ښي ښي زمکے ورسره دي حالانکه ډير ساده مزاجه خانان دي نو دوي هم د خپل د خپلي قبيلي دپاره د خوشحالي او د ترقۍ دپاره اوداسي د نورو قبيلو د ترقۍ دپاره خپلي هلي ځلي کوي " -

دغه رنګ که مونږه اوګورو نو د نوي کلي سيراج خان هم خپل سياسي هلي ځلي کوي چي په تير وخت کښي ايم اين اے پاتے شوے دے په راغګان کښي اور نګزيب خان کوم چي په تير وخت کښي ايم اين اے پاتے شوے دے بل حاجي لونګ خان چي د ايم اين اے سيټ نه ودريږي او په علاقه کښي خپل کافي اثر ورسوخ لري دغه شان شهاب الدين خان د پشت خان دے چي ځوځو وارے ايم اين اے پاتے شوے دے - کوم سالارزي چي په خپل خپل ځايونوکښي اوځيني کوم چي ملکي کوي دوي په سياستو کښي عموما " حيصه نه اخلي خوبيا هم دخپل قام سره مرسته کوي په قبائيلي جرګو کښي دقوم دپاره خپلي هلي ځلي کوي بيا

خاص په سالارزو کښي د هلال بابا د وخت هلال خيل د جرګو معرکومشري کوي چي د ټولو سالارزو سره ښه کافي زمکے دي چي په هغے سره کروندي کوي يا بعضي خلق مزدوري هم کوي چي څه خلق په باهر اودننه وطن نوکرے کوي دغه رنګ جلال الدين خان کوم چي د خار خان دے د دا ځوي د خاني سره سره په سياسي هلو ځلو کښي حيصه اخلي چي دے په راغان کښي اوسيږي ـ

په سالارزو کښي کوم چي مشهور اويادونے ملکان دي چي په هغي کښي د کڅۍ محمد يار خان،د ډهرکۍ ملک حافظ الرحمان ، د کوهي ملک نواز خان ورسره د لکۍ ملکان هم ډير مشهور ملکان دي ـ بل خوا که مونږه اوګورو نو اکثر سالارزي په جندول کښي هم ميشته شوي دي چي لکه کټکي خيل،برم خيل،سرګند خيل،غالي خيل، فتح خان خيل،هلال خيل، محمود خيل،اکا خيل وغيره چي د تير وخت راسي غرونوپه سرونو دي جندول ته راکوز شوي دي چي د جندول په څلور پنځه کلو کښي فتح خان خيل په دير شاهي کښي څلورکلي سالارزي دي په خال کښي د ناوګي خانان دي داسي په رباط کښي د رباط خانان حاجي آباد کښي هم ډير سالارزي دي دغه رنګ په تيمر ګره اوخال نه بره په واه تنګي کښي هلال خيل آباد دي ـ

په اصل کښي د سالارزو زمکه د باجوړ وطن دے چي په کښي چارمنګ ، ناوګئ او چمرکنډ شامل دے بيا په بره مدک کښي سالارزي په ډانډوکی ، ډمانو ، غاړه ، تندوکه ، لکيانو ، کاډوک، بيګل، باديدل، امبار خانه، چوري مارکونا، شارانه، کاميلي، باتوارخاص وغيره کښي سالارزي دي داسي په لره مدک کښي پشت، بالم ښار، ملا سيد، مته شاه، کڅئ ، نسنګ ، غاښئ، غونډی ، چرګو، نازکی، کوهي ،بارانی، کنډوګنګ، بارو، شاه ګی، ګيدړشاه ، وربلے، ناراضه،لکهو، ډهيرکی ،شاه کورونه، چنګړو، ګټ ،ډنډو داسي په سدين کښي سالارزي په لره بټياله ،ټيپا، چوراړی ،چورک، شينګه ګل ،شاه سرے، عالمانو کلي، ډبر وغيره کښي اوسيږي -

د ډيورنډ د کرښي نه وړاندے به دا خلق د خپلو رشته دارانو کره د ناوا پاس او د چاچاګی په لاره تلل راتلل کول خو اوس دا ترکلاني د خپلو خپلوانو کره تګ راتګ د تور خم په لاره کوي -

د مامونډو اړخ ته چي کوم غر دے کوم ته چي د ملاسيد غر وئيلے شي چي د دې نه مامونډ طرفته سړک دے او بل خوا ترينه د ډمه ډولي علاقه ده چي د پشت نه بره دا ډيره شنه علاقه ده چي ښه فصل کوي

چي عموماً خلق په کښي جوار،غنم، سبزيانے اوداسي نور قسم کرونده کوي چي اکثر د باران په اوبو اوبه خور په کښي هم کوي ـ

دعيسوزو تاريخ

عيسیٰ' چي د موسیٰ' بابا دريم ځوي ووچي عيسیٰ' شجره څه داسي ده لکه عيسیٰ' بن موسیٰ' بن ترک بن شيخا/خشی بن سړابن بن خرشبون/خيرالدين بن قيس عبدالرشيد چي قيس د ټولو پښتنو مورث اعلی ګڼلے شي د معلوماتو ترمخه د قيس بابا قبر مبارک د تخت سليمان په غرونو کښي دے چي ډيرو خلقو ليدلے دے اوتاريخي شواهد يي شته چي سينه په سينه دے پښتنو په خپل تاريخ ژوندے ساتے دے اګر که په جنګونو اوپه غرونو کښي اوسيدل دي چي بعضي مورخين ورته فرضي قيصي هم وائي ـ

په عيسوزي کښي د مشرۍ کورنۍ مست خيل خانان چي دا سلسله د عيسیٰ' نه مست علي خان ته رارسيدلې ده ـ په دې عېسو زې کښي د عمراخان ،عبدالمتين خان

،سیداحمد خان او د ځوکنو میا عمر غوندےغوندي ځوان پیدا شوے وو -

مولانا خان زیب چي په خپل کتاب" باجوړ د تاریخ په رڼا " کښي لیکلي دي چي دعیسوزي ذیلي ښاخونه دا دي لکه مست خیل،علی بي خیل،موسی خیل،شاهي خیل،مندیزے،سین زے چي دا ځانګے په جندول کښي اوسیږي دغه رنګ تواریخ حافظ رخمت خان کښي هم دا قبیلې ښودلے دي او د ملیټري پورټ دیر،سوات اوباجوړ کښي هم لیکي چي مست خیل،علي بیګ خیل، موسی خیل،شیخ خیل،مندیزے،سین زے او خازوزے دي خو د وخت د تیریدو سره اوس دا عېسوزې قبیله نوره هم ګڼه شوے ده چي نورذیلي ښاخونه یي هم شته -

عیسوزي په جندول،لربراول وغیره کښي اوسیږي په تیر وخت کښي دي عیسوزو د فرنګي ډیر خلاف کړے دے خو اکثر د خپلو خلقو د لاسه دوي خراب شوي دي چي په دوي کښي عمراخان جندولي بابامست خیل اوداسي میاعمر د ځوکنو ډیر مشهور سړي تیر شوي دي -

مست علي خان بابا

د مست على خان پيدائيش څه په کال1690 ء خواوشا کښي شوے دے چي د هلک والي د وخت ډير پرهيزګاره ځوان وو کوم وخت چي په دې علاقه د مغلو حکومت کمزورے شوے وو اوپه ناوګۍ کښي ابراهيم خيلو د خان ازم افتتاح کړے وه دوي په لوې باجوړ بغير د جندول نه خپله خاني مستحکم کړي وه يا خو جندول د اخوند خيلو سره وو او يا خو د مغلو حکومت وو او يا خو د سيد ابراهيم بخاري اولاد پري قابض وو بيا په دغه وختونو کښي د ابراهيم خيلو خاني هم غټه شوي وه نودوي هم کوشش کولو چي جندول په خپله خانۍ کښي راولو او اکثر به دوي په جندول حملي کولے چي قوم ډير تنګ شوے وو بيا دي خلقو دلته يوه جرګه جوړه کړه اوداسي هم وئيلے شي چي په دغه وخت کښي اکثر د جرګي مشران به د علي بيګ خيلو نه وو په دغه وخت مست علي خان د پلار سره په شيخ کلي کښي اوسيدو چي دي جرګے له د منډا کلي ته راغے ـ په دي وخت کښي دا منډا کلي نه وو او يو غټ د جرګو ډاګ وو کله چي جرګه جوړه شوه نو هر مشر دا غوښتنه کوله چي د ابراهيم خيلو غوندي مونږ له هم يو خان پکار دے چي زمونږ د جرګو اوستونزو مشري کوي چي اکثر خلقو د مست علي خان طرف ته اشاره

کوله او وجه دا وه چي په دغه وخت د دا غوندي نيک او عالم سړے په دي جرګه کښي نه وو اوبله غټه وجه هم دا وه چي مست علي خان د خپل پلار چي شيخ خان باندے مشهور وو د هغه په ګدۍ ناست وو خو په دغه وخت کښي څه فيصله وه نشوه دا هغه وختونه وو چي ګرزنده ويشونه به کيدل نومست علي خان په دي ويشت کښي دې قنداري کلي ته راغے اودلته په قنداري کښي ديره شو دعبد الرشيد خان مست خيل د خلي وينا ده چي د مست علي خان قبر مبارک په دي قنداري کښي دے د تاريخ مطابق داسي هم وئيلے شي چي دا ويشونه څه د 1954 ء پوري چليدلي دي په دي وختونو کښي به د سواتيانو، مليزو اوترکلانو جنګونه ډير کيدل چي د جندول دا خلق درپه در شوې وو ـ د دوي بله اسره نه وه چي د مست علي خان نه ځانله بل څوک خان جوړ کړي ولي چي د چا په چا باندے باور نه اومست علي خان يو خدا ترس انسان وو او د پلار د وخت عالم فاضل سړے وو چي طالبانو اومريدانو به د خونه د وني لاندے د دا نه ديني علم حاصله ولو ـ

په دي ورځو کښي بيا بله جرګه د صد بر کلي په مقام جوړه شوه چي دهر خيل نه يويو مشر رابللې شوے وو چي مست علي خان هم په دي جرګه کښي بللے شوے وو په هغه وخت کښي دا صدبر کلے دلته اباد نه وو

بلکي دا هم يو ښر ډاګ وو چي اکثر به په ګښني د لښکرودپاره جمعه کيدله ـ نو مشران خو ډير وو اوټول ښه بارعبه اوعزت داره ملکان وو خو د چا په يوبل دا مشري سود نه وه چي په اخره ګښني د جرګي مشرانو په مست علي خان متفيق شواو دے يي خان کړو اوهر مشر په نمبر نمبر د مست علي خان په سر د خانۍ پګړۍ وتړله او دے يي خان کړو چي د معلوماتو تر مخه د ا واقعات څه په کال1717 ء خواوشا ګښني شوي دي ـ خو د دي نه وړاندي چي دي خلقو مست علي خان باندے فتوي' ورکړه چي دے به زمونږ خان شي نو مست علي خان دوي ته مخاطب شو او ورته يي اوئيل چي ګورئ ځه يو عاجز انسان يم اوپه تاسو ګښني زما نه علاوه داسي ځوانان شته چي هغه به د قام خدمت زما نه په ښه طريقه سره کولے شي تاسو په بل چا باندے ګوته کيږدئ زه به هم د هغه سړي مرسته کوم خو د جرګي مشرانو په دي خبره متفيق وو چي دا کار ستا نه علاوه بل څوک نشي کولے که ته هرڅه وائي مونږ هغي ته تيار يو خو ته زمونږه خان يي ـ محمد يار مست خيل د شبنې کلې بيا وائي چي"مست علي خان دوي ته اوئيل چي زه ښه ده ځه به خان شم خو زما به ميلما يي لښکر به کوم د دي دپاره به څه اخراجات لګي نو دې خلقومست علي خان له د خاني د چلولو

دپاره دوه نيم پاؤا دوتر ورکړو چي ځه ته په دي خاني کوه ـ چي د مست علي خان سره د پلار د وخت هم پنځه پاؤا دوتر هم وو چي په دے حساب سره د مست علي خان بابا سره اوه نيم پاؤا دوتر جوړ شو چي د جندول په حساب سره ترينه شل پاؤا جوړيږي محمد يار خان نوره هم زياته وي چي په دي جرګه کښي کومو مشرانو شرکت کړے وو د هغوي نومونه او دستاويزات اوس هم د خار په چهاونۍ کښي پراته دي "کله چي مست علي خان ،خان شو نو اول يي لښکر جوړ کړو پاونه يي ورکړل ټوپک مار يي ونيول اوپه هر کلي يي پيره دار ودرول چي د دي سره په دغه وختونو کښي ډير امن راغلے وو اوهميش به يي جرګي د انصاف مطابق کولي چي قام ترينه ډير خوشحاله وو ـ

د مست علي خان د وفات نه روستو د دا مشر ځوي سعدالله خان د پګړۍ خان شوے وو چي د سعدالله خان نه روستو د دا کشر ورور ايوب خان خان شواوپه کوم وخت کښي چي ايوب خان خان وو۔ نو د دوي بل ورور شاه نور خان ولګيدو اود چارمنګ د زمکے نه واخله د صبر شاه د نري کنډۍ پوري غاړه حنيفيه اوسره د حنيفيه دا زمکه هغه خپله حيصه واغسته اود ثمر باغ زړې باړوي پوري په دي ځائے يي خاني

شروع کړه ـ اودغه شان ایوب خان په قنداري کښي پاتے شو چي هلته د خپل وروړ په ځاے خان وو خوځه موده پس ایوب خان چا مړ کړو اوقندارے بے خانه پاتے شو وئیلے شي ـ چي د دا نه یوماشوم پاتے شوے وو او د دا بي بي د ناوګۍ د ابراهیم خیلو خور وه ـ چي دا کله کونډه شوه نو د یريږ د وجي نه سره د خپل ځوي ناوګۍ ته لاړه چي ډیره موده هلته وه خو په دي ورځو کښي شاه نور خان هم چا مړکړو اود دا نه خاني داسي پاتے شوه چي د دا په دغه وخت دومره ځوک نه وو چي بل ځوک د خاني په ګدۍ ناست وي اوس دا دواړه خانۍ داسي پاتے شوي چي په دغه وخت کښي د ایوب خان یو د نهوکالو ځوي پاتے شوے وو چي د ماما ګانوکره په ناوګۍ کښي د مورسره اوسیدو په دغه وخت کښي به د جمعي مونځ صرف په قنداري کښي کیدو چي ټول خلق به د قنداري جومات له مانځه له راتلو د دې نه علاوه یو میا کلے وو چي هلته به هم د جمعي مونځ کیدو ـ کوم وخت چي ایوب خان لا ژوندے وو او اخوند احمد شاه د کوټودجمعي مانځه له دي د قنداري جومات ته راغلے وو چي په امام پسي اخوند صیب او ایوب خان دواړه یوځائے ولاړ وو چي کله مونځ ختم شو نو اخوند صیب، خان ته اوئیل چي خانه ! په مانځه کښي بره مه ګوره نو خان ته خداے دا خبره

ډکے کړه او اخوند صیب ته ئې اوئیل چي ته بیا دے جمات ته مه راځه ـ اخوند صیب ډیر خفه شو اوخان ته اوئیل چي ځه خانه ډیره ښه ده که ته څومره وخت ژوندے وي ځه به دلته نه راځم اوکه مړ وي نو راځم به ـ څه ورځي بعد چي خان مړ شوے وو او اخوند احمد شاه د کوټو د جمعي مانځه راغي نو خبر شو چي خان چا وژلے دے اودغه رنګ قنداري بے خانه پاتے شوے دے۔ محمدیار خان لالا نوره هم زیاته وي"په بله موقع چي اخوند صیب خبر شو چي خان مړ دے نو هغه د جمعي مانځه له راغے چي په جماعت کښي یو خان هم نه وو نو اخوند صیب تپوس وکړو چي دا خانان ټول میرات شول چي څوک یي هم په مانځه کښي نشته نوچا ورته اوئیل چي نه اخوند صیب د ایوب خان نه د نهه کالو ماشوم پاتے شوے دے نوچي کله مونځ اوشو نو اخوند صیب مریدانوته اوئیل چي ماله هغه ماشوم راولئ ـ مریدان لاړل اوماشوم یي د ناوګۍ نه راوستو چي ماشوم اخوند صیب ته مخامخ شو نو داخوند صیب یي ډیر احترام وکړو اخوند صیب تپوس وکړو چي بچیا ! ستا څه نوم دے نو هغه ورته اوئیل چي حیات خان"چي صبا شو نو ټول عیسوزي مشران راجمعه شول او اخوند صیب د حیات خان په سرپګړۍ وتړله اوبیا مشرانو هم د حیات خان تائید وکړو اودے د

خپل پلار ايوب خان په ځائے خان شو چي دا واقعات څه په کال 1790 ء خواوشا کښي شوي دي" چي په روزنامه پيښور1953 ء د حيات شجره نسب او تاريخ درج دے چي حيات خان مست خيل خان تير شوي دے چي د کال 1790ء نه تر1830ء پورے د جندول خان وو" -

وئېلے شي چي په دغه وختونو کښي حيات خان د ټولو کم عمره خان وو چي اخوند صېب دي خان ته ډيره دعا وکړه په دي وخت کښي د اخوند صيب سره يوفقيروو دا ګمان کيږي چي دا فقيرد النګار درے لغمان نه وو اواخوند صيب دې فقير ته اوئيل چي ته به د حيات خان سره اوسيږي چي دي خان ته څوک هم نقصان ونه رسوي نو په دي کښي فقير خان ته يي اوئيل چي خان ګوټيا !ته خو خان شوي خو ماله کومه زمکه راکوي چي درے ځله فقير دا اوئيل نو خان خو ماشوم وو څه جواب يي نه شو ورکولے نو فقير ځان له پخپله جواب ورکړو چي ځه خانه چي په کوم ځاے کښي ته يي ستا مخي ته به ځما کور يي -

څه ورځے پس اوخوند صيب د علي بي خيلو د مشرانو سره جرګه وکړه چي تاسو د خپل کور ځائے بدل کړئ - نو دا د علي بي خيلو مشران لاړل د اخوند صيب په

موجودګي کښي د زړي باړوي په دي ځاے ودریدل چي دا ځاے ډیر ښکلے او ورسره اوبه هم په کافي مقدار وي او اخوند صیب ته یي اوئیل چي دا ځائے زمونږ دپاره ښه دے چي علي بي خیل بیا دي زړي باړوي ته راغلل چي باړوي معني د کاریز ده ۔

وئیلے شي چي حیات خان نه روستو د د ځوي عبدالغفار خان خان جوړشوے وو ۔ د معلوماتو ترمخه عبدالغفار خان څه پنځه ځلویښت کاله خاني کړے وه چي بیا ډیرکمزورے شوے وو چي د پنځو بیبیانو نه یي څوارلس ځامن وو۔ دعبدالغفار خان نه روستو فیض طلب خان د جندول خان جوړشوے وو فیض طلب خان هغه سړے تیر شوے دے چا چي د انګریز خلاف جنګونه کړي وو۔ د فیض طلب خان روستو د ځوي میر آمان خان د پګړۍ خان شوے وو چي اولاد یي په ګمبتۍ میدان کښي هم آباد دے میر آمان خان روستو محمد زمان خان د مست خیلو خان وو چي دے د عمرا خان میرنے ورور وو د محمد زمان نه خان روستو عمراخان د پګړۍ خان شو چي دے د مست خیلو بارعبه او د پښتو د دور اخري خان ګڼلے شي چي د انګریز د لاسه دا عمراخان خاني ختمه شوه او دا افغانستان ته شړونتیا وکړه او د دا نه روستو سید احمد خان خان شو محمد یار مست وائي چي"د فرنګي د

لاسه د عمراخان د خانے اختيتام اوشو چي دے د مست خيلو نهم خان وو په دي کښي څوک يوه ورځ نشي ثابته ولے چي د مست خيلو نه چا خاني اغستي ده البته دا يوسوال دے چي مير عالم خان چي يو زوروور خان تير شوے دے چي د مغل خاندان سره يي تعلق لرلو چي د هاتيانو دسته ورسره وه لښکر ورسره هم ښه غټ وو اود هغه وخت مطابق ورسره نوي اسلحه هم وه صرف دي يو کس مست خيل خانان د دې ځائے نه بے ځائے کړي وو او اله ډنډ ډهيرۍ ته يي شړلي وو او دوي په اله ډنډ کښي خپلي شپي ورځي صبا کولے بيا زمونږ نيکه په لاره کښي وفات شو اودوه رونړه بيا د مير عالم خان د دور نه روستو خپل وطن ته راغلو اوپه کوټي ګرام کښي ميشته شو چي جندول يي د دوي نه اغستے وو د دي خان نه علاوه چا جندول نه دے خوړلے بيا د عمراخان د انقلااب نه روستود د ځوئ عبدالمتين خان هم خان وو چي روستو سيد احمد خان تقريباً د 1942ء پوري د په جندول کښي د مست خيلو خان وو ۔

غازي عمراخان مست خيل

عمراخان مست خيل بابا په کال 1860 ء خواوشا کښي په جندول کښي پيدا شوے وو دعمرا خان د پلارم نوم آمان خان وو اود نيکه نوم يي فيض طلب خان وو عمرا خان د فارسی ژبے تعليم د قاضي عبدالجليل نه حاصل کړے وو او ديني تعليم يي د حافظ عبدالحنان استاد نه ترلاسه کړے وو په کوم وخت کښي چي د عمرا خان پلار وفات شونو د دا ميرنے ورور محمد زمان خان د پګړۍ خان شو وئيلے شي چي د دوي په مينځ کښي د اول نه ناچاقي وه چي دا ناچاقي د ډير وخته پوري رارونه وه اوبله غټه وجه دا هم وه چي په دغه وخت کښي د فرنګي هم دا کوشش وو چي ټول خوانين د ځان سره ملګري کړي اوخپل حکومت پري مضبوط کړي چي اکثر خانانو ورسره مرستي کړي وي خو عمراخان يوعالم دين سړے وو هغه چرته هم دا نه غوښته چي انګريز دي خپل ناولے قدم د پښتنو په دي پاکه خاوره کيږدي او پښتون قام دي خپل غلام جوړ کړي اوخپل باقاعده حکومت دي پري چلوي ۔ ولي چي د فرنګي دا کوشش وو چي دوه خانان به ئې په يوبل کښي جنګول چي دا د هغوي يوه فلسفه ده ۔ نو عمرا خان اول د دي خبري د منعه کولو دپاره د اتمان خيلو په مشر لالي خان پسي لاړو او هغه يي د خبري

په مزغړي پوحه کړو چي لالي خان راغے او د محمد زمان خان سره په مختليفو مسّلو خبرے وکړي چي د دې څه نتجه راونوته۔نو د دي روستو عمرا خان پنجي ګرام ته لاړو اوهلته يي غلام محمد خان سره پناه واغسته ولي چي د ته په جندول کښي اوس حالات خراب شوي وو کله چي عمراخان د نړي د خانانو او ملکانو سره مشورے وکړي خو بيا هم څه نتجه راونوته ولي چي محمد زمان ځانله مضبوط خان اوبيا د فيض طلب خان اثرورسوخ ورسره وو چي د بل چا پري لاس نه رسيدو ګني د عمراخان به دي خلقو پسي ګرځيدو او دهغوي نه به يي مرسته غوښتله۔بهرحال چي کله عمرا خان مجبورا شو چي په خپل ورور محمد زمان خان يي لاس نه رسيدو نومجبورا" د خپل نهه کالن ورور محمد شاه خان سره د باجوړ سيمي ته لاړو چي هلته هم خبرے څه خوند ونه کړو نو د هغه ځاے نه لاړو سوات کبل ته اوهلته د خپل روحاني مشر سيد اکبرشاه سره په کبل کښي ديره شو په هغه وخت کښي سيد اکبر شاه د سوات خلقو خپل باچا جوړ کړے وو۔ چي بيا په دغه کال 1880 ء کښي عمراخان د سيد اکبرشاه سره حج له لاړواو د حج فريضه يي ادا کړه۔ په دغه نيټه په هندوستان کښي د شاه ولي الله جوړشوے تحريک په ډير شور او په زور وو نو جندولي بابا په

دي تحريک کښي د محمودالحسن او مولانا رشيد احمد ګنګوهي سره شامل شو۔ په دي صحبت سره په عمراخان ډير اثر اوشو او هلته يي د ملګرو سره دا مشوره وکړه چي کله خپل وطن ته لاړشم نويو قامي لښکر به جوړوم اوفرنګي به د دې خاورے نه لرے کوم ۔ داسي ښکاري چي د عمراخان دا اراده صرف د الله په لاره کښي د جهاد دپاره وه ۔ چي دے څه حده پورے کامياب شوے وو ۔

وئيلے شي چي د جندول خاني چي په کوم وخت کښي د عمراخان د نيکه فيض طلب خان سره وه نود دا سره لښکرله د امبيلي جنګ له شپږه زره نفر تللي وو ۔ چي دا جنګ د فرنګي په خلاف دامبيلي په مقام شوے وو چي فيض طلب خان برياليے شوے وو اوفرنګے په تيښته شوے وو اولارے ګُدرے تري خطا شوي وي نو د عمراخان هم دا سوچ وو چي انګريززمونږ د پلار نيکه ازلي دشمن دے پکارده چي د دي وطن نه لرے کړے شي اوپښتنوله خپل جائزحق ورکړے شي ۔

په کال 1880ء کښي چي کله عمراخان د بيت الله شريف د زيارت نه واپس شونود خپل روحاني مشر سيداکبرشاه اوقامي مشرانو په مشوره يي جهادي تنظيم د سوات نه شروع کړواوبيا يي ترکلاني او داسي نور

خلق په دي تنظيم کښي شامل کړو۔ عمرا خان اول هغه قوتونه ختمول غوښتل د کوم نه چي د ته په مستقبيل کښي خطره وه نو اول عمراخان په جندول حمله وکړه اوشپه ته شپه د محمدزمان خان په قلعه باندے سره د لښکرحمله وکړه چي په دي جنګ کښي محمد زمان اويشتلے شو او د محمد زمان خان ټوپک مارو عمرا خان ګرفتار کړو۔ چي په دي کښي د محمد زمان خان مور راغله او عمراخان يي د سړونه آزاد کړو او هغوي ته اوئيل چي يو ځوئے خومي مړشو بل نه مړ کوم دے هم ځما ځوي دے ۔ او په خپل لاس ئې د ته د خانۍ پګړۍ په سر کړه ۔

چي دغه رنګ عمراخان د خپل ورور په ځاے د جندول خان شوپه دغه وخت کښي د دا د خاني شروعات ډيرپه ډول اوشو ټولي قبيلي راغلي او د عمراخان نه يي د خاني پګړې تاؤ کړه دا هغه وخت وو چي فرنګې خاص په سر ناست بل طرفته د خان ازم زور وو۔ يو خان به بل خان ته سر نه ټيټه وو بل فرنګي به د خپل مقصد دپاره کله د يو خان او کله د بل خان سره معاهدے کولے چي کوم خان به د فرنګي ملګرې شو نو هغه له به يي د نواب، خان بهادر، سر، والي وغيره خطابونه ورکول اوچي په دي به ونه شوه نو اسلحه به يي هم ورکوله بل دا خانان اکثر په خپل

خاندانونو کښي هم ډير بے اتفاقه وو۔ بهر حال عمرا خان ډير تکړه او بهادر ځوان وو ۔ که ترکلاني يي صفت نه کوې نو دغه انګريزانو يي په خپل کتابونو کښي ستائيني کړي دي ۔

کله چي د ته خاني حواله شوه نوځائے په ځائے يي قلاګانے او جماعتونه يي جو کړل ۔ وئيلے شي چي د عمراخان د خاني شروعات د جندول د يو وړوکي کلي باړوي نه اوشوؤ ۔ چي بيا روستو عمراخان په ميدان باندي حمله وکړه د هغه ځائے نه براول ته راغے اوپه دير خان قلعه يي حمله وکړه چي په دي د عمراخان سره روغه وکړے شواوبيا د دے ځائے نه لاړواوپه ديرنواب محمدشريف خان يي حمله وکړه اوهغه يي د حکومت نه بےدخل کړوخومحمد شريف خان د اول نه سوات ته جلاوطن شوے وو۔ بيا د دې ځائے نه لاړو په اسمار يي حمله وکړه او ورپسي يي د دير په مختليفو سيمو حملي کولي او په خپل حکومت کښي شامليه ولي کومي علاقي چي د دير د نواب په قبضه کښي وي ۔ هغه اوس د عمراخان په قبضه کښي راغلے چي د عمراخان خاني په دغه وختونو کښي ډيره پراخه شوے وه چي په کښي دير،چترال څه علاقے،د سوات څه علاقے،چارسده اودغه شان د سخاکوټه پوري علاقے شاملي وي په دي وخت کښي اوس عمراخان ډير

مضبوط شوے وو۔ اودا يي غوښته چي افغانستان اود سرحد دا علاقے د فرنګي نه خالي کړم او يواسلامي رياست پري قائيم کړم د دي دپاره عمراخان د روس د يوي کمپنۍ سره د اسلحي د اغستولو معاهده وکړه اوبله دا عمراخان ورته دا هم وئيلي وو چي زه په هندوستان باندے حمله کول غواړم ولي چي د عمراخان سره جديد اسلحه نه وه چي د روس حکومت په دي باندے رضامند شوے وواو دلته ئي خپل ماهرين رالیږلي وو چي هغوي د نهاګ درے او د عشيرئ درے د کانونو معائينه وکړه او په دي نتجه ورسيدو چي دلته چي کومه وسپنه ده نو د دې نه د توپ ګولے جوړې دے شي خو توپ ترينه جوړول ګران دي ـ اصل انګرېز راغلے هم دې مقصد له وو ځکه چې په هغه وخت کښې به ئې دې هندوستان ته د سروزرو مرغئ وئېله ـ خو چي د دي نه د پيښور کمشنر خبر شو نوسمدستي يي حکومت هند د دې منصوبے نه خبر کړو که چرے تاسو عمراخان د دي نه منع نه کړو نونزدي ده چي دلته په هندوستان به د حکومت برطاني خاتمه اوشي پکار ده چي عمرا خان د دي منعه کړے شي ـ

دغه رنګ په کال1889 ء کښې عمراخان د براول باندئ په قلعه باندے حمله وکړه او دا يي په خپل حکومت کښې شامله کړه چي څه شپږ کالو پوري دا

قلعه د عمراخان په قبضه کښي وه په دي وخت کښي نواب محمد شریف خان په سوات کښي جلاوطن وو۔ سلیمان شاهد په خپل کتاب"گمنام ریاست دیر"کښي لیکي چي"کله په کال 1890 ء خواوشا کښي د ناوگي صفدرخان د خارسیمه کښي د غازي عمراخان ترکلاني لښکر ته ماتے ورکړو د غازي د جنگ سالار سیف الله خان سره د یونیم سل خلک په جنگ کښي اوژل شو،غازي عمراخان ترکلاني په دي جنگ کښي په خپله نه وو کله چي د خپل مات لښکرنه خبر شو چي د میا کلي خلقو یي د مات لښکر تماشې کولي نود ډیره قاره غازي د صفدر خان په اړه دا اوئیل چي بدل به درنه ډیر زر اخلم خولکه زما د مات لښکر به دي د میا کلي خلق تماشي ونه کړي څه وخت پس عمراخان د صفدر خان نه خپل بدل واغستو"۔

په کال 1893 ء کښي فرنگیانو د ملّا کنډو سیمه نیولي وه چي په دي کښي یوکلے د پیرانو په نامه اوس هم اباد دے چي په دي کلي کښي دوي خیمه زن وو اودوي دلته د پولو نومي لوبي میدان هم جوړکړے وو په دي کال عمراخان په مالاکنډ باندي سره د خپل لښکر حمله وکړه ۔چي انګریزانو ته یي ډیر نقصان رسولے وو ۔

په بله موقع فرنګي عمراخان ته د کالاش لاره ونيوله چي عمراخان د دې ځائے نه د دويش خيلو خاورے ته داخل شو دويش خيلو خلقو په عمراخان باندے حمله وکړه چي د عمراخان لښکر تري دوه تنه اويشتل او عمراخان د کنډرو په کنډو خادکرزو ته واوړيدو وئيلے شي چي اټانو کښي يوکس د لښکر په مخه کښي راغلے وو چي د دوي مخه يي نيوله چي خپل سر يي اوخوړو بيا د دي ځائے نه عمرا خان سره د خپل لښکره د آبازي نه پوري نه وتو اود برے بړنکولے د ديګانوغر باندے خيمه زن شو چي دا په اصل کښي يوه لوړه غونډۍ وه کوم ځاے کښي چي د هندوشاهي د وخت دوه کوهي موجود دي چي د دي غونډي نوم اوس عمرا غونډي ده بيا عمراخان دلته د دي خانانو يعني سرګند خان او داسي نورو خانانو خاني ختمه کړه اوسادات يي د دې سيمي د معززمشر ميا صاحب ګل په نامه کړه اوپه دوي يي نهه زره روپے ټيکس مقررکړو۔

په کال 1894ء کښي يوځل بيا عمراخان د چکدرے په قلعه حمله وکړه چي دا يوه مضبوطه چهاونۍ وه عمراخان د خپل لښکر سره مشوره وکړه د مشورے نه روستو دا فيصله اوشوه چي فرنګيان ښه په مضبوته پيره دي نوغازي عمراخان دا فيصله وکړه چي دي چهاونۍ ته دننه تلل پکاردي نوشپي ته شپي يي چهاونۍ

ته د سوات د سيند د اړخ نه سورنګ وکنستو اود چهاونۍ د اسلحي کمري ته لاړو چي فرنګيان په خپل جشن کښي وو او بل د عمرا خان سره د هندوستان ماهره او د انګريز د فوج نه فارغه فوځيان هم وو چي هغوي ته د فرنګي ټولے لارے ګودرے معلومي وي نو دوي دوه نيم سوه غوګيني ټوپکي چي په هغه وخت کښي به ئي ورته تري نا تري وئيلو د چهاونۍ نه راويستي چي انګريزان خبر شو نو سمدستي پري د عمراخان لښکر د ګولو باران وکړو اوخپل د ترکلانو لښکر ئي صحيح سلامت خپل مقام ته راورسوو۔ چي سحر د انګريز فوځ مشران دي موقع له راغلو نو حق حيران پاتے شو چي عمراخان دا څنګه کړي دي چي بيا روستو به په عمرا غازي بابا پسي دا چاربيته جوړه شوه ۔ چي د په اصل کښي د مالاکنډ يو شاعر په خپلو چاربيته کښي وئيلي وه ۔

ټوپک د چکدرے نه

چا يوړو د پنجرے نه

د مالاکنډ نه ورله راغلو انګريزان

اوورته ودريدل حيران

چي دا د دي خبري دليل دے چي عمراخان د روس د ماهرينو په زريعه دي قلعه ته دننه شوے وو چي د روس يو ماهر د دي نقشه جوړه کړي وه ـ او دا ماهرين به د دا په فوځ کښي شامل وو ـ

په کال1895 ءکښي عمراخان په چترال د حملي کولو نيت وکړو ـ نو د چترال مهترد پوليټيکل ايجنټ نه د پناه غوښتنه وکړه چي عمراخان د حملي کولونه منع کړي خوعمراخان د هيچا خبره خوښه نه کړه ولي چي په چترال باندے فرنګي خپل مهتر کينولے وو چي دي مهتربه د فرنګي د خوښي فيصلي کولے چي خپل خلق تري نه خفه وو چي کله عمراخان انکار وکړو نو انګريز فوځ د شندور د ګلګيت په لاره راغلو اوپه عمراخان يي حمله وکړه که فرنګې نه وي رارسيدلے نو نزدي وه چي عمراخان به ټول چترال قبضه کړے وو چي د دي متعلق مشتاق احمد په خپل کتاب"غازی عمراخان بابا جندولی"کښي څه داسي ليکې 3مارچ 1895ء کو چترال میں انگریز اور غازی عمرا خان کے درمیان جنگ ہوئی جس میں انگریز بھاگ کر قلعہ چترال میں محصور ہوگئے اور غازی عمراخان نے ان کا محاصرہ کرلیا ـ"دغه رنګ د چترال خلقو په فرنګيانو باندے د هرطرفه حملے شروع کړي چي په

کښي کيپټن کيمبل،کيپټن ټاون اوداسي بلها افسران ونيولے شو اوعمراخان غازي د ځان سره جندول ته راوستو چي بيا روستو عمراخان د ملګرو په صلاح دوي ازاد کړو۔ کله چي دا افسران آزاد کړے شو نو انګيريزحکومت عمراخان ته د افغان نپولين خطاب ور کړو۔ دلته دا خبره د يادونے وړ ده چي عمراخان يو هوښياره سړے وو ۔ چي د جرګي او د صلاح خبري ته به کيناستو چي د هغي ژوندي مثالونه شته ۔ دي جنګ کښي د عمراخان بابا سره چي کوم ترکلاني تللي وو اکثر هلته آباد دي ۔ هم په دي کال 1895 ء کښي چي انګريزفوځ په عمراخان باندے برے بيانه موندو نو اوس يي د چال بازي نه کار واغستو او اکثر يي د عمراخان مرستي شروع کړي اواکثر يي داسي خانان اونور خلق د ځان سره ملګري کړو کوم چي د عمرا خان مخالف وو۔ بعضي خلق دا وائي چي عمراخان د انګرېز سره مرسته کړے وۀ ۔ په اصل کښي دا انګرېزان د سازش په توګه عمرا خان ته نزدې شوي وو چي عمرا خان هم د خپل مقصد دپاره به هلې ځلې کړې وې ځکه چي ډېر خانان ئې ملګرې کړې وو او عمرا خان ئې پرې کمزورے کړے وو چي په خپل وخت ټول ښکاره شوي وو ۔ بل يي هغه ملا مکراني کوم چي عمراخان د دې ځائے نه افغانستان ته جلا

وطن کړے وو هغه د انګريز په سازش باندے واپس وطن ته راغے او په عمراخان پسي يي پروپيګنډي شروع کړي ملا مکراني خلقو ته اوئيل چي عمراخان اسلامي حکومت نه جوړيږ بلکه د اقتدار دپاره جنګونه کوي چي په دي باندي ترينه ډير خلق خفه شول اود عمراخان مخالفت يي مخامخ شروع کړو او بيا انګريز حکومت د پيښور په مقام خپل ميټنګ وکړو چي اوس عمراخان کمزورے شوے دے پکار چي حمله پري وکړو نودوي په دي کال 1895 ء کښي په عمراخان حمله وکړه چي په دغه وخت کښي د عمراخان د تره ځوي عبدالماجد خان په چترال کښي وو او د عمراخان د لښکر سالار وو عمراخان په د پسي جواب وکړو چي ته راشه خو د بدقسمتي نه هغه په موقع راونه رسيدو او انګريز فوځ په سر ولاړو چي ځاے په ځاے يي د عمراخان د فوځ مخه نولې وه ـ خو د انګرېز دومره نفري سوا وه او داسي وئيلے شي چي درے بريګيډه فوځ وو چي په کښي هندوستاني فوځونه،توپي،سواره اوپيدل هم وو چي په دغه موقع د عمراخان غازي سره صرف زرتنه پاتے شوي وو۔ نوپه د پسي خپل مست خيل اوترکلاني راغلواوورته اوئيل چي که ته اوس جنګ کوي نو نوره تباهي به هم اوشي ځکه چي د انګريز فوځ ډيرپه قوت کښي دے نو عمرا خان د منډا

په قلعه کښي يو جرګه وکړه چي د جرګي مشرانو دا خبره خوښه کړه چي حالات مونږ.ته ښه نه دي پکار ده چي ته د منډا قلعه پريږدي او افغانستان کښي پناه واخلي عمراخان خو اول تيارنه وو خو د جرګي فيصلي ته ئي غاړه کيښوده ـ کله چي د ماښام مونځ اوشو نو عمرا خان د خپلو ملګروسره د منډا قلعه پريخوده اوافغانستان ته ورسيدو۔ نو د جلال آباد ګورنرشاد محمد خان ئي هرکلے وکړه او د يوي دستي سره ئي د افغاانستان باچا عبدالرحمن له وليږلو۔ بيا روستو افغان حکومت عمراخان له د سردار بهادر خطاب هم ورکړو۔ چي دعمراخان بابا متعلق پرويش شاهين د سوات وائي"بےننګي تا وکړه جانانه د جينکو پيغور دي ماته پريخودو"بيا مخکښي وائي" که چرے تاسو دعمراخان ترکلاني سره ولاړ وي نوعمراخان ترکلانے به ولي کابل ته تلو اوعمراخان به دا وئيل چي زه غټوغټو پټکو خرص کړم زه سحر خرسيګم،ماښام خرسيګم او ماسختن خرسيګم "بيا عمراخان د امير عبدالرحمان خان سره په کابل کښي سياسي پناه واغسته چي امير عبدالرحمان خان ورله څلويښت زره روپے هم د کال مقررکړي خودعمراخان په زړه کښي هميش د ترکلانو اوبيا د مست خيلو د بربادي داستان پروت وو چي د دي سره يي صحت ډير خراب شو اواخر چي

په کال 1904 ء کښي د دي فاني دنیا نه رخصت شو اود افغانستان په چاردهي کلي کښي دفن کړے شو۔ افغان حکومت د دا په درناوي کښي په واصل آباد اوکنړکښي هائي سکولونه جوړکړو چي د عمراخان غازي په نوم یادیږي ۔ الله پاک دي پري خپل رحم وکړي ۔

دغازي عمراخان د افغانستان ته د شړونتیا نه روستو د دا په نزدي خپلوانو کښي سید احمد خان بابا د مست خیلو خان وټاکلے شو چي د دي متعلق اسپیندیارخان مست خیل داسي بیان کوي"سید احمد خان عرف سپین ګیرے خان د قوم له خوا په د باندے ټوپۍ کیښودے شوه اودے په خپل جندول باندے خان شو چي دے شل کاله د جندول باړوي اوداسي د نوروقبیلو خان وو۔ چي دے په دي موده کښي ورسره د بردیرنواب اخوندخیل اورنګزیب خان عرف چاړا نواب اودهغه ځوي شاه جهان خان دیرش دودیرش جګړي کړي وي چي نواب په کښي ماتے خوړلے وو نو د طور، باړوي د جګړي روستو نواب شاه جهان خان دا غوښته چي د جندول دا اخري خان سید احمد خان نه جندول قبضه کړي اوخپل دولس کالن ځوي شهاب الدین خان اخوند خیل د نوروسرفهرستانو سره د جندول خان کړي په جندول، میدان اوبراول اوپه نورو ترکلانو علاقو په خلقو یي بګاراونورداسي ډول ډول ظلمونه کړي دي" ۔

د عمراخان د جندول نه د بے دخل کيدو نه روستو جندول دي خانانو ته حواله کړے شو لکه باړوا ئي سيد احمد خان له صدبر کلے ئي شرافضل خان له مسکينے ئي محمد شاه خان له ، کوټ ئي عبدالغني له شاهي ئي محمد زمان له چاودي ئي مير حسن خان له مونډا ئي عبدالمجيد خان له اودغه رنګ ئي دامتل زين الله خان ته حواله کړو ۔

په کال1914 ء کښي عبدالمتين خان چي د عمراخان غازي ځوي وو د جندول د قبيلو په خوښه د کابل نه راغے او د اورنګزيب خان نواب سره ميلاو شو چي نواب ورله د ميدان قلعه ورکړه عبد المتين خان بيا په جندول اوباجوړ کښي د سالارزو او د ماموندو په مدد سره لښکر تيار کړو اوپه کال۱۹۱۷ء کښې د تور په قلعه حمله وکړه چي دا قلعه د عبدالغني د ځامنو په قبضه کښي وه ۔او د عمراخان ملګري وو نو قلعه يي عبدالمتين خان ته حواله کړه بل طرفته چي سيداحمد خان ته پته ولګيده چي حالات راته خراب دي نود سيد احمد خان د ديرنواب سره پناه واغيسته او ديرنواب په کال 1918 ءکښي په طور قلعه حمله وکړه خوڅه نتجه راونوته د دي نه روستو د باړوي د ملګرو په غوښتنه عبد المتين خان باړوي ته روان وو چي د کامبټ سره ونيولے شو چي دا يو سازش وو اوعبدالمتين خان په

دير کښي نظر بند کړو چي روستو آزاد کړے شو خوکال پس بيا عبدالمتين خان په باړوي حمله وکړه او دا قلعه يي قبضه کړه د يو کال د تيردونه روستو دير نواب يوځل بيا په باړوي باندي حمله وکړه او يوځل بيا عبدالمتين ګرفتار کړے شو چي اووه کاله د اورنګزيب خان سره په قيد کښي وو چي د آزادۍ نه روستو يي په براول سرباټ کښي نظر بند کړے وو او اخر دا چي په کال 1944 ء کښي د دي فاني دنيا نه رخصت شوالله پاک دي پري رحم وکړي ۔

د دې نه وړاندي په کال 1895 کښي چي کله انګريزانو د دير د خانانو سره رابطے وکړي او دوي ته ئي يو قسم دهمکي ورکړه چي تاسو به مداخلت نه کوئ چي انګريز سرکار په جندول قلعه حمله وکړه بل خوا عبدالمتين خان د جام بهټي په جنګ ئي د انګريز سره اخته وو ۔ نو فرنګيان په بورقعو کښي د جندول دي قلعے له راغلو او د پناه غوختلو په بهانه ئي عمراخان ګرفتار کړو کله چي عبدالمتين خان خبر شو نو سيدها پيښور ته لاړو او د شپي په تياره کښي د ګونر کورته ننوتو۔ او د هلته نه يي ګونر جندول ته راوستو کله چي انګېزان خبرشول نو ګونر د باړوي په قلعه کښي بندوان شوے وو چي د هغي په بدل کښي عمراخان آزاد کړے شو ۔

په دغه وختونو کښي عيسوزي قبيلي ډيري ستړي کړي دي او د خپل خان مرسته يي ښه په نره کړي ده - چي په هغه وختونو کښي به د عبدالمتين خان متعلق داسي ټپي وئېلے کيدي لکه

جوړ په جندول کښي سم ماتم دے

عبدالمتين بيا په باړوه کړے يرغل دے

غوګين ډزيږي

په طور قلعه کښي بندوان دے

پيره داران تري ګير چاپيره څوکۍ کوينه

غوګين ډزيږي

اوبل ځائے چي د ريډيو پاکستان نه به هم نشر کيدو

متين په طور کښي قلعه بند دے

شنړا راځينه

وله وله غوګين وله

جرمنۍ درله راوړينه

وله وله غوګين وله وله

د دادا دوتر دي ځينه

باچا خان مته خيل

باچا خان چي په عيسوزي کښي شيخ خيل/شاهي خيل اوبيا په شيخ خيل کښي مته خيل وو۔ چي د خپل وخت يوتکړه سړے تير شوے دے۔ دا هغه وختونه وو چي تيموريه خاندان په دي سيمو ډيرکمزورے شوے وو اوپه دي علاقو کښي څه غټي وړي خانۍ جوړي شوے وي او داسي هم وئيلے شي چي د کومي علاقے مشربه نه وو۔ نوپه هغه علاقه به اکثر خلقو حملے کولي او د خلقوکورونه به يي لوټل بےعزتۍ به ئې کولي چي خلق ډير تنګ شوي وو ولي چي خلقو به د باهرني خلقو مقابلي يواځي کولي چي ډيره کړانه وه ۔ دغسي د ګمبير خواوشا سيمه ډيره بد آمنه شوے وه که په باجوړ، جندول اودير کښي د ابراهيم خيلو،مست خيلو او يا د اخوند خيلو خانۍ وي خو هغوي په خپلو کښي د يوبل سره په جنګ شوي وو اواکثر لري علاقے د خداے په درګاه پرتي وي او د هر سړي سره خپل غم وو که د چانه به غلا يا ډاکه اوشوه نو خلقو به

ځانونه نانګاره کول ـ وئيلے شي چي دا سلسله څه د ډيري مودي پوري راوانه وه ـ چي يو پښتون پري غوګ نه ګره وو او هر سړے د خپل کور ملک وو۔ د مشرانو د خلي وينا ده چي دا سيمه ډيره شړه اوځنګلي وه ـ که د چا نه به غلا اوشوه نو غل به د ي ځنګل ته ننوتو نوبيا به يي موندل ډير ګران وو نو د دي مقصد دپاره خلق جماعت ته راغونډ شو اوټولو مشرانو دا خبره وکړه چي مونږ به د کمي پوري يواځي يواځي د دي خلقو نه ځانونه بچ کوو پکار ده چي د نورو سيموپه شان ځان له يو مشر جوړ کړو۔ نوپه حاضره جمعه کښي دوي ټول په باچا خان باندي متفيقه شول چي دے به زمونږ مشر شي دا خبره د يادوني وړ ده ـ چي دي د ګمبير خلقو باچا خان خپل مشر کړي وو چي په دغه وخت کښي اخوند خيل په دير او مست خيل په جندول خانان وو چي ګمبير د مست خيل په تقسيم کښي وو چي روستو مست خيلو مته خيل تسليم کړو او د دوي دا وړه خاني يي په ځائے پريخوده ولي چي د دې نه دوي ته څه قسم خطره نه وه او اکثر به ورسره دوي کومک کولو۔ بهر حال دوي باچاخان خان کړو چي په دغه وخت کښي صرف خپل قوم مشر کړے وو چي دا يو دفاعي مشري وه د معلوماتو ترمخه باچا خان څه په کال 1760ء کښي خان شوے وو چي مخکښي هم

وئيلے شوي دي چي دا يوه وړه خاني وه چي د اولس د حفاظت او د خير خيګړي دپاره وه د محمد بشير خان ايم اين اے د خلي وينا ده "زمونږ چي کوم نزدي رونړه دي موسی' خيل،منديزي،خازوزي اوسين زونو دوې د دي شاهي خيلو يوه خاني جوړه کړه "بيا مخکښي خپل بيا ن داسي کوي"څه موده پس باچا خان خپلو وريرونو مړ کړو او داسي نور اووه کسان يي ورسره هم مړه کړو چي په دغه وخت کښي د باچا خان يو ورکوتے ځوي پاتے شو چي د مزدورۍ سره په کور کښي وو چي اکبر خان نامه يي وه دي مزدورۍ د ځان سره يوړو او د باچا خان وريرونو د خپلي خاني اعلان وکړوخوپه دوي کښي چي کوم ځوان خان شوے وو نوهغه ډير سخت مزاجه هلک وو چي د خلقو سره به يي ظلمونه کول ـ څه موده چي د دوي د خانے او شوه نو اکبر خان هم راځلمے شوے وو چي اکثربه د پلار د ملګرواودهغه په ډله پسي ګرځيدو اواخر دا چي هغه ډله يي ځانله راژوندي کړه او د خپل تره په ځامنو يي حمله وکړه چي د خپل پلار او د هغه کسانو بدله يي واغسته کوم چي د باچا خان سره مړه شوي وو بيا مخکښي بيان کوي چي د دي نه مخکښي د مست خيلو خاني پاتے شوے ده چي زمونږد مست خيلو سره ښه تعلق پاتے شوے دے په جندول کښي د هغوي ځانله

خاني وه او زمونږ ځانله چي زمونږ خاني د منډا د خوړنه شروع شوے وه او د موسی خيلو چي کوم ځائے دے کوم ته چي وچ خوړ وئيلے شي د دي نه شروع شوے ده او د زوړ براول سره سم اخوا اغوښتلي وه چي د سور کمر پوري وه چي دا خاني د هدايت الله خان په وخت کښي ډيره مضبوطه شوے وه"
-

دغه رنګ اکبرخان خپله خاني ډير په ډول شروع کړه ـ دي قبيلواکبر خان خپل خان اومنو ـ د معلوماتو ترمخه دا واقعات څه په کال 1770 ء خواوشا کښي شوي دي د اکبر خان نه روستو شهداد خان خان شوے وو د شهداد خان نه روستوپه کال 1820 ء خواوشا هدايت الله خان خان شوے وو۔ وئيلے شي چي هدايت الله خان په هغه وخت کښي په يوه وړه قلعه کښي اوسيدو۔ چي هغے ته به يي کوټ وئيلو ـ په دي کښي به نوکران هم اوسيدو د خان د خدمت دپاره چي په دي باندے دوه وړي مانړۍ هم وي کله چي هدايت الله خان شو او بل خلق هم ډير شوے وو نو دا بيا د ګمبير دا قلعه جوړه کړه ـ په دي باندے يي څلورمانړۍ جوړي کړي ـ په هدايت الله خان پسي بياپه کال 1884 ءکښي مکرم خان خان شو ے دے په دي وخت کښي په جندول کښي بيا

عمراخان خان شوے وو چي اکثريي دا خانان خپل ماتحت کړي وو او په کوز دير د محمد شريف خان خاني وه ـ محمد شريف خان په دغه وخت کښې د شيخ خيلو مرستيال وو نو په دغه وختونو کښي د ګمبير خانان د دې ځائے بے دره کړے شو اوګمبير مست خيلو په خپله قبضه کښي واغستو چي د دي متعلق محمد يارخان مست خيل خپل بيان داسي کوي"کله چي د مست خيلو او د نوابانو په مينځ کښي ناچافي پيدا شوه نو د دير نواب صيب د مست خيلو نه ګمبير په خپله قبضه کښي واغستو ـ په دي وخت کښي مست خيل خان يوسف خان د ګمبير خاني کوله چي د دير نواب يوسف خان د دي ځائے نه بے دخل کړواود يوسف خان په ځائے باندے د ګمبير خانان دوباره کينول چي په اصل کښي دا زمکه د مست خيل نه وه خوپه دغه وخت کښي مست خيلو دا ګمبير په زور نيولے وو " دغه رنګ د مکرم خان د خانے نه روستو ـ شاد محمد خان د ګمبير خان جوړ کړے شو بيا شاد محمد خان لا ژوندے وو اوپه دغه وخت کښي ډيرکمزورے شوے وونو د دا په ځائے بيا شاتمازخان خان شوـ محمد بشير خان وائي چي مونږ داخاني څه د ډيري مودې راسي راوانه ده چي په شاهي خيلو کښي د مته خيلوسره ده بيا زمونږ په کورنۍ کښي دا خبره د مخکښي نه راروانه

ده چي څوک به مشر وو نو هغه به خان وو بیا د دې نه روستو د آیاز خان دا پلار چي دے هم په دغه وخت کښي د مکرم خان دوه ځامن وو یو شاد محمد خان او دا نور هم خانان پاتے شوي دي د هغي نه پس هغوي شړونکي شو اوچي حالات ورته سازګار شو نوواپس راغلل چي په دي مینځ کښي تګ راتګ هم ډیرشوے دے" ۔

دغسي د شاتماز خان نه روستو په کال 1916 ء کښي بخت باچا خان د خپل ورور په ځاے خان جوړ کړے شو او وجه دا وه ۔ چي کله شاد محمد خان کمزورے شوے وو نو د دي رونړو په مینځ په خانی باندے اختلاف راغے چي دي نورو رونړو او د دوي ډلي د شاتماز خان په ځاے بخت باچا خان کړو اصل کښي دا فیصله د شاد محمد خان د وصیت مطابق وه خو بیا د روایاتو مطابق شاتماز خان مشر وو۔ بله غټه وجه د خسرو نواب صیب وه چي د شاد محمد خان د وخت مرستیال وو چي نواب صیب په مدد سره بخت باچا خان د ګمبیر خان شو او خسرو نواب صیب دا حکم وکړو چي دے به د پلار په ځائے خان یي او د هغه پښان حیثیت به یي برقرار یي ۔ د 1969 ء پوري بیا

بخت باچا خان د ګمبير خان وو خو چي کله پاکستان راغـے نو د لکه د نور خانانو د دا خاني هم ختمه شوه ـ

په تير وخت کښي د ګمبير خانانو کابل ته شړونتيا کړے وه ـ دوي هلته ډير وخت ميشته وو د ګمبير د خانانو سره ډير ملګري وو ـ په هغـے کښي مرحوم ادم خان،د فرمان علي بي خيل مشر تره دوي په دغه وختونو کښي ښي ډلي پري کړي دي ـ

په سياسي توګه که څه د اوائيم چي په عيسوزو کښي بشير خان ايم اين اے صرف سياسي هلي ځلي کوي نو دا به غلطه نه وي ولي چي نومورې د قومي اسمبلـے غړے او ضلع لوئردير صدر هم دے او ورسره د مالاکنډ دويژن جنرل سکرټري هم پاتـے شوے دے په ګمبير کښي په دي خانانو کښي محمد موبيار خان،جواد خان اوبيا د جرګي د مشرۍ حق بشير خان ته حاصل دے ـ د اکبرخان دوه ځامن ارجمند خان اوسکندر خان چي سکندر خان د ګمبير د سکول هيډ ماسټر هم پاتـے شوے دے دغه رنګ په کوټکي شاهي خيلو کښي مشري د ګجر خان سره ده چي بيا پکښي شاه بهادر خان،هاشم خان ،داؤد خان، ډاکټرشمس خان،حاجي هدايت الله خان هم د يادونـے وړدي ـ

شاهي خيل يوه لويه سياسي کورنۍ ده چي په څلور کلو کښي پاتے کيږي چي بادين،ګمبير،کوټکي،جيني کلي دي د شيخ خيلو د مشري کورنۍ اوس د ګمبپر خانان دي ـ په دوي کښي شاتمازخان، خان او د هغه کشر رو بخت باچا خان اخري خانان پاتے شوي وو ـ په جيني کلي کښي ملک لاجبر خان يو نر اوغيرتي مشر تير شوے دے د دي نه علاوه ملک علي حيدر خان،معمبر خان، شاتماز خان ،تاج محمد خان، نظر احمد هم د يادونے وړ دي ـ

د څوکنو ميا عمر صيب

ميا محمد عمر په کال 1674ء خواوشا د پنجاب په سيمه په فريدآباد کښي پيدا شوے وو ـ نوموړے د عيسی' زي د ذيلي ښاخ ايمل خيل سره تعلق لرلو ـ د معلوماتو ترمخه د مياعمر نيکه يو عالم دين سړے وو چي په هغه وختونو کښي به د افغانستان نه وچه ميوه راوړه او په لاهور کښي به ئي خرسوله کله چي کاروبار ئي مخ په وړاندے شو ـ نو سره د خپلي کوړمي فريدآباد ته لاړو ـ چي د ديني خدماتو په نتجه کښي مغل باچا شاه

جهان باچا ورله يوجاګير هم مقرر کړے وو ـ خو کوم وخت چې د خپل ځوي سره جندول ته راتلو نو په کالو خان کلي کښي وفات شو چي مرحوم ئي جندول شالکنډئ ته راوړو او هلته ئي خاورو ته وسپارو بيا چي کله د ميا عمر صيب پلار فريد آباد ته لاړو نو په دغه وختونو کښي قحط راغلے وو چي د څوکنو سعيد خان ملک هم په دغه ورځو په فريد آباد کښي ديره وو ـ نو هغه خپله لور ابراهيم ته ورکړه څه وخت روستو ابراهيم خان وفات شو او اوس د کونډے لور بوج د سعيد خان په سر شو خو چي کله حالات سازګار شو نو سعيد خان خپله لور او نمسي د ځان سره څوکنو ته راوستو ـ او مياعمر صيب ئي د ديني تعليم دپاره مشهور عالم دين محمد يونس او محمد فاضل پاپني صيب ته حواله کړو ـ د دي علماءو په وجه ميا عمر صيب د سبق جوګه شو ـ د ديني تعليم نه روستو د دا د علم چرچي په نړئ کښي شروع شوي ـ او داسي د لرے لرے نه به ورله طالبان راتلو ـ په دغه وختونو کښي د سيبُجني د آمير خان ورور غزن خان هم د علم حاصلولو دپاره په څوکنو صيب پسي تلےوو ـ

مياعمرصيب د اخوند د کوټو،النګار فقير ملګرے وو د مياعمر صيب مريدان به اکثر د خپل روحاني استاد په وينا د دوي سره په جهادونو کښي شامل وو ـ يو ځل

د افغانستان باچا احمد شاه ابدالي د پښتنو علماءو ملاقات له راغلے وو ۔ د ټولو سره میلاو شو نو په اخره کښي د میا عمر صیب ملاقات له لاړو ۔ د میا صیب صحبت په د دومره غالب شو چې د دا نه ئې لاس نیوه وکړه ۔ اوهم د دا مرید شو بیا روستو چي به څه قسم مشوره وه نو د خپل روحاني پیشوا میا عمر نه به ئي مشوره اغسته ۔ کله چي د افغانستان باچا د ریاست خبره کوله ۔ په دغه وخت کښي دي علاقے ته به ئي سجستان، زابلستان او یا خراسان وئیله نو میا عمر صیب د پښتنو د تاریخ نه خبر وو هغه ابدالي له مشوره ورکړه چي دي وطن له افغانستان نوم کیږده ولي چي دا د افغانا اولاد دے ۔ او ورسره ئي ورله د جهاد دپاره مریدان هم ورکړل ۔ دغه رنګ د مشهور حکمران او تاریخ دان حافظ رحمت خاني په فوځ کښي د میاعمر صیب مریدان هم شامل وو ۔ کوم چي د روهیل کهنډ پاني پت په جهاد د مرهټو پر ضد شوے وو ۔

میا عمر صیب د یو عالم دین سره سره یو لوې فلسفي،ادیب او ښه تاریخ دان تیر شوے دے ۔ په خپل وخت کښي ډیر کتابونه لیکلي دي چي په هغي کښي دا مشهور دي لکه د پښتنو نسب نامه،توضیع الماني،شمائل نبوي،خزینته الاسرار وغیره ۔

د ځوکنو ميا محمد عمر په کال 1776ء خواوشا کښي وفات شوے دے ـ چي ډير مريدان او په لکونو عقيدت منوکي ئي پريخودلي دي د دا مزار مبارک په چمکني يا ځوکنو پيښور کښي دے الله پاک دي پري خپل رحم وکړي ـ

دعيسوزو موجوده حالات

په عيسوزو کښي مست خيل د پګړئ خانان پاتے شوي دي ـ په دوي کښي اولنے خان مست علي خان وو اواخرے د پګړئ خان عمراخان بابا پاتے شوے دے چي د انګريز د لاسه افغانستان ته جلاوطن کړے شوے وو ـ حالانکه د عمراخان نه روستو سيداحمد خان عرف سپين ګيرے خان او بيا څه وخت عبدالمتين خان دعيسوزي د طرفه خانان جوړ شوي وو خو دوي ته د پښتو د دور خانان نشي وئيلے ولے ـ په دغه وخت کښي د تورو سپينو مالِکان بيا انګريز حکومت او يا اخوند خيل وو ـ البته په عيسوزي کښي بيا شاهي خيلو کښي مته خيل هم خانان دي چي د دي متعلق محمد يار خان مست خيل د شيني کلي وائي چي"په عيسوزي کښي د مست خيلو نه علاوه د پګړئ خانان نشته خو د کوټکي اود ګمبير خانان دي چي په عيسوزي کښي شيخ خيل خانان دي باقي د شاهي خيلو ټولي قبيلي ته

ملکان وئیلے کیږي دغه رنګ ملک علي بي خیل ته وئیلے شي بیا ملک موسی خیل ته وئیلے شي په دي کښي دا ټولې غټي ملکی داسي نشته څنګه چي په میدان وغیره کښي داسي دي ـ البته دا ټول ملکان دي ـ بیا مخکښي وائي چي عیسوزے ټول ټول په ټوله په جندول کښي اوسیږي ـ

عیسوزے د منډا نه په نمرختیزنه چي پورته راځي نوپه ډهیری ټول موسی خیل پراته دي مشرق طرفته د سړک د منډا نه بیا چي په مینځ کښي د میا صاحب سیری ده چي د دې نه واوړي نوبیا مست خیل شروع شي ـ د هغه چواتري د شمال مشرق ته به دغه سیمه کښي علي بي خیل پراته دي د بادین نه پوري د مایارو پورے اوبیا د کوټکي اود میا بانډي پوري شاهي خیل پراته دي د مست خیل سره صرف یو د خوري پاؤ چي مخکښي به یي ورته د خوري پاؤ وئیلوپه هغه یو پاؤ باندے مست خیل اباد دي چي قندارے،تنګے او د پورے کلي خانان دي د سوري غونډی پورے بافي شیږنیم پاؤا جائیداد د حکومت سره دے که د جام بټی د خانانو سره څه جائیداد څه زمکه ده نو هغه اضافي زمکه ده هغه د مست خیل په حساب کښي نه ده ـ

په سياسي حلقه عيسوزي په سياسي حقله ښه دي چي د مختلف پارټيانو سره تعلق لري خو په غټه سطحه په کښي د ګمبير خان سياست کوي ـ په دي موقع د خپلي حلقے ايم اين اے دے که داسي عبدالرحمان خان ته اوګوري نوسياست کوي خو لا کامياب شوے نه دے محمد يار خان وائي" چي زمونږ ټول عمر مشري سردار عالم پاچا کړي چي دے په قوم سيد دے اود کامبټ اوسيدونکے دے"

په سياسي توګه او په تعلمي لحاظ جندول لګ کمزوي ښکاري چي پخوا راسي په جنګونو کښي اخته وو خو اوس په خلقو کښي سياسي او تعليمي شعور راغلے دے بله غټه وجه دا وه چي دلته نوابي دور راغلے وو چي په خلقو د تعليم دروازے بندے وي که بيا هم چا تعليم حاصل کړے دے نوهغه به د جندول نه باهر حاصل کړے يي عموماً د تعليم کمے دے ـ محمد يار خان نوره هم زياته وي" چي اوس هر څه بدل شوي دي زمونږ خاني د ملکي د لاندے ده د پخوا دا قيصه جُدا وه چي په هغه زمانه کښي چي به ملک وو او خان به يي نه وونو هغه به څه ملک نه وو او چي خان به يي وو او نواب به يي نه وو نو هغه به څه خان نه وو ـ چي نواب به وو او باچا به يي نه وو نوهغه به څه نواب نه

وو چي يوه سلسله د پښتنو په رواج کښي جوړه شوي وه"

د پخوا راسي يا مونږ ورته د يوسف زو د وخت ملکئ هم وئيلے شو چي دا په دير،سوات، باجوړ، بونير اوداسي په بلها ځايونو کښي د ملکئ او خانے دا سلسلے راوانے وي چي ملک به هغه سړے وو چي د هغه سره به لس اته زميدار وو نو هغه به ملک وو او د کلي اولس غټي مسلي به د خان مخي ته وړاندي کولي ـ هغه که د عشر جمعه کول وو يا د لښکر، د جنګ جګړو مسلي وي نو ملک به د خان په وساطت سره حل کولي دغه شان د خان سره به لس اته ملکان وو اوداسي د نواب سره به هم لس اته تنه خان وو چي په اوس وخت کښي ورته کابينه يا کونسل وئيلے شي ـ چي به کوم باچا وو نو دهغه سره به لس اته تنه نوابان وو نو هغه به يي باچا وو۔

دعيسوزي قبيلي په حلقه فرمان علي بي خيل خپله وينا داسي کوي" چي ايسوزي په جندول ثمر باغ چي پخوا به يي ورته باړوه ويله ـ په دي که تحصيل ثمر باغ تحصيل منډا په دي باندے دا قبيلي ابادي دي چي په عيسورزو کښي دوه کورنئ د خانئ دي ـ چي يوقوم مست خيل او يوه خاني د قوم شيخ خيلو ده"

عيسوزي په جندول کښي په اوسيږي چي علي بي خيل په شونټاله،دامبټ،سره ډهيرۍ،بالوده،اتڼ کلئ،پيا، دغه رنګ مست خيل په بارچونډۍ ،دامتل،حنيفيه،قنداري اوپه شينه کلي کښي ميشته چي محمد يار خان چي د ترکلاني د تاريخ يوپوهه مشر دے چي مست خيل سره تعلق لري ځما سره يي د دي کتاب په جمعه کولو کښي ډيره مرسته کړي ده ـ شيخ خيل په بادين ،جيني کلي ،ګمبير ،کوټکي کښي ميشته دي باډيدخيل په کامبټ ،مايارو ،مالټو باغ، بوکرۍ ،خانکي، اشاړ کور ، شونټاله، علي شيخ کنډو اوپه شيخانو کښي ميشته دي د فرمان علي خيل د خلي وينا ده" چي د نوابي په دور کښي د باډي خيلو نه جائيداد سرکاري شوي وو چي دوي د ميدان نه خانکي ته تللي وو "

موسی' خيل په شالکنډۍ،بازارک،موسی آباد کښي ميشته دي ـ منديزی په منديزوکښي ميشته دي چي اصل کښي منديزي د منډا نه رابره اود ثمر باغ نه ښکته په منديزي کښي اوسيږي چي داسي په کامبټ اوبالوده کښي هم شته چي دولت زي اوسين زي په سين زو کښي استوګن دي خازوزے په عارف کلي منډا کښي ميشته دي ـ

د جندول دي عيسوزي قبيلي هر وخت ملاتړ دپاره ډير ستړي کړي دي چي په تير وخت دي مشرانو د بالودي کلي ملک سرفراز خان،عمرخطاب،خورشيد ملک داتڼ نومي کلي شير کاکا،وکيل کاکا د سري ډهيرۍ ملک غني مرحوم د بيراړۍ ملک دولت خان،شاهي بخت خان د شونټالے،ملک سعيد الله خان چي تر افغانستان پوري يي جرګي کړي دي،غلام حاجي،ملک هميم روزخان،ملک فردوس خان ،شازولا خان د کامبټ نومي کلي نوشاد ملک د ټيپا کلي عبدالقيوم خان ډير ديادونے وړدي په اوسني وخت کښي فرمان علي بي خيل چي ترکلاني قومي تړون د ځوان کل د مالاکنډ دويژن چيرمين اود عيسوزي له اړخه د سکرټري اطلاعاتو خدمت کوي داسي د ترکلاني اوبيا دعيسوزي ځوانان د خپلي قبيلي دپاره ډير خد متونه کوي -

د اسماعيلزو تاريخ

اسماعيل بابا د موسى' بابا ځلورم ځوې وو چي د اسماعيل بابا بيا دري ځامن دي لکه نوره بابا چي اولاد يي په نوره خيل ياديږي د بل نوم اکا بابا وو چي اولاد يي په اکاخيل يادېږي او کشر رور د دوي قطب شاه

وو چي اولاد يي په قطب زې يادېږي چي اوس دا دي درے واړونه لوې لوې قبيلي جوړي شوي دي ـ

فضل رحيم نوره خيل سورې پاؤ د اسماعليزو په حقله وائي چي" د لر براوال نه د جامبټۍ نه ښکته او د اتنې درے پورے چي کوز چکياتې دے دا حدود د اسماعليزو دي ـ چي روستو دا قبيلي بيا خوري شوې دي بعضي قبيلي په جنګي ميشن کښي راغلي دي او زمونږ سره دلته آباد شوي دي يو قبيله چي تاجک دي دوي روستو راغلي دي دا د هغه وخت خبره ده چي روسيانو په تاشقند باندے حمله وکړه نو دوي دلته مهاجر شو چې د ډير علم خاوندان دي بيا نوره هم زياته وې چې د نوره بابا قبر ځما نيکه شير رحمان ماته ښودلے وو اوبيا يي راته دا هم وئيلي وو چي د ملک سدي بابا قبر په اطرافي ټانګۍ اديره او د کالوټ بابا قبر په وړ مامونډو کښي دے ـ ملک سدي اوملک مهمند د نور بابا دوه ځامن وو چي ډير اولاد ترينه جوړ شوے دے د مهمند بابا څلور ځامن وو چي بهادر بابا، کالوټ بابا،تانه بابا او عرب بابا يعني ارم زي چي په براول او ميدان کښي اوسيږي بيا په کالوټ دره کښي پنځه خيله اوسيږي چي شاموخيل،ګوهر خيل،مرادي خيل،فاضل خيل اوزين خان خيل دي د ملک سدي دولس ځامن په د اسلام پور په جنګ کښي مړه شوي

وو ـ چي سليمان خيل د ملک سدی په اولاد کښي شمار دے" ـ

دغه رنګ سيد خيل د بچه خيل خانان دي په دوي کښي عزيز الرحمان خان او دهغه ځامن دي چي اکرام خان پرنسپل دوي په لال قلعه کښي اوسيږي دغه رنګ د دوي څه کورنی په مخرنړو کښي هم استوګن دي ـ

نوره بابا چي اولاد يي په نوره خيل ياديږي چي اوس ترينه يوه لويه قبيله جوړه شوي ده ـ دوي په ميدان کښي آباد دي د نوره بابا قبر مبارک د کومبړ بازار نه بره په اديره کښي دے چي په دې ځاے کښي نوره خيل آباد دي د نوره خيلو سره په برخاني کښي اتمان خيل هم آباد دي د دېر سوات او باجوړ په ہو رپورټ کښې چې په کال 1906 ء کښې شائع شوے دے د هغې مطابق په نوره خيل کښي دا قبيلي دي لکه جابي خيل "عجب خان" بهادرشاه خيل، سيد خيل، توري خيل، کالوټ خيل، فاضل خيل، مرادي خيل، عابد خان خيل، بچه خيل يا باچا خيل ،تانه خيل،سلمان خيل، سليم خيل، علي خيل،شب زې،آرمزي،سردار خيل،عمراخيل،زين خيل،عالم خيل،بابا خيل چي په اکا خيل کښي هم بابا خيل شته خو هغه جدا دي ـ بل طاهر خان پرنسپل بهادر

شاه خيل زياته وې چې ما د خپل نيکونو نه اورېدلې دې چې سودې خيل يا سوتې خيل نوره خيل دي ـ

د اکا بابا اولاد په اکا درّه کښي اوسيږي چي په کښي دا قبيلي شاملي دي لکه کره خيل،ابراهيم خيل،برهان خيل، بابا خيل، کټورزي چي دوي په ا کا دره او په کوز ميدان،دير پائين کښي آباد دي داسماعيلزو اکثر مشران په دي خبره کلک ولاړ دي چي د کټوربابا اولاد په چترال کښي اوسيږي کوم وخت چي عمراخان مست خيل جندولي بابا د چترال په مهتر باندے حمله کړي وه نودوي ورسره په لښکر کښي تللي وو اوهلته ديره شوي دي ـ

دغه رنګ په قطب زو کښي غاور خيل،باور خيل، شيخوخيل او باچا خيل دي ـ د قطب شاه بابا قبر مبارک په کمبړ زيړي بابا کښي دے د قطب بابا اولاد په اننګوړیَ کښي آباد دے ـ

اسماعيل زوته په تقسيم کښي دير ميدان اوپه براوال کښي حيصه ورکړے شوے ده چي يو ته لر براول اوبل ته بر براوال وئيلے شي په بر براول باندے عيسوزي آباد دي چي عيسوزي او اسماعيلزي د ترکلاني ذيلي ښاخونه دي ـ بيا د اسماعيلزو سره يو طرفته د يوسف زو په کښوړیَ چي د انات خوړ په

نامه مشهور دے او بيا د باندی نه بره د اسماعيل زو د مست خيلو سره يوه پوله چي د باندکی نه اوخواته تهړيو خوړ دے چي د ډکي د خوړ په نامه هم مشهور دے په مغرب کښي ورسره د اسماعيل زو بريد دے چي اسماعيل زو کښي د خاني کوربهادر شاه خيل دي بيا په دي اسماعيل زو کښي ډير تکړه خانان او ملکان تير شوي دي او خاص کر په هغه وختونو کښي چي د نواب شاه جهان خان دير نواب نوابي وه ـ په هغي کښي مشهور ملکان دا وو ـ لکه ملک شاه نسيم خان چي نوموړے د کشمير په جنګ کښي جنګيدلے وو او غازي راغلے وو دغه رنګ رحماني ګل ملک،ملک معتبر خان،ملک عقل زرين خان،ملک محمد امين خان،ناګوتل ملک امير خان،ملک تور العلي چي د تور العلي ملک سره د ترکلاني د تاريخ يو لوې باب موجود ووچي د باغ ملک په نامه مشهور وو دغه رنګ ملک عبد الرحمن خان،نور بهادر خان،تانے خان چي دوي د نواب صيب مخالفت کړے وو چي بيا د پاکستان حکومت راغے او د نوابي او خان ازم يي ختم کړو او دا رياستونه په پاکستان کښي ضم شو ـ

بهادرشاه خيل

لکه څنګه چي مخکښي ذکر شوي دے چي په ماموندو کښي د مشرۍ کورنۍ ادي خيل، منارخيل اوماندسم خيل دي په سالارزو کښي اول شمه خيل او اوس ابراهيم خيل دي په عيسوزۍ کښي مست خيل او مته خيل دي نو هم دا رنګي په اسماعيلزو کښي د مشرۍ او د سر کورنۍ بهادرشاه خيل دي چي دوي په براول او باندۍ او مېدان باندي شتون لري ـ

د معلوماتوتر مخه داسي وئيلے شي چي په کوم وخت کښي په لوې باجوړ باندي د ابراهيم خيلوحکمراني وه بل طرف ته په جندول باندي مست علي خان خان جوړ کړے شوے وو ـ او داسي د اخوند الياس بابا اخوند خيل د اولاد خاني هم قائيمه شوې وه ـ چي اکثر به يي د يوبل سره جنګونه کيدل او د يوبل نه به يي علاقي قبضه کولے مخکښي هم د دي خبرے ذکر شوے وو چي په دي سيمه د مغلو حکمراني وه چي هغوي په اصل کښي د انګريز له خوا کمزوري شوي وو اوبل بيا چي خان ازم سر راپورته کړونو د مغلو هغه جوړ کړے شوې مشران دي خانانو د خپلي خانۍ لاندے راوستل چي هغوي يي صرف د سيرو پوري محدود کړو چي د هغوي اولادونه اوس هم په هغه سيرو

باندے ناست دي چي په دي علاقو کښي د میدان او براول سیمه هم وه چي کله به پري د اخوند خیلو کله به د ابراهیم خیلو خاني وه خو اصل کښي ابراهیم خیلو خاني پري زیاته چلیدل ده خو په اصل کښي اسماعیل زو ته دا خبره هم گرانه وه چي په دومر لویه قبیله کښي دومره څوک نشته چي د اسماعلیزومشري وکړي نو دي اسماعیلزو په خپلو کښي یوه جرگه وکړه چي وئیلے شي چي دا جرگه په دیر خان کلي کښې شوے وه چي د میدان رونړو په کښي هم په گڼ شمیر دي جرگي له راغلي وو د جرگي ټولو مشرانو دا خبره وکړه چي ترڅو پوري به مونږ د دي نورو قبیلو په مینځ کښي جنگیگو اوبل دغه مشران زمونږ نه لري دي اوبیا زمونږ خبروته څه ډیر اهمیت نه ورکوي پکار ده چي مونږ ځان له یو مشر جوړ کړو نو دوي بله جرگه د اسماعلزي په سطحه جوړه کړه چي د هر خیل نه په کښي د سر سړي وو چي په دغه موقع بهادرشاه بابا هم په دي جرگي کښي موجود وو چي دے په دغه وخت کښي یو جنجو او بارعبه سړے وو چي اکثر به یي د پښتنولي په کارونو کښي د خپلي قبیلي دپاره هلي ځلي کولي چي د قبیلي له خوا به دے اکثر سالار هم وو ـ د جرگي مشرانو بهادر شاه بابا خپل خان کړو بل طرفته که مست خیلو،ابراهیم خیلو او اخوند

خيلو که غوښتے هم نه نو بيا هم اسماعليزو ځانله خان جوړ کړو چي روستو دي خانانو دا خاني تسليم کړه ـ

کله چي بهادر شاه بابا خان شو۔ نو د اسماعليزو خلقو بهادر شاه بابا له د ديرخان کلے د سره ورکړو د شفيع الله کاکا د خلي وينا ده چي د بهادرشاه خيلو اولنے خان بهادر شاه بابا وو او چي بيا د دا د اولاد خاني په دره براول او ميدان باندي وه چي ګل محمد خان د ميدان اخري خان ګڼلے شي"۔

د معلوماتو مطابق داسي وئيلے شي چي بهادرشاه بابا ځانله د خاني د چلولو دپاره نوکران او يو لښکر جوړ کړو چي د دوي مثال به د فوځې ياد پوليس غوندي وو چي نوکر له به يي د تنخواه په بدله کښي پنځه کناله زمکه او يو ټوپک ورکولو۔ دغه شان يي په کلي کښي ملکان مقرر کړو چي هر ملک له به يي ماجب يعني شل کناله زمکه ورکوله چي د ملک مثال به د يو سالار يا کمانډر وو چي د لښکر مشري به يي کوله ـ په دغه وخت کښي بهادرشاه بابا ځانله په دير خان کلي کښي يوه قلعه جوړه کړي وه چي روستو بيا د دا اولاد ته پاتے شوې وه د بهادر شاه بابا د وفات نه روستو د دا ځوي محمدعلي خان خان شوے وو چي د دا خاني هم په براول او ميدان باندے وه ـ

غازي خان بهادرشاه خيل

غازي خان چي خپل نوم يي محمدعلي خان ياماندالي خان وو ـ د براول اود ميدان د بهادرشاه خيلو خانانو نيکه ګڼلے شي ـ چي اوس د براول په غټه مقبره کښي په خپل ابدي خوب اوده دے غازي خان د خپل وخت يوجنجو اوبهادر سړے تير شوے دے ـ د پلار له خوا ورته په ميراث کښي خاني پاتےشوے وه وئيلے شي چي غازي محمد علي خان د هندوانو پرضد ډير جهادونه کړي دي په کوم وخت کښي چي په افغانستان کښي هندوان اوسيدل چي روستو مسلمانان شوي دي دغه جهاد خاص د کنړ د اواسوالی د شيګل د نورستان پوري په دي علاقو کښي وو ـ چي څه خلق مسلمانان شول اوڅه د دي سيمي نه تختيدلي وو اودغه رنګ دا سيمه ترکلانو په خپل حکومت کښي شامله کړه ـ په دي جهادونو کښي ټولو ترکلانوښه په نره حيصه اغستي وه په کوم وخت کښي چي غازي بابا د جهادي تنظيم مشر وو نو په دغه وخت کښي په نورستان کښي د هندوانو يوه لويه او مضبوطه قلعه وه چي مسلمانانو پري ډير کوششونو کړي وو خو د هندوانو داسي حکمت عملي وه ـ چې دې قلعه ته دننه تل ګران وو بل

په دغه وخت کښي د ټوپک جنګ نه وو خو د تورے لوړ جنګونه وو چي په دي ډیرو مسلمانانو کوششونه کړي وو ـ چي د دي" صدو راسیدا" قلعه فتحه کول ګران وو کله چي غازي بابا دي قلعي ته ورسیدونو د دي محاصره یي وکړه چي داځه پنځه شپږ میاشتو پوري د ترکلانو لښکردي ته ناست وو خوچي کله د هندوانو سره غله ختمه شوه نو راباهر شو او یو خو نړے جنګ اوشوـ په دي جهاد کښي غازي بابا ډیري مړاني وکړي اود هندوانو باچا کټار نامه یي وه هغه یي مردار کړو چي اوس هم د نورستان دا قلعه د کټار په نامه مشهوره ده ـ په دي غزا کښي د غازي بابا سره د براول مولوي صاحب هم شامل شوے وو چي په اول کښي دا مانړۍ قلعه ډیره سخته شوے وه چي دي مولوي صاحب د عاګانو او د ترکلانو په بهادرۍ سره فتحه کړے شوے وه د دي عالم دین قبر مبارک د نوړه چناربابا په مقبره کښي اوس هم په هغه حالات کښي موجود دے وئیلے شي چي دا بزرګ په قبیله تاران وو ـ په دغه وخت کښي محمد علي خان ورته د نوري کلي سیرۍ هم ورکړي وه ـ

د دي غزا نه روستوغازي بابا د افغانستان پیچ دره هم په خپل وخت کښي د دغه کافرو نه وزګاره کړے وه چي د روس د انقلاب پوري دا دره د ترکلانو په قبضه

کښي وه چي دوي له به ترینه قلنګونه راتو۔ غازي بابا د دي سره سره ډیر سخاوتي انسان وو۔ په خپله سیمه کښي یي ډیرو میاګانو له سیرۍ ورکړي دي چي په دي کښي یوه سیرۍ د یوسفزو اود ترکلانو په پوله ده چي ډیره اهمه ده چي دا د براول په مشرق باندے وه او اکثر به د یوسف زو او ترکلانو په دي پوله به جنګونه کیدل نو دې غازي بابا په دي ځاے دا میا ګان کینول بیا ورسره د کنوړۍ دا غټ کلے یي ورله دغره د سره پوري چي په مغرب اړخ یي مست خیل خانان دي، دي میا ګانو له ورکړې وې چي په دغه ځائے بانډګۍ نومي کلي آباد دے چي روستو دا کلے هم میاګانو له ئې ورکړے وو۔ په نوره کلي کښي هم د غازي خان په وخت کښي هم ډیري سیرۍ ورکړے شوي دي دا هغه خلق وو چي دغازي بابا سره په غزا کښي شریک شوي وو۔ ناصرخان د دیر خان کلي وائي چي دغازي خان سره پنځه قلعه ګانے وي چي براول قلعه ، ډاړلکیند قلعه، دیرخان قلعه،سندرو قلعه اوسرباټ قلعه چي په دي کښي اووه سوه لښکریان به هر وخت موجود وو دغه رنګ غازي خان په هره علاقه خان اوپه کلي یي یو یو ملک کینولے وو چي هغه له به یي شل کناله اراضي او ورسره د لښکر دپاره ټوپکي ورکړي وي د دي سره به یي په هر کلي کښي انګر،

ملا،نائي،لرګبه،غوبه وغيره د خدمت دپاره ساتلے ووچي د خان د خدمت نه علاوه به ئې د اولس خدمتونه هم کول ـ د محمد علي خان اولاد د براول او ميدان په مختليفو سيمو کښي استوګن دي ـ

د ديرخان د قلعي متعلق امجد علي اتمان خيل په خپل يو رپورټ کښي ليکلي دي چي"رياست ديرکے ديرخان گاوں براول بانڈی میں غازی خان کےقلعے کے اثار جو اب اپنی شناخت کھو رہاہے -1889ء میں عمراخان ترکلانی نے اس قلعے پر قبضہ کیا۔ پانچ سال تک یہ قلعہ عمراخان ترکلانی کے زیر کنٹرول رہا -عمراخان ترکلانی کے حملے کےدوران دیرخان اور شریف خان سوات جلاوطن ھوئے۔ یہاں یہ بتانا ضروری ہے کہ دیرخان نواب شریف خان کا داماد تھا -عمراخان کی خانزم کےخاتمے کے بعد دیرخان قلعہ واپس غازی خان کے اولاد میں خان جان خان اور اسکے بیٹے گل خان کےزیر کنٹرول رہا۔

د محمدعلي خان د وفات نه روستوچي د دا نه څلور ځامن پاتے شو چي اسماعيل خان بهادرشاه خيل وائي چي د محمد علي خان څلور ځامن وو چي دوي ته څوارلس کلي ورکړے شوي وو چي دوه ځامنو يعني محمد زمان خان اوغلام رسول وو چي دوي له يي

براول ورکړو اوګل محمد خان او نور محمد خان له یي د میدان سیمه ورکړه " چي اوس هم په دي سیمو بهادرشاه خیل اوسیږي چي د دوي سره داسماعیلزي ذیلي ښاخونه هم استوګن دي ورسه میا ،ملا وغیره او داسي نورے قبیلي هم ژوند کوي ـ

په دغه وختونو کښي د کنوړۍ نه بره سورباټ نومي علاقه ده په دي باندے په هغه زمانه کښي اطرافي اوسیدو چي د دوي سره په څه خبره د یوسف زو جګړه جوړه شوه چي اطرافو په کښي ډیر تاوان خوړلے ووچي د دغه ځائے نه دوي بے دخل کړے شو۔ د دي متعلق ناصر خان بهادرشاه خیل د دیر خان کلي وائي چي کوم وخت دا اطرافي د دې سور باټ نه یوسف زو بے دخل کړو نو د باندۍ دي ترکلانو زمونږ د بهادرشاه خیلو سره مرسته وکړه او دغه سورباټ اود سورباټ نه بره چي ورسره څه نوري علاقے هم وي په دي کښي د باندي خان سردار خان هم زمونږ سره مرسته وکړه اود علاقه یوځل بیا اسماعیلزو اطرافو ته حواله کړه خو بیا کله چي د نواب صیب دور راغے نو شاه جهان نواب دعمراخان جندولي بابا نه روستو کوم زمونږ چي اتفاق او اتحاد وو هغه ټول ختم شو چي نواب بیا روستو غیر خلق سورباټ اوداسي نورو علاقو ته راوستل چي په دغه وخت کښي اسماعیلزې

او بيا ټول ترکلاني بے وسه شوي وو او نواب صيب په تيتر کوټ،ډله کلي،براول،بانډے باندي قبضي وکړي اوخپل جمداران،صوبيداران،نوکران اوداسي نو خلق يي پري کينول ۔

ځنګه چي مخکښي ذکر وکړے شو چي محمد زمان خان اوغلام رسول خان له يي براول اوګل محمد خان او نورمحمد خان له يي د ميدان سيمه ورکړي وه چي غلام رسول سره طاقت او د پلار د وخت ډله وه او په علاقه کښي يي ښه منلے شوے خان وو کله چي دواړو رونړو د زمکے تقسيم وکړو نو نورمحمد خان له يي د دير خان کلے او داسي نورے علاقے ورکړي او د جائيداد زياته حيصه ئي په زور ونيوله او خپله خاني يي قائيم کړه چي د اسماعيلزيِ قبيلي ورته څه قسم ګيله هم ونه کړه چي په دي بانډے ورسره محمد زمان خان خفګان وکړو خوبيا غلام رسول خپله خاني مضبوطه کړي وه ۔ په دي باندی د دواړو رونړو په مينځ کښي اختلاف پيدا شو خوبيا به محمد زمان خان صبر کولو اواکثر به د اختر مبارکيِ له هم په خپل ورور پسي د دير خان کلي نه تلو يوه ورځ چي محمد زمان خان د خپل ورور ملاقات له تلو نو په لاره کښي چا خبر ورکړو چي خان نشته اودے يي واپس کړوچي محمد زمان خان چا په لاره کښي مړ کړو اودغه اوټول الزام

يي په غلام رسول خان راغے چي غلام رسول خان په کښي د خاني نه معزوله شو ۔

کوم وخت چي اسماعليزو مشرانو د محمدزمان خان په ځوي بهرام خان باندے د خانۍ پګړۍ کيښوده او دے يي خان کړو چي د دا سره بيا د ترکلانو يوه يويه ډله وه اوخلقو پري ډير يقين کولو ځکه چي دے ډير تکړه او بارعبه خان وو چي د اولس دپاره به يي ډيري هلي ځلي کولے او اولس ترينه هم ډير خوشحاله وو۔ د دا خپلي خانے اغاز د دير خان کلي نه وکړو چي دا واقعات څه په 1850 ء خواوشاء کښي شوي دي ۔

په کال 1880 ء خواوشا کښي عمراخان خان شوے وو نو نواب صيب په ترکلانو باندے به حملے کولے او حال دا وو چي چا به د نواب خلاف آواز نه شو اوچته ولے خو بل طرفته دغه وخت کښي د عمراخان مست خيل جهادي تنظيم ډيرزورر نيولے وو اوبيا انګريز هم بد حال راغستلے وو نو په وخت کښي عمراخان په باندۍ باندے حمله وکړه چي د دې ځاے خانان يي بے دخل کړو چي د باندۍ د دير خانه پوري راورسيدو اګرچي څه خلقو يي مخالفت هم کړے وو بيا په شاهي کښي خيمه زن شو او اود دير خان ته جواب وکړو چي ته د دير خان قلعه په رضا پريږده اوراشه زما سره

خبرے وکړه چي معامله حل کړو په دي باندے بهرام خان جواب ولیږلو چي ګوره عمراخانه !زه ستا نه مشر یم او ته کشر یي ته راشه ځه به ستا میلمستیا وکړم خو عمراخان ته دا خبره ډکے شوه او په بهرام خان باندے یي حمله وکړه ۔ دا جنګ څه درے ورځو پورے اوشو نو د دې جنګ په حقله محمد یار خان مست خیل د شیني کلي وائي چي"په دغه زمانه کښي د دے خانانو په مینځ کښي یو جنګ جوړ شوے وو چي د یو خان مرسته به د باجوړد ناوګۍ خانانو کوله ولي چي باندې خان د ناوګي د خانانو ضم وو اوپه دویم طرفته فریق د مست خیلو خپلولي وه چي دوي هم د خپلي رشته دارۍ دپاره دې جنګ له تللی وو چي مست خیلو په کښي پوره نقصان کړے وو د دې جنګ وجه یا خو دهغه وخت ډله سیستم وو او یا خو دوي د نواب صیب مرستیال وو چي عمراخان بابا ته دا خوښه نه وه" د عمراخان سره په دي جنګ کښي چي کله د دوي سره اسلحه ختمه شوه اونور نقصان یي هم او شو نومجبورا"یي جرګي ته غاړه کیخوده ۔ چي په دي کښي بهرام خان سره عمراخان روغه وکړه خان جان خان چي د نواب صیب ضم وو نو عمراخان په د باندے اعتماد ونه کړو او دا خبره یقیني وه نو عمراخان د ته پناه ورنه کړه چي مجبورا"خان جان خان سوات ته

شړونتيا وکړه اوپه سوات کښي يي پنځه کاله تير کړو په دي جنګ کښي په دير خان کښي يونيم سل مړي اوشو کله چي خان جان خان سوات ته شړونتيا وکړه نود هغه ځائے نه افغانستان ته لاړو او د افغانستان د باچا عبدالرحمان خان نه يي د مدد غوښتنه وکړه چي هسي هم عبدالرحمان خان د عمراخان نه په يره کښي وو ـ چي چري زما نه حکومت قبضه نه کړي ولي چي په دغه وخت کښي عمراخان په قوت کښي وو نو عبدالرحمان خان خان جان خان له لښکر ورکړو چي په دي کښي د کنړ ترکلاني هم شامل وو ـ دا لښکر په دولس سو کسانو مشتمل وو ـ خود بده مرغه په دي لښکر وبّا راغله اوپه سرکانړو کښي ښخ کړے شو۔ دلته د معاهدے مطابق بهرام خان ته د دير خان کلے پاتے شو او د سندرول زمکه عمراخان ونيوله اوپه نواب صيب پسي د حملے کولو دپاره راوان شو خو چي کله نواب شريف خان خبر شو نو هغه د وړاندے نه سوات ته شړونتيا کړے وه بيا کله چي انګريز حکومت راغے او په عمراخان يي حمله وکړه او هغه يي د دې ځائے نه بےدخل کړو نو نواب صيب هم د انګريز په مدد سره خپل وطن ته راغےنو اول يي په بانډي حمله وکړه او د بانډۍ زمکه يي قبضه کړه او د بهادرشاه خيلو نوکران،جمداران وغيره چي کوم هغه

ټول یې په خپله قبضه کښي راوستو چي په دي ورځو کښي ورله فرنګي د" نواب" خطاب ورکړو۔ په کوم وخت کښي چي خان جان خان په سوات کښي جلاوطن وو نو سردار خان وړوکے وو اود خان جان خان په ځائے د سردار خان مور د دیر خان کلي خاني کوله چي دا ډیره تکړه او بارعبه بي بي وه چي د شاه جهان خان ترور او د شریف خان خور وه چي په دي موقع دي بي بي د نواب صیب خلاف کړے وو۔

وئیلے شي چي بهرام خان د پښتو د وخت خان وو روستو چي بیا څومره خانان راغلي دي نوهغه بیا د نوابانو زیر اثر پاتے شوي دي -چي د نواب به څوک هم خوښ وو هغه به خان وو چي دا یو ښکاره حقیقت دے چي په سوات کښي باچا صیب حکومت وو او په دیر کښي نواب صیب ناصر خان وائي چي د دي دیر خان کلي زوړ نوم نووره وو - نو دي د اسماعلیزو مشرانو د بهرام خان د نرتوب په وجه دي خان له دیر خان او د دي کلي نوم بیا دیر خان کلے شو۔ چي د وخت د تیریدو سره د دیر خان خانان د نواب صیب زیر اثر راغلو "۔

د بهرام خان په وخت کښي شریف خان په اسماعیلزوحمله کړے وه چي د کلپانړۍ په غر پسي

لاړو خو د اسماعليزو لښکر نواب له ماتے ورکړو کله چي په دويم ځل نواب په باندې باندي حمله وکړه نود گل محمد خان ځوي د نواب صيب سره ډير په نرتوب وجنگيدو چي د اسماعليزو په دي جنگ کښي ډير نقصان خوړے وو د دي جنگ نه روستو اسماعيلزو د نواب په خلاف خپل مهم شروع کړو چي هرڅه دي خو د نواب خلاف پکار خو دا جراءت چا نشو کولے ولي چي نواب صيب اوس ډير زورور شوے وو چي اسلحه او پوره فوځ ورسره وو چې د باجوړ ملکانانو د خار نواب ته سوال کړے وو چې د الله د رضا دپاره مونږه د دې سړو نه خلاص کړه ـ د معلوماتو ترمخه په اول ځل باغ ملک د نواب صيب په خلاف خپل آواز اوچت کړو چي په ترکلانو کښي د دا اواز لکه د اورر خور شو چې د دې ځاے نه کمال ملک لاړو او درے کاله په باجوړ او داسې په نورو ځايونو وګرځېدو او خلق ئې متحد کړو چې د دې نه ځان خلاصول غواړې تاسو زمونږ سره مرسته وکړئ چي په دې باندے د نوابي د دور د ختمه ولو دپاره اسماعيلزې او ايسوزي لاړو باجوړ ته او هلته د زندارے د چيني په خوا کښي د نواب خلاف ئي جرګه وکړه چي په دي جرګه کښي د اسماعيل زو او د ايسوزو خانان او ملکان په شريکه وو بيا د دي نه روستو رحماني ګل،تانے خان بابا

تحریک شروع کړوچي د دي مشري تانے خان کوله ـ بیا دا مشران د ایوب خان فیډ مارشل یو مالي وو چې اسلم کاکا نامه ئې وه او ترکلانے وو اولاد ئې په تخت بهایٔ کښې اوسیږي هغه دوي د ایوب خان سره میلاو کړو د دې ټوله خرچه عالم زیب خان کړې وه ـ چې دوي ورته د نواب د زوز ظلم او زیاتي قیصي وکړے صدر ایوب خان د دوي سره وعده وکړه چې ټهیک ده تاسو ځئ ځه به درله د نواب صیب غم وکړم ـ نو ایوب خان اول په والي سوات پسي لاړو چي پکار ده چې تاسو د پاکستان سره یو ځائے شي چي دا اولس د مستقبیل دپاره ښه ده ـ ګني زه به په تاسو فوځ کشي کوم ولي سوات والي پوحه سړے وو هغه د سوات د اولس په مرضیٔ په کال1969 ء کښي د پاکستان سره شمولیت وکړو بیا ایوب خان په شاه جهان نواب پسي لاړو چي ته ریاست دیر پریګده او د پاکستان سره شمولیت وکړه چي نواب انکار وکړو بیا روستو په 27جولائي 1969ء کښي جنرل آغا محمد یحیي خان دیر،سوات او چترال په پاکستان کښي ضم کړو او نواب صیب یي ګرفتار کړو او ریاست دیر په پاکستان کښي شامل شو محمد یار خان مست خیل وائي چي "اووه کاله د نواب صیب نه روستو خسرو نواب ،نواب دیر وو چي د 1895ء پوري شریف خان نواب وو اود

مست خیلو خاني انګریزانو ختم کړے وه چي د دې نه وړاندے د اخوند الیاس د اولاد خاني وه "د دې روستو چي په کال1969 ء کښي د نوابي دور ختم شو ـ

څنګه چي مخکښي ذکر وکړے شو چي بهرام خان نه روستو د دا ورور خان جان خان د دیر خان کلي خان جوړ شوے وو چي په خان جان خان پسي څه د لګي مودي دپاره فوجون خان، خان شو کوم وخت چي خان جان خان سوات ته شړونتیا کړے وه ـ بیا په فوجون خان پسي سردار خان خان شو د دا نه روستو ګل خان خان شوے ووچي دا بیا د نواب صیب د خلي خانان پاتے شوي وو خو بیا به هم د خپلي قبیلي مرسته به ئې کوله بیا په دغه وخت کښي اسماعیلزي او ببا ټول بهادرشاه خېل ډیر کمزوري شوي وو او چي د ذولفقارعلي بهټو دور حکومت راغے او د کسانې جنګ شروع شو نو د اسماعلیزو نه څه چي د ټولو ترکلانونه خپلي نیکني زمکے غیرو خلقو له لاړے په څه زمکو کیسونه شروع شو او کومي زمکے چي اخوند خیلو نیولے وي نه هغوي ته او نه بل پښتون ته میلاو شوي ـ

وړاندي د دي خبرے ذکر کړے شوے دے چي محمد زمان خان او غلام رسول خان ته براول اوبانډۍ میلاو

شوي وو چي اوس په کښي هم بهادرشاه خیل اباد دي د نه علاوه ګل محمد خان او نور محمد خان له یي د دیر میدان سیمه په ویش کښي ورکړے وه چي ګل محمد خان په خپل طاقت سره ځانله په بهادرشاه خیلو کښي دویمه خاني جوړه کړه چي اول به د براول نه خاني په میدان باندے کیده ـ چي دے نورو اسماعلیزو ګل محمد خان خپل خان جوړ کړے وو چي د دغي علاقے ملکانو د دي خان مرسته کړي وه ـ

جوهرعلي د بیړه ګام وائي چي"کله ګل محمد خان او نور محمد خان د براول نه میدان ته راغلو ولي چي په هغه وختونو کښي به د هر خیل خپلي سیرۍ اوورشوګانے وي اوبیا بهادرشاه خیل اسماعلیزو خپل مشران جوړ کړي وو نو ځکه یي دوي له په میدان باندۍ باندي هم زمکه ورکړي وه ـ جوهرعلي وائي چي ما د خپل نیکه نه اوریدلے وو ـ چي دا دواړه رونړه اول باندۍ ته راغلي وو ـ

کله چي دا دواړه رونړه په باندۍ کښي اوسیدو نو په دغه وختونو کښي د دواړه رونړو په مینځ کښي څه اختلاف راغے او نورمحمد خان ترینه بیړه ګام ته لاړو اوڅه خلق دا هم وائي چي دا یوه شړه زمکه وه چي نورمحمد خان په بیعه اغستي وه خو بهادرشاه

خيلو مشران وائي چي نه دا زمونږه سيري وه چي په حصه کښي نورمحمد خان له ورکړے شوي وه چي اولاد يي اوس هم هلته په بيړه ګام کښي ميشته دے ـ

ګل محمد خان چي کافي وخت په ميدان بانډي خاني کوله چي د ميدان واک اختيار به د براول د خان په لاس کښي وو خو ګل محمد خان د ميدان د خلقو په رضا د خپلي خاني اعلان وکړو د ګل محمد خان نه روستو سردار خان خان شو د سردار خان نه روستو سرور خان عرف حاجي خان خان شوے وو چي په د پسي قشقار خان خان شو چي روستو دا خاني هم د نواب صيب د حکم تابع شوے وه چي په بهادر شاه خيلو کښي اخري د پښتو د دور خان بهرام خان ګڼلے شي چي د دا د خاني په باره کښي ډاکټر ذاهد شاه ليکي" چې1897ء میں خانی ختم ہوئی اور میدان کو ریاست دیر نوابی میں شامل ہوا نوابی دور28 جولائی1969 ء تک رہا"۔

په دغه وختونو کښي به د پښتو جنګونه کيدل چي يوي ډلے يعني يو خان به په بل حمله کوله دهغه خاني به يي ماته کړه کوربه يي ورله تاله کړو اود خاني کومه زمکه چي به ورسره وه هغه به ترينه قبضه کړه اود

هغه په ځاے به خان شو چي دا د هغه وخت يو قانون او د وخت تقاضه وه ۔

د اسماعيلزو موجوده حالات

اسماعيلزي په براول او ميدان کښي شتون لري چي د دوي د مشرۍ کورنۍ بهادرشاه خيل دي اسماعيلزي په دي کلو کښي استوګن دي لکه بوړۍ، بيله چند، شګاړ، مخۍ،څوکۍ،خرکانۍ،ديرخان،سندرول،ډاړلکنډۍ،غور يجو،چينده کوټ ببړه ګام،ناقۍ،باِ بانډۍ ،ټوپي ،ميدان خوړ،کلپانۍ،مارانوکلے،مانده پټي،چم براول،باغ کلے، مانړي، ډيري،پاچا کلے،سوري پاو،سلام کوټ،براول بانډه،لبن، چي په څه کلو کښې ورسره بهادرشاه خيل هم ميشته دي بل کالوټ خيل،اطرافي اودغه رنګ د ترکلانو اسماعيلزو نوري قبيلي هم په دي کلو کښي اوسيږي چي په اصل کښي دا وطن د ترکلانو وطن دے چي په تير وخت کښي چي د بهټو صيب دور حکومت وو هغه اعلان وکړو چي په کومه زمکه څوک د لسو کالونه ناست ئي دا به د هغه يي چي د دي سره يوه خانه جنګي جوړه شوه او ترکلانو او ګوجر برادري په کښي ډير نقصانونه اوخوړل او داسي د پښتنونه دا زمکے غير قومونو ونيولے چي په دي باندے پښتانه بدحاله شوبيا چي چا ته خپله زمکه هم

پاتےشوے وه هغه يي په بيعه خرڅي کړي او ځان يي ترينه وزګار کړو خو اوس هم د اسماعيلزو سره څه لګ ډير څه پاتے شوي دي او کله چي په 1985 ء کښي د عربو اوبيا خليج ملکونو د مزدورۍ دور شروع شو ـ نو دي خلقو په زميدارو او داسي په نورو خلقو زمکے په بيعه خرڅي کړي هغه خلق مزدورو له لاړو او دا دي اسماعيلزو او داسي د نورو پښتنو نه يي دا زمکے واغستي بيا چي زمکه ډيره کمه شو نو دا خلق پښتانه هم د خليج ملکونو ته مزدورۍ له راوان شول چي دا يواځي د ميدان خلقو نه بلکه د براول خلقو هم داسي کړي دي اوس چي د تعليم دور راغے نو په براول کښي په پوره توګه په خلقو کښي د تعليم رجحان زيات دے چي ښه ښه تعليم يافته خلق په کښي شتے ـ چي د وطن په مختليفو سيمو کښي په ښه ښه عهدو کار کوي په براول کښي ډير خلق سياست کوي چي په مختليف پارټيانو کښي تقسيم دي او هر سړے د خپل حده پوري کوشش کوي چي د ځان سره سره د اولس ستونزو ته پام وکوي ـ چي په هغي کښي جهان عالم خان، بخت بيدار خان ،حيات الله خان دير خان،نوشاد ملک ،اسماعيل خان دير خان کلي،نديم خان،وکيل احمد خان چي دوي په کښي زيات د يادوني وړدي ـ

دغه شان په میدان کښي اسماعلیزي په شپږ یونین کونسلو کښي شتون لري چي میدان په درے تحصیله مشتمل دے لکه تحصیل لعل قلعه، تحصیل بانډۍ، تحصیل حیا سیرۍ بیا میدان په دوه غټو حیصو تفسیم دے چي یو ته لر میدان او بل ته بر میدان وئیلے شي - چي په میدان کښي مشهور کلي بانډۍ ده چي دي ته د بهادر شاه خیلو کلے هم وئیلے شي بل په میدان کښي باغ نومي کلي ډیر مشهور دے د دي غټه وجه دا ده چي په دیر نواب پسي په اول ځل تحریک د دي ځاے نه شروع شوے وو بیا د دي نه روستو د ګل ملکانو او دغه رنګ د ناګوتل ملکانو په دي تحریک کښي پوره حیصه اغستي وه چي هغه د چا نه پټه نه ده چي دوي هم د نواب په خلاف راپاسیدل چي تورلعلي ملک او د دا وررورجان ملک د تحریک اولنۍ حیصه وه -

په اوسني وخت کښي د اسماعلیزوخپلي پوره زمکي شته چي ورشوګانے ورسره هم شته لکه څنګه چي د بانډۍ د خانانو سره قیمتي زمکے دي داسې ورسره د کومبړ بازار دے د دي زمکه ډیره زرخیزه ده خو دا زمکے اوس هم خلقو په مشوانو،روغانو،ګجرو او داسي په نورو خلقو خرڅي کړي دي خوبیا ورسره څه نه څه شته چي خپل ژوند پري تیره وي په سیاسي توګه په میدان بانډۍ کښې ملک لیاقت علي خان،عبدالله شاه

خان اوخان شرين د يادوني وړ دي چي دوي د خپل قام د پرمختګ دپاره هلي ځلي کوي ـ

د ترکلانو په خپل مينځ کښي ويش

په کوم وخت کښي چي ترکلاني د مغل حکومت د لاسه د خپل ځانګړي رياست لغمان نه بےدره شو۔ نو دوي په خپل خاښي خيلو پسي د باجوړ سيمي ته راغلل او هلته ديره شول د دي نه وړاندے د شيخ ملي په ويش کښي دوي ته حيصه نه وه ميلاؤ شوي ولي چي په دغه وخت دوي په لغمان کښي د ډيرو ستونزو سره مخ وو۔ چي د شيخ ملي دا تقسيم څه په کال 1523ء خوا وشا کښي شوے دے چي د شيخ ملي د دوتر يا دفتر په نامه مشهور دے په دغه وخت کښي ترکلاني لا په لغمان کښي وو ـ بله غټه وجه دا وه چي د کاټلنګ په جنګ کښي ترکلاني نه وو شامل شوي او اتمان خيل او رودباري دي جنګ له راغلي وو چي اتمان خيلو ته د ارنګ برنګ سيمه ورکړے شوے وه او رودبارو ته هم حيصه ورکړے شوي وه ـ بيا روستو څه په کال 1540ء خواوشا چي ترکلاني د لغمان نه بے دره شو او د ملک مټه بن شمو په درخواست سره دوي ته د باجوړاو د دير څه علاقه ورکړے شوه چي څه ورځي پس يوځل بيا مغل باچا دا سيمه ونيوله او د سيد ابراهيم بخاري ته يي حواله

کړه چي بيا د دا په اولاد کښي چورک نومي سړي دا ويش وکړو خو حاجي دوست محمد خان د جندول وائي چي "ما د ظاهر صوبيدار صيب سره يوکتاب ليدلے وو چي په کښي يي ليکلي ووچي د باجوړ دا تقسيم سخي عرب خان مغل ګورنر کړے دے چي د هغه کتاب ويش څه داسي رنګ وو ـ "ترکلاني په خپل مينځ کښي تقسيم سالارزي، ماموند،عسي' زي او اسماعيلزي دي ـ د سالارزي حد ود موندړه نه شروع شوے دے او رسا د هغه ناوګۍ د محمد ګټه پوري رسيدلے دے ـ په بل طرف سالارزے د افغانستان د باړر پوري او ورسره کنړ،لغمانه پورے پروت دے اوبيا د براول نه والا تر تيمر ګرے توري تنګي پوري حدود يي ښکاره دي ـ دغه شان عمردراز حاجي باجوړے د ترکلاني د تقسيم په باره کښي خپل بيا ن داسي کوي "سالارزے په اسمار باندے پروت دے د اسمار په خاوره درے قومونه آباد دي چي ابراهيم خيل،محمود خيل او زمونږ شمه خيل قوم د اسمار رسا د افغانستان په خاوره کښي دننه د سالارزو خاوره ده بيا په سالارزو کښي چارمنګ هم د سالارزي حيصه ده"

په اصل کښي چارمنګ شمه خيلو ته د مشرۍ په وجه د سره ورکړے شوے دے چي په هغه وخت کښي د ملک مټه خان مشري وه چي دا د ماموندو سره تړلي

علاقه ده خو په دي دوه غټي قبيلي اوسيږي چي هلال خيل او محمود خيل دي او دريمه غټه قبيله په کښي ماموند دي چي د ناوګۍ پوري پراته دي بهرام خيل په چمرکند کښي استوګن دي ـ

خومحمد يار خان مست خيل د ترکلانو د تقسيم په باره کښي د دي تقسيم وضاحت څه دا رنګ کوي "د اسمار غلام خان ابراهيم خيل د وينا مطابق د ترکلاني تقسيم څه داسي دے چي ناوګۍ يي شمشرخان له ورکړه شوه شګي يي حسن خان له اټکي،چارمنګ او کوهے يي جهان خان له ورکړو د ميراث په طور باندےد ګنجګل د پولي پوري بيا کوټکي،چارمنګ،دوزخ شاه،اشکئي يي شريف خان له ورکړه کنړ،شيجاله يي شيخ محمد خان له ورکړه ـ شينجي،شيخ خيل کوټکے،جوني کلے،بادين کلے،ګنډير،ګمبيريي شيرعلي خان له ورکړو۔ سنګ پاره،اسمار يي موزي قوم له ورکړو۔ ميا بانډه، انذر بانډه، شالکنډۍ ،ګودر چورک بابا په خپله واغستو دا دي ياده وي چي چورک بابا د شيخ ملي بابا نه روستو د ترکلانو ويش کړے دے ـ چي د سيد ابراهيم بخاري نوسے او د دغه وخت يو رسيدلے ولي وو دغه رنګ شنګر اوشال يي د پيربابا نوسي سيد جمال بن عبدالوهاب له ورکړو ارنوۍ، بهار ګام يي بهرام بابا له ورکړو۔ ساؤ اوساؤ خان يي ګد بابا له ورکړو۔

ناړۍ يي امبار بابا له ورکړه ـ شيګام اوسونګ يي حيدربابا توغچي بابا له ورکړو۔ شړتن يي د ډبر د پولي پوري يي مولا سعيدالدين بابا له ورکړه ـ ډمه ډوله د چنګۍ يي ګدائي بابا له ورکړو۔ شيګل يي شيخ بابا له ورکړو۔ آمان کوټ اوشينګرګل چورک بابا په خپله واغستو۔ سرکانړو يي دولت بابا او دين بابا له ورکړو۔ نرنګ يي سرجان بابا له ورکړو۔ د سور کمر سيمه دري حيصي کړي چي په هغے کښي دريمه حيصه مسعود بابا له ورکړه دويمه حيصه يي ګوربز بابا له ورکړه اواولني حيصه قنداري قام ته پاتے شو۔ دير خاص،براول باندۍ بهادرشاه خيلو له ئي ورکړے شوه ـ مهر ګام دره اودواړه کاړونه يي حلال خان بابا له ورکړه ـ ګل دره يي نور خان بابا له ورکړه ـ پشتۍ عارف قلعه،سينزو،قندارے،باړوا،سوره غونډۍ ،تنګے يي مست علي خان بابا له ورکړو۔ دا دي چي چورک بابا او مست علي د يو دور سړي ښکاري چي په دي وخت د مست علي خان ذکر شوے دے چي حيصه ئي په خپله اغستي ده ـ منديزے، تنور ،حسينئ ،بازارک، چنګړۍ يي موسی خيل قوم له ورکړه شونټاله،بالوده د چوترے د پولي پوري دا يي علي بي خيل قوم ورکړو۔ سيپاهي خان ،کوټکي،تنډۍ ،مسکينے يي شاهد الله خان له ورکړو۔ تړله يي رفتار بابا له ورکړو۔ ميچنۍ او ناقۍ

يي چيلم بابا له ورکړه ـ کنډر اوچنګړی يي غالي بابا له ورکړه ـ ساړوکے، ناراضه، لاکو يي قلندر بابا له ورکړو ـ ارکنی ،تندوکه تختو منډی يي صاحب خان بابا له ورکړو ـ کامبيله يي بانجيربکنديل يي حميدالله خان بابا له ورکړو ـ لنډی ،امبارخانه،ساکوټ،بشيګل يي عليم شاه باباله ورکړو ـ باټواری يي شغرب بابا له ورکړو ـ کاډوکی يي ميرداد بابا له ورکړو ـ ګمبټ توره خيل قوم له ورکړو ـ پښت يي د ډاکيانو پولي پوري نيم کړو نيم يي شمه خيل او نيم يي ماموت خيلو له ورکړو ـ غاښي او تندرکه يي سور خان بابا له ورکړو ـ کوهي يي خوش رنګ بابا له ورکړو ـ دره پائن يي انګربابا له ورکړو ـ دره بالا يي ملنګ بابا له ورکړو ـ بانډګی يي ملک ولي بابا له ورکړه ـ ملا سيد يي آدم خان بابا له ورکړو ـ څوک چي د ميا عمر د څوکنونيکه وو ـ پالم خار يي سرمست بابا له ورکړو ـ چيلاګام يي پير خان بابا له ورکړو ـ بټاله يي قندهار بابا له ورکړه ـ شنګرګل يي د چورک بابا ځوي سيد محمد خان بابا واغستو دغه رنګ ډګرام يي فتح خان بابا له ورکړو ـ شګر ګام يي يارمحمد بابا له ورکړو ـ خوشين يي خاني بابا له ورکړو ـ ليټي ميرو بابا له ورکړه ـ چورک ګټګي، چنارګو سيد نور محمد چورک بابا ځان ته پاتے کړو ـ

دا څه حده پوري د ترکلانو تقسيم شوے دے بيا په دي کښي ډيري خبري داسي دي چي بيا روستو بدلے شوي دي يا خو چا خپله زمکه په بيعه خرسه کړے ده يا خو چا د بل سره بدله شوي ده يا يي خرسه کړي ده چي هغه اکثر د ترکلانو مشرانو ته پته ده چي په کوم وخت کښي يا چا خرسه کړي ده او چا دچا نه اغستي ده ـ

دا تقسيم به د افغانستان د مروري اودلته به د عنايت کلي پوري وو- چي کوم خسنړي به پاتے شو نو هغه به اګري ته تلو هر شل کاله پس به ماموند کنړ ته او کنړوالا به لوی باجوړ ته په کډه تلو چي په دغه وخت کښي د بابرمغل باچا مطابق جندول جدا وو چي په کال 1961ء کښي انګريز حکومت د لوی باجوړ نه جندول،ميدان او براول حيصي جدا کړي ګني د انار تنګي پوري دا ټولي سيمي د باجوړ حيصي وي ـ

خوامجد علي اتمان خيل د تواريخ باجوړ مطابق د دي ويش په باره کښي خپل نظر داسي وړاندے کوي ملاکنډ پيډيا ـ

باجوڑ کے حدود کی حد بندی بدست محمد قندھاری)۱۶۳۰-۱۶۴۰ (محمد قندھاری چورک بابا کا مرید خاص تھا۔ وہ ایک بابا جی کی اولاد میں سے تھا۔ چورک بابا) سید نور محمد بخاری نہ صرف ایک

ولی اللہ تھا بلکہ ایک منصف سیاست دان، ماہر جرنیل اور انتہائی بااثر شخص تھا۔ آپ کے حکم سے محمد قندھاری نے ۱۶۳۰ یا ۱۶۴۰ کے قریب باجوڑ کی حد بندی کی تھی۔ یہ حدود کئی سو سال تک بعینہ ویسے ہی چلے آرہے تھے۔ اس نے برنگ غوڑہ گٹہ ، درواز گئی) مہمند(، اوغز باغ)کنڑ(، بر اول اور چکیا تن اس کے حدود اربعہ مقرر کئے تھے۔ بعد میں کئی علاقے باجوڑ سے جزوی طور یا مستقل طور پر جدا ہوتے رہے۔ اور اس طرح باجوڑ کارقبہ سکھڑتا رہا۔ باجوڑ کی حدود تمام ادوار میں ایک جیسے نہیں رہے ہیں۔ کبھی کبھی اس میں ہزاروں میل دور شہر اور قصبے بھی شامل ہوتے تھے۔ اب یہ سکھڑ کر محض ۱۲۹۰ مربع کلو میٹر رقبے پر محیط ایک چھوٹا سا قبائلی ضلع رہ گیا ہے، جس کا چند سال قبل فاٹا کے خاتمے کے ساتھ خیبر پشتونخوا میں انضمام ہو چکا ہے۔ چورک بابا کی حد بندی کی رو سے اس میں یہ علاقے شامل تھے۔ جانب مشرق، دریائے پنجکوڑہ ظلم بابا اور خزانہ سے لے کر بالائی اور زیریں براول، چو کیا تن تک، مغرب میں علاقہ شنواری، صافی تا دامن کوہ شیخ بابا، زیریں اور بالائی چھمر کنڈ اور موجودہ ڈیورنڈ لائن کی دوسری طرف

لالپورہ، سور کی تیگہ ، سر کانو، دونی، ٹانگو، بار وگئی اور حصارہ وغیرہ علاقے باجوڑ میں شامل تھے۔ جانب شمال لامبر بٹ، ارنوئی، بریکوٹ ، ساؤ، ناڑئی، اسمار، شر تن، مرورہ اور دم کلے ، اور جانب جنوب نحقی اور کمالی کی پہاڑیاں، ساگی دانشکول اور امبار کے علاقے باجوڑ میں شامل تھے۔

د مغلو په خاښي خيلويرغل

په کوم وخت کښي چي خاښي خيل په کابل او ارغستان کښي ديره وو چي دوي د افغانستان سيمي ته به يی د خراسان سيمه ويله ـ په دي سيمو خاښي خيل ښه د طاقت خاوندان وو او بيا د يوسف زو مشران چي په دغه وخت کښي ملک سليمان شاه د يوسف زو سردار وو چي دا يو نه پټيدونکے حقيقت دے چي په دغه وخت کښي يوسف زيِ د تورو سپينو واکداران وو ـ اګرچي حکومت د تيموريانو وو۔ خو بيا هم د مغل به د خاښي خيلو نه په يره کښي وو ـ اوبيا مغل باچا ابوسعيد به هر وخت په دي سوچ کښي وو ـ چي چرته خاښي خيل رانه حکومت قبضه نه کړي او دا مکمنه وه ولي چي په دغه موقع خاښي خيل يو بل ته نزدي شوي وو چي يوسف زي او ګګياني په کابل او ترکلاني په ارغستان او په

لغمان پراته وو او اتمان خيل هم په دغه وختونو کښي په خاښي خيلو پسي راغلي وو چي دا ډير تورزن خلق وو خو د خپلي بے اتفاقئ په وجه مغل باچا په دوي حکومت کولو۔ د خبره دا يادونے وړ ده چي خاښي خيل په اصل کښي يوسف زي، ګګياني، رودباري او ترکلاني دي ۔

کله چي د مغل باچا حکومت وو نو په دغه وخت کښي ملک سليمان شاه د مغلو ملګرے وو چي د مغلو په هره خبره به يي آمين دعا د خير کوله چي په دي ترينه ترکلاني خفه وو بله غټه وجه دا وه چي د باچا په دربار کښي به يوسف زي په معززترين ځائے ناست وو نواکثر به يي نورو خاښي خيلو ته په سپک نظر کتو ۔ او که د مغلو به د نورو پښتنو سره څه مسله راتله نو دوي به د مغلو طرف داري کوله ۔ او دا خبره خو په ټولو خلقو ښکاره ده چي يو ورځ شيخ عثمان په لاره تيريدو چي ملک سليمان شاه يي وليدو چي د ابو سعيد ځوي مرزا الغ بيګ د ملک سليما ن شاه سره ناست وو۔ چي شيخ عثمان ملک سليمان شاه ته اوئيل چي ملکه !خيال کوه شهزاګان د چا په کار نه راځي نو سليمان شاه اوئيل چي شيخ صيب چپ شه شهزادګان د چا احسان نه هيرې ځکه چي ملک سليمان شاه د مغلو نه ډيره طمه لرله ۔

کوم وخت چي مرزا باچا شو نو هغه به هم په زړه کښي هر وخت دا يره ساتله چي چرته يوسف زي رانه حکومت قبضه نه کړي ولي چي په دغه وخت کښي چي به سليمان شاه د يوي خبري تائيد نه وو کړے نو اکثربه هغه فيصله نه کيده نو د دي يرے نه مرزا الغ بيګ په وړه وړه خبره د يوسف زو مخالفت شروع کړو او بل خابني خيل په خپل مينځ کښي هم بے اتفاقه شوي وو چي د دي متعلق خان روشن خان په خپل کتاب" يوسف زی قوم کی سرگزشت" کښي ليکي"چي د ملک احمد خان خور بي بي فاطمه د شبلي ابن توري ته يي کوژدن کړے وه چي شبلي په قبيله ګګيانے وو او يوسف زو ته دا خبره هسي هم خوښه نه وه ولي چي دوي د مغل باچا د دربار خلق وو او بله غټه وجه د يوسف زو او ګګيانو د يو بل سره د مخالفت وه او ګګيانو به د مغلو سره د يوسف زو خلاف پټي پټي منصوبے جوړه ولي چي ملک سليمان شاه په دي کوژدن ستومانه وو نو ابراهيم بن ګدائې بن تاجے د ملک سليمان شاه په صلاح د بی بي فاطمه سره واده وکړو کله چي شبلي ابن توري د دي نه خبر شو نو سيدها باچا له لاړو او هغه ته يي ټوله قيصه تيره کړه خومرزا ډير هوښيار سړے وو هغه د يوسف زو د کمزوري کولو دپاره اول ګګياني د مخې نه لري کول

نو باچا د ملک سلیمان شاه سره د ګګیانو خلاف مشوره وکړه کله چي سلیمان شاه خپلي قبیلي له راغے او بیا یي د ترکلانو د مشران چي ماموند،سالارزي،عیسوزي او اسماعیلزي وو په دي جرګه کښي شامل کړوچي د باچا مقصد ګګیاني د دي ځائے نه بے دخل کول دي نو د ترکلانو سردار ملک شمو خان ملک سلیمان شاه ته اوئیل چي داسي یو قسمه کار مه کوه چي روستو پري پښمانه یي ګګیاني که څه دي زمونږ رونړه دي مونږ ترکلاني خو ستا په هره موقع کښي ملګرتیا کړے ده او بیا دي هم ملګري یو۔ نو سلیمان شاه په دي خبره پوحه شو او ګګیانوته یي استازے ولیږو چي د باچا نیت تاسو ته خراب دے تاسو دا ځائے پریږدئ ۔

کله چي مغل باچا الغ بیګ د ګګیانو ځائے ته ورسیدو نو ګګیانو د اول دا ځائے خالي کړے وو څو ورځي پس ګګیاني خپل وطن ته راغلو۔ نو شبلي ابن تورے د باچا دربار ته لاړو او باچا ته یي ټوله قیصه تیره کړه چي یوسف زي او ترکلاني ستا خلاف منصوبے جوړئ ۔ او د دي حملے خبر مونږله ستا محسن ملک سلیمان شاه راکړے دے۔ چي د دي روستو اوس مرزا د یوسف زو او ترکلانو مخالفت په ډاګه ډګلۍ شروع کړو او دغه رنګ د ګګیانو په مدد سره مغل باچا الغ بیګ په یوسف زو حمله وکړه چي د ملک شمو خان

لښکر کابل ته راورسيدو چي په دي باندے د مغلو او ګګيانو فوځ په شا شو۔ چي مرزا ته پته ولګيده چي د يوسف زو اوترکلانوقابو کول ګران دي بل په دغه وختونو کښي اتمان خيل هم په دوي پسي راغلي وو چي د مرزا سره نوره يره هم پيدا شوه ۔ نو اوس مرزا د نرمي نه کار اغستل شروع کړو او څو ورځي پس يي ملک سليمان شاه او ملک شمو خان خپل دربار ته راوغښتواو په دي جنګ يي د شرمندګي اظهار هم وکړواو ورسره ډير انعامات ورکړل او ټولو د خاښي خيلو سردارانو ته يي د ډوډئ دعوت ورکړو چي په دي باندي ملک سليمان شاه رضامندي اختيار کړه حالانکه ملک شموخان په دي رضا نه وو۔

بله ورځ د يوسف زو،ترکلانو او اتمان خيلو سرداران د باچا دربار ته حاضر شو۔ چي د باچا د حکم مطابق د دوي نه اسلحه واغستي شوه ۔ او د يويو سپه سالار سره مرزا د ډوډئ دپاره وليږل چي دغه سپه سالارانو دا سرداران په يو وخت قتل کړو او ملک سليمان شاه اود دا وراره يي باچا ته وړاندي کړو۔ ملک سليمان شاه ته چي پته اولګيده چي څما سردران يي ټول مړه کړو نو مرزا ته يي اوئيل چي ما مړ کړه خو زما وراره ملک احمد ژوندے پريږده ۔ دغه رنګ د يوسف زو،ترکلانو واتمان خيلو اووه سو سرداران يي مړه کړو چي دا د

تاریخ یو سخت باب دے دا واقع ډیرو کتابونو صرف په یوسف زو پورے خاص کړي ده چي د تاریخ سره سراسر ناانصافي ده که حقیقت وکتلے شي نو د مرزا دومره لوې فوځ له یواځي یوسف زو ځنګه شکست ورکړے وو اوبیا اووه سوه سرداران ځنګه په یو وړه قبیله کښي کیدے شي چي هغوي د شړونتیا نه روستو د یوي وني لاندے خپله جرګه کړي وه ۔ دا د ذهین نه بالاتر خبره ده ۔ د ترکلانو د یو مشهور لیکوال الحاج محمد عارف کاکازي مرووره افغانستان د خلي وینا ده چي"په دي واقع کښي د ترکلانو ډیر سرداران شهیدان شوي دي چي اوس یي هم قبرونه د کابل د ښار نه باهر په سیاسنګ کښي موجوده دي چي د شهیدان یوسف زې په نامه شتون لري" او دغه رنګ مراد علي خان شمه خیل اومحمد یار خان مست خیل د دي ذکر کوي چي په دي کښي د ترکلانو سرداران هم شامل وو ۔

کله چي ملک احمد خپلي قبیله له راغي او دوي ته اوئیل چي اوس په دي ځائے مونږ ته ژوند تیرول ګران دي چي په دي موقع ملک شمو خان هم د ملک احمد خوا له راغے او ملک احمد چونکه کم عمره وو نو ملک شمو ورله د دې ځائے نه د جلاوطن کیدو مشوره ورکړه داسي وئیلے شي چي د مرزا الغ بیګ په دغه ملمستیا کښي ملک شمو خان نه وو نو ملک احمد قبیله

د پيښور په لور راونه کړه او د دي روستو ملک شمو لغمان ته واپس شو خو اوس وخت په وخت مرزا الغ بيګ به د ترکلانود نقصان لارے لټولي او اخر دا چي يوه ورځ ئي ځان ته دا ټوله علاقه وزګاره کړه او هغه خلق ئي ځان ته پاتے کړو چي د مرزا د لاس خلق وو۔ داسي وئيلے شي چي کوم خلق د خبر خاوندان وو مرزا الغ بيګ هغه د دي سيمي نه بے دخل کړي وو چي روستو د مغلو د حکومت نه بيا خپلو خپلو سيمو ته تلي دي

د لوي باجوړ سيمه

د باجوړ نقشه په مکمل توګه څلور ګوټي نه ده بلکه په مختليف ځايونو کښي پرته ده ۔ د باجوړ د مغرب په لوري افغانستان راځي ۔ چي په مغرب کښي شمالا" اړخ ته افغانستان کنړ پروت دے شمال مشرق ته د دير سيمه ده ۔ جنوب مغرب ته مهمند سيمه ده ۔ جنوب مشرق اړخ ته مالاکنډ ضلع پرته ده ۔ کوم چي چمرکند دے د ناوګۍ تحصيل سره نزدے دے ۔ د چمرکند او د چارمنګ چي کومه علاقه ده د افغانستان د سرکانړو اولسوالۍ سره يو ځاي ده ۔ لوې ماموند د افغانستان د مروري اولسوالۍ سره جوښت دے ۔ وړ ماموند د افغانستان د شورتن اولسوالۍ سره په پوله دے ۔ داسي

تحصیل سالار زيٖ د دانګام اولسوالۍ سره جوښت دے ـ دغه د اتمان خیل او د خار څه حیصه د تحصیل امبار سره جوښته ده ـ داسي د بوساق سره د دیر سوات سیندونه یو ځاے کیږي ـ چي دیر،مالاکنډ او باجوړ د یو بل نه جدا کوي ـ چي دا ځاے د ښکلا یوه کرشمه ده ـ

باجوړپه کال 1885ء پوري د مالاکنډ ایجنسئ برخه وه خو په یکم دسمبر 1973ء کښي د مالاکنډ ایجنسئ نه جداکړے شو او جدا ایجنسي جوړه کړے شوه ـ او د فاټا سره شامل کړے شوه ـ په کال 2018 ء کښي باجوړ له د ضلع درجه ورکړے شوه ـ د باجوړ سیمه په پنځه تحصیله مشتمل ده ـ لکه تحصیل سالارزيٖ(بابو قره) تحصیل چارمنګ تحصیل سورکمر تحصیل ماموند تحصیل رود ـ دباجوړ رقبه تقریباً 1290کلو میټر ده ـ

د عبدالحلیم اثر د وینا مطابق باجوړ څه شپږ زره کاله وړاندي تاریخ لري ـ چي د مصر په علاقه الباجور نه یو قوم راغلے دے اودلته آباد شوے دے ـ چي د مصر د قاهره سره نزدي "باجور"نومي علاقه اوس هم موجوده ده ـ

دغه رنګ عبدالعلي غورغشتي په خپل کتاب "لویه افغانه"کښي لیکي چي باجوړ د پښتو لفظ دے چي معني

ئي د غلے یو خاص مقدار دے" ځکه خو مشران وائي چي باجوړ خوري نو بد به ئي نه وئ ـ

په کوم وخت کښي چي سکندراعظم په 326ء ق م کښي په باجوړ د ناوګي په لاره په ارګائن باندے حمله وکړه ـ او په دي خلقو باندي ئي دوه لاکه ډنګر او داسي د غلي مقدار کیخودے وو چي پوهان ترینه د "باج اور "معني اخلي ـ

باجوړ یوتاریخي سیمه ده ـ چي په پخوا دور کښي د پښتنو په خاوره بد مت دور وو ـ د بدمت نه روستو هندوهیزم راغلے ـ چي پخوا د بامیانه پوري د ایران اوداسي د ګندهارا تهذیب چي د ټیکسلا ،تخت بهایَ ،سوات او بونیر پوي خور وو ـ دي نه روستو کله چي محمود غزنوي راغلے نو پښتانه د دا سره په صف کښي شامل شو د دي نه روستو د باجوړ په دي خاوره ګبرې،تاجک راغلل چي د بیا ترینه تیموریه خاندان یعني بابر باجوړ قبضه کړو بیا څه وخت روستو یوسف زي دلته آباد شو او په آخره کښي ترکلانو یا ترکانړو ته دا د باجوړ سیمه توراني پاتے شوه ـ چي د لوي باجوړ سره کنړ،براوال،میدان او جندول هم شامل وو۔ چي د پنجکوړي سیند د باجوړ او د باجوړ ترمینځه دے

ترکلاني قومي تړون

ترکلاني قومي تړون ولي جوړ شو د دي ضرورت په موجوده وخت کښي څنګه راغے د دي تنظیم څه داسي فائدے دي او د مستقبیل دپاره دا ولي اهم دے ـ ولي چي د قوم جوړښت د یو درد نه شروع کیږي ـ چي قام په هغي مجبوره شي ـ او په یو تولګي کښي راغونډ شي ـ او د خپل مسقبیل پاره یو لائحه عمل جوړ کړي ـ نو هم د دي مقصد دپاره د ترکلاني ځونان رابیدار شول اوخپل یو تنظیم ئي وتاکو ـ لکه څنګه چي وئیلے کیږي "ننګ د ګور د مړو ولاړیږي"هم په دي غرض د دیر جندول د سیمي ترکلاني ځوانان هم راویخ شول ـ ولي چي د وړاندے نه هم داسي په سیمه کښي مختلیف قسم تنظیمونه موجود وو ـ چي د خپلي خپلي قبیلي دپاره ئي د خیر خیګري او د مرستي کارونه کول ـ نو دي ترکلانو ځـوانانو دا اراده وکړه چي د خپل مظلوم رور مرسته وکړو ـ لکه څنګه چي وئیلے کیږي چي ربه مه مي ظالم کړے خو مه مي مظلوم کړے چي د چا د پښو د لاندے راشم ـ نو د دي مقصد دپاره حکیم خان مست خیل اول د مست خیل جرګه راغونډه کړه چي په دي جرګه کښي محمد یار مست خیل هم شامل وو چي د بیا دا خبره وکړه چي دا د عمراخان جندولي بابا خواهیش وو چي ټول ترکلانۍ راجمع کړم او انګریز سرکار

له ماتے ورکړم خو د هغه په ژوند دا ونشوه" نو دوي د مست خیل نه علاوه په دي خبره متفیق شو چي د مست خیل د تنظیم نه علاوه د ترکلاني تنظیم جوړول د وخت ضرورت دے ـ حکیم خان مست خیل وائي چي ورور ئي نه ئي نه د مټ زور ئي نه وي ـ بیا مخکښي خپل بیان داسي کوي چي مونږه بیا د محمد یار خان سره میلاو شونو هغه هم د یوالي او د ورورولۍ خبره کوله او د ترکلاني په تاریخ ئي پوره بحث وکړو چي بیا مونږه د پیښور،باجوړ اوسوات نه عنایت الله خان مست خیل ته د جرګي دپاره دعوت ورکړو چي دوي راغلل او داسي د نورو ځایو خلق چي ترکلاني وو په دي کښي شامل شو په دي جرګے کښي جهانګیر خان هم شامل وو ـ او د مست خیل تنظیم جوړ شو او محمد یار خان زمونږ صدر او ځه حکیم خان جنرل سیکرټري وټاکلے شو۔ بیا مونږ د عیسوزي په سر باندے چي علي بي خیل،موسی خیل،شیخ خیل وغیره تنظیم جوړ کړو حکیم خان وائي چي بیا ځه د احمد منیر ملک سره کیناستم چي داسي یو تنظیم مونږ جوړ کړے دے۔ نو احمد منیر دا خبره ډیره خوښه کړه ـ او بیا ئي ماله مشوره راکړه چي د ترکلان بابا د قبیلو مشران کینه وه نو د دا په مشوره مونږه په ګمبیر کښي یو میټنګ وکړو چي په هغي کښي زه د اقوام جندول له اړخه صدر

جوړکړے شوم ـ چي بيا د څه مسلو په وجه زمانه هغه ونه کړے شوه ـ خو بيا يو ځل ما نوي کل ته درخواست وکړو او نثار خان باډی خيل او د دا ملګرو د واټس اپ ګروپ جوړ کړو ـ چي نن ستاسو د وړاندے دے چي د وطن د ګوټ ګوټ نه په کښي ترکلاني شامل دي او خپل آواز بل ته د هوا په چپو رسي ـ

د قومي تړون په حقله محمد يار مست خيل وائي چي دا خواهيش ځما د 1990ء نه وو۔ چي مونږ دا د مست خيل په سر باندے يو فعاله تنظيم جوړ کړو چي په کال1998ء کښي مونږ دي له يو شکل ورکړے وو۔ چي بيا روستو څه حکيم خان،احمد منير،اسپينديار خان،جهانزيب ډاکټر صيب د ګمبير محبوب يار خان، فرمان علي بي خيل مونږه ډيرے غونډي وکړي چي بيا حکيم خان مست دا د شوشل ميډيا طرفته مخ په وړاندے بوتلو۔ کوم چي د ترکلاني په وړاندے دے ـ

دغه رنګ حاجي دوست محمد خان وائي چي بس دا د جندول د ترکلاني قوم يو ارمان وو ـ چي ميدان ،جندول ،ماموند، سالارزي د ترکلان په نوم راجمع کړي او دوي دي د ترکلاني قومي تړون د لاندے خپل کارونه شروع کړي ـ

ده دي تړون په حقله فرمان علي بي خیل خپل نظر داسي وړاندے کوي "چي ترکلاني قومي تړون د نن نه څه پنځه کاله وړاندے یعني په اګست2019ء کښي د ترکلاني قومي ځوانان راپاسیدو او د ثمر باغ په سرکاري حال کښي د قوم شاهي خیل،مندیزے،سین زے،دولت زے،علي بي خیل،موسی خیل،باډي خیل یو جرګه وکړه او د ځوان کل یو تنظیم ئي جوړ کړو چي یو الیکشن په کښي اوشو دا الیکشن فرمان علي بي خیل وګټو بیا د دي نه علاوه په غټه سطحه میټنګونه شروع شو ۔ چي زمونږ رهنمائي به حکیم خان مست خیل کوله دغه رنګ شفیق خان،عطاءالله خان،ثناءالله خان او رحیم شاه خان راجمع شو اودي مشرانو زمونږ سره ترکلاني قومي تړون کښي د ډویژن په سطحه تنظیمونه جوړکړل چي ترکلاني قومي تړون اوس زمونږ د شریکي تنظیم دے ۔ بیا دے مشرانو محمد یار خان ،دوست محمد خان،احمد منیر ملک میدان، براول، تل،پاترات،عشیری وغیره کښي تنظیمونه جوړ کړل ۔ دوي د ملک ریاض خان په حجره کښي خپل میټنګ وکړو دوئیم ئي په جندول،باجوړ،ماموندو او براول کښي تنظیمونه جوړکړل بیا داسي په جندول کښي دوي ټول رایوځاي شول او د حاجي دوست محمد خان په

حجره کښني يو قامي پروګرام وکړو چي اوس ترکلاني قومي تړون ستاسو په وړاندے دے ۔

ځما د اندازے مطابق که دا د ترکلاني تنظيم مخ په وړاندے لاړو نو ترکلاني قبيلي ته به ترينه ډيره فائده اوشو ځکه چي د دي په وجه هغه لرے رونړه رايوځاي شو کوم چي د ډيري مودي راسي د يوبل نه ناخبره وو۔

د موسمونو وختونه پيژندنه

چيت مياشت:

چيهت يا چهيتر:د 14 مارچ نه شروع شي او د 14 اپريل پوري وي ۔ بل د چيتر اندازه د دي نه لګي چي باران وريږي او د اوبو په سر بوړبوړاقي راون شي نو دا د چيتر علامات دے او که کال ورنده نه وي نو بيا چي کله د شړشمو ګيډے درمن ته اوغوزه ولے شي او يا د وربشو قوده غوسه شي نو د دي نه دولس ورځي وړاندے د چيتر مياشت شروع کيږي ۔

بيساکه مياشت:

پسرلے يا بيساک چي د 14 اپريل نه شروع شي او 14 مئي پوري ډوب سپرلے وي په دي ورځو اکثر بارانونه دومره زيات شي چي د مشرانو خلي وينا ده چي بيساک چي ورنده په خمبوکښي نه ځايږي ـ چي په دي موسم کښي مرغي اوازونه شروع کړي جوړه جوړه کيږي بل دغانټول ګلونه او ريدي ګلونه ګل شي د زمکے نه ګوجي، خريږي راوځي او بيا په اخره کښي د بکايانړي ګل چي وشي نو ورځي ډيري وغزيږي چي د مشرانو د خلي وينا ده چي لوګه به هله شي چي غانټول په ډبلوشي ـ او بل ځاے به يي ويل چي په هره ورځ راشه خو د بکايانړي په ګل مه راځه ـ

جيټ:د 14 ميئ نه شروع شي اود 14 جون پوري د جيټ مياشت وي ـ د جيټ په مياشت کښي ګرمي ډيره شي چي مشرانو به بيا دا خبره کوله چي جيټ شولو رابره ،ګرمي، زور شوه، کوزه بره ـ

هاړمياشت: د 14 جون نه شروع کيږي او تر 14 جولائي پورے وي ـ په دي موسم کښي ورځي ګرمي اوشپي يخي وي ـ په دي موسم کښي د غنمو فصل تيار شي ـ او اوبه ګرمی شي ـ په 22 جون نمر وګرځي او ورځې په کميدو شي او شپه اګديدو طرف ته روانے شې ـ

پشکال يا ساؤن: د 14جولائي نه تر 14 اګست پوري پشکال وي ـ چي په دي کښي د 14 جولائي نه 28 پوري صرف پشکال وي او د دې نه بعد تر 14 اګست پوري سخا پشکال يي ـ دي موسم ته د ميوو موسم هم وئيلے شي دي ته سخا پشکال ځکه وي چي هروخت په بدن خوله پرته وي ـ بيمارياني په کښي ډيري شي ـ او سيلۍ بند شي

بهادرويا منے: د 14 اګست نه تر 14ستمبر پوري د بهادرو مياشت يي ـ چي د دې متعلق وئيلے شي"مياشت د بهادرو ده ليوني ګډ شودينه" په بهادرو کښي ګرمي ډيره شي چي مشرانو به وئيل چي بهادرو په غنه او اسوج د خر په ـ ـ ـ (شا)

لنډے هاړ: د 24 ستمبر نه د 14 اکتوبر پوري يي ـ

اسوج: 14د ستمبر نه تر 14 اکتوبر پوري اسوج يي ـ

کاتک: د14 اکتوبرنه تر 14 نومبر پوري کاتک مياشت يي ـ د ،کاتک متعلق وئيلے شي چي کاتک شي نو وړے کوتک شي چي مونږه ورته مني هم وائيو ـ

مګهر: د 14 نومبر نه تر 14دسمبر پوري د مګهر مياشت يي ـ چي کله د مهګر مياشت شي نو د ګني فصل تيار شي او د ګړهې دپاره ګانړۍ چالو شي ـ

پوه :د 14دسمبر نه تر 14 جنوري پوري پوه میاشت وي ـ چي پوه شي ساړه تر پښو شي ـ

سله: د 14 نومبر نه د 14 مارچ پوري سله يي دا موسم عموما" وچ موسم يي بارانونه کم شي ـ

سپینه سله:د 14 نومبر نه تر 14 جنورئ پوري سپینه سله يي ـ چي کله پیرونه(ستورې)کوم چي په اسمان کښي د تلي شکل جوړه وي دا پیرونه د غر د سر نه یوه نیزه شي نو دا د سپیني سلي علامات دے چې په دي ورځو نمر په خپل ځاے ودریږي چي دولس ورځي ولاړ وي او په دریارلسمه ورځ په حرکت کښي شي ـ

ماګه:د 14 جنوري نه تر 14 فرورې پوري د ماګه میاشت وي ـ او چي ماګه شي ساړه(یخني) په شا شي ـ

بهګڼ:14 فروري نه تر د باره مارچ پوري د بهګڼ میاشت يي ـ په بهګڼ کښې نرغوټان (پیشو)نعرې شروع کړي ـ

توره سله:د 14 جنورې نه تر14 مارچ پوري توره سله يي ـ

هتکي:د بائیس دسمبر نه تر 14 جنورې پورې هتکې یې -

سختي هتکئ: د یکم جنوري نه د 24 جنورئ پورې سختي هتکې یې -

نرمي هتکې:د 24 جنورې نه د 2 فرورې پورې نرمي هتکي یې -

چې کله د جون 22 تاریخ شي نو اول په اسمان کښې یو ستورے ښکاره شي بیا شل ورځې بعد بل ستورے ښکاره شي بیا شل ورځې دریم ستورے ښکاره شي چې دا ټولے شپیته ورځې جوړې شي - سویل وخیږي اوبه یخې شي - په پشکال کښې اوبه نرمې وي او په ژمي کښې اوبه سخته شي چې د دې متعلق مشران وائي چې ګوپ له تورے نشي او سویل سمسورے نشي نو هغه به شولې نشي - کله چې نمر وګزي نو په شلمه ورځ ګپ شروع شي د اسمان نه دُوړه لاندے راشي - بیا شل ورځې چارمکخ شي نو په غرونو کښې خوړونه سپین ښکاره شي - بیا شل ورځې بعد سویل له غرونه ښکاره شي - اوبه زګه شي - یعني د یخني موسم شروع شي

مرستيال

١:محمد يار خان مست خيل شينه کلے

٢:الحاج محمد عارف کاکازئی مروره افغانستان

٣:ملک شاهين چيف اف ماموند باجوړ

٤:اسپيندیارخان مست خيل پيښور

٥:حبيب الرحمن جلال آباد افغانستان

٦:ملک اعزاز خان دير ميدان

٧:سميع الله خان بهرام خيل شانګله

٨:روښان شانګله

٩:فرمان علي بي خيل جندول

١٠:نثار خان باډي خيل

١١:فريد الله خان فريد شمه خيل سوات

۱۲:مراد علي خان شمه خيل سوات

۱۳:حاجي دوست محمد خان جندول

۱٤:سميع الله خان بابا خيل دير ميدان

۱٥:سبحان الله بهادرشاه خيل براول

۱٦:سردار باحوړے يوسف خيل

۱۷:امجد علي خان اتمان خيل

۱۸:محمد بشير خان مته خيل ګمبير

۱۹:ضابط حسن خان ملک شمه خيل افغانستان

۲۰:رضا شکيل مست خيل تخت بهائي

۲۱:ناصر خان بهادر شاه خيل براول

۲۲:جوهر علی بيړه ګام

۲۳:حنيم الله مانيال

۲٤:عاشق خان وړماموند باجوړ

۲٥:اورنګزيب خان باجوړ

۲٦:نورالحق سالارزئی افغانستان

۲۷:مولانا خان زيب باجوړ بابړه

۲۸ :جهان زيب خان دلسوز سوات

۲۹:فضل رحيم خان دير ميدان

۳۰:ناصرالسلام کاکازئی شيخ پوره پهلرون

۳۱: طاهر خان پرنسپل بهادرشاه خيل

۳۲: انصارالله بهادرشاه خيل

۳۳: عمردراز باجوړے

۳۴: سردار باجوړے

۳۵: جهان زيب دلسوز مست خيل مټه سوات

د کتابونو حوالے

١:تواريخ حافظ رحمت خان :محمد زديق خورشيد جهان

٢:باجوړ د تاريخ په رڼا کښی: مولانا خان زيب

٣:ژوندي قومونه اوويخ تاريخونه الحاج محمد عارف :کاکا زي

٤:ګمنام رياست: سليمان شاهد

٥:يوسف زئی قوم سرګزشت: خان روشن خان

٦:پښتانه قبيلي اوپيژني: لطيف ياد

٧:تزک بابری: ظهيرالدين بابر

٨:پښتانه د تاريخ په رڼرا کښي

٩:د پښتنو تاريخ: قاضی عطاءالله خان

۱۰:دا خاوره او دا خلق: ډاکټر خالد زیاد

۱۱:د برسوات تاریخ: خیر حکیم حکیم زئی

۱۲:تاریخ ریاست سوات: سرنزیب میا

۱۳:پښتانوکی تذکره: روشن خان

۱٤:پښتان قبائل: کامران سهدروی

۱۵:د پښتنو قبیلي شجرے: سیال مومند


۱٦:تاریخ دیر:حبیب الرحمن دیروي

۱۷:هدایت افغاني: هدایت الله سوهدروی

۱۸:پشتونو کی جرګےمحمد جمیل یوسف زے

۱۹:پښتان سراولف کیرو


Tarkalani Tribal Union
ترکلاني قومي تړون


افغانستان
ہندوستان
مردان
پشاور
کوہاٹ
خیبر
دریائے کابل
دریائے سندھ
خوشحال گڑھ
تلہ گنگ
میانوالی
جہلم
صوابی